

# پښتو

## ویژه کانکور

آموزشگاه عالی امید افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

**ليکوال: شريف لعلی**

# لړلیک


پښتانه اوپښتو.................................................. 2-4
پښویه.................................................. 5
د پښتو الفباء.................................................. 5
د پښتو ژبې غږیز او چپ توري.................................................. 5
مرستندویه توري.................................................. 6
مورفیم (کلمه).................................................. 8
نوم.................................................. 8
نوم د معنی له مخې.................................................. 8
نوم د جوړښت له مخې.................................................. 9
نوم د جنسیت له مخې.................................................. 9
نوم د تعداد له مخې.................................................. 11
د نوم حالتونه.................................................. 15
د پردو لغاتو قاعدې.................................................. 16
د پردو لغتونو د جمع کولو قاعدې.................................................. 18
نومځرى.................................................. 19
ستاینوم.................................................. 22
مصدر او د هغه نښې.................................................. 24
فعل له خپلو انواعو سره.................................................. 25-29
وییکي (ادات).................................................. 29
قید او ډولنه يې.................................................. 30
لومړی تمرین.................................................. 33-40
ادبیات.................................................. 42
ولسي ادبیات.................................................. 42
د پښتو ادبیاتو تاریخ.................................................. 43
لرغوني دوره.................................................. 43
دوهمه دوره(منځنۍ).................................................. 46

د پښتو ادبیاتو معاصره دوره ........ 49
دوهم تمرین ........ 52-57
نظم او نثر ........ 60
د پښتو نثر ډولونه ........ 61
د مانا او محتوا له مخې د نثر ډولونه ........ 62
نظم ........ 65
درېیم تمرین ........ 67-68
بدیع ........ 70
لفظي صنایع ........ 70
معنوي صنعتونه ........ 74
څلورم تمرین ........ 82-86
بیان ........ 88
د بیان د علم موضوع ........ 88
تشبیه او د تشبیه ارکان ........ 88-90
د تشبیه وېش ........ 91-93
مجاز ........ 93
د مجاز ډولونه ........ 93
کنایه ........ 95
پینځم تمرین ........ 96-101
پښتو نحوه ........ 104
نحوي واحدونه ........ 104
قافیه ........ 105
د قافیې توري ........ 105
د قافیې حرکتونه ........ 106
د قافیې ډولونه ........ 107
شپږم تمرین ........ 114

د پښتو ادبي مکتبونه.......... 115
روښاني ادبي مکتب.......... 115
د خوشحال خان ادبي مکتب.......... 115
د رحمان بابا ادبي مکتب.......... 116
د نازکخيالۍ ادبي مکتب.......... 117
د کندهار ادبي انجمن.......... 117
پښتو ادبي تذکرې.......... 118
پښتو ادبي ليکونه.......... 120
متلونه.......... 120
محاورې.......... 122
قاموسونه.......... 123
ملي ارشيف.......... 125
د لويې جرګې تاريخچه.......... 126
د لويانو غوره وينا وې.......... 127
اووم تمرين.......... 129-134
بهرني پښتو پوهان.......... 135-138
د شاعرانو سوانح.......... 138-159
ځينې ترلې موضوعګانې.......... 159
اتم تمرين.......... 161-164
ضروري لغات.......... 165
مؤخذونه.......... 194

# لومړی څپرکی

## دپښتو ژبې پښویه(ګرامر)


پښتانه او پښتو

د ګرامر تعریف

نوم

نومځری

ستاینوم

فعل

قید

سربل او ستربل

تاړي (وندونه)

وییکي (آدات)

## پښتانه او پښتو

له تاریخي او توکمیزو څېړنو څخه پوره معلومه شوې ده، چې پښتانه له اصله او توکمه آریایان او د دوی ژبه «پښتو» یوه لرغونې آریایي ژبه ده. دمخه تر دې، چې د پښتون قوم په اړه خبرې وکړو؛ لومړی باید د لرغوني توکم (ارین) قبیلو په اړه، چې پښتون هم ددې قوم یوه برخه ده، لنډ بحث وکړو.

په عمومي توګه د ارین یا آریانا نوم ډېر پخوانی دی. تاریخ لیکونکي وايي: هغه قومونه چې له میلاد څخه څو زره کاله پخوا د آمو له کرانه څخه په باختر، هند او ایران کې خپاره شول، آرین نومېدل.

د ارین کلمه په سانسکریټ کې د (آریا) او په زند کې د (ایریا) په نوم راغلې، چې د شریف او نجیب په مانا ده.

په ریکویدا او اوستا کې هم څو ځایه دا نوم راغلی او داسې یادونه شوې چې ((خدای تعالی د ارین توکم پیدا کړ)).

هیرودت (۴۲۵ – ۴۸۴ ق.م) هم په خپلو آثارو کې څو ځایه د (ارین) کلمې یادونه کړې او وايي چې ((میدي قومونه پخوا ارین بلل کېدل)).

په پښتو ژبه کې د ارین کلمې ریښه د (ار) او هم د (اصل او بنیاد) په مانا کارول کېږي.

مؤرخین وايي: چې آریایان له خپل لومړني ټاټوبي څخه تر لېږدېدنې او هجرت د مخه په یوه سیمه کې اوسېدل، چې (آریانا ویجه) او د ځینو روایاتو له مخې د (آریانا ورشه) په نامه یاده شوې ده. ویل شوي چې دا یوه غرنۍ سیمه وه، او اریایانو د ځای تنګوالي له امله په کوچېدو پیل وکړ، چې د آمو له سر چینو څخه خپاره شول. په (بخدي او باختر) کې یې مدنیت جوړ کړ. دغه لرغوني آریایي قبایل له میلاد څخه دوه نیم زره کاله پخوا ختیځ او لوېدیځ ته په کوچېدو اړ شول.

د لرغونو آریایانو په مذهبي کتاب (ریګویدا) کې د لسو آریایي قبیلو تر منځ د یوې جګړې پېښه یاده شوې. په هغو کې یو د (پښتون) قبیله هم ده، چې هغه د (پکته) په نوم یاده شوې او د دوی مشر (توریانه/ توري وهونکی) نبودل شوی دی. هغه (۱۰) آریایي قبیلې، چې د (ویسو میترا) په مشرۍ یې له (سوداس) سره جګړه کړې، دادي.

1. پکته (پکتویس= پکهت = پښتون)
2. بهالانا (د بولان درې خلک)
3. شیوا (چې د اباسین په غاړو کې اوسېدل)
4. ویشانن
5. انو (چې د پنجاب د راوي رود په غاړه کې اوسېدل)
6. دروهیو (دا قوم هم له انو قوم سره یو ځای اوسېده)
7. یادوو

8. توروانشا

9. پورو (د کندهار شاوخوا خلک)

همدارنګه د آریانا په دغه مذهبي کتاب کې څو ځایه نور هم د پکتها (پښتون) قوم یادونې شته او د دوی پادشاه (پکتها) ښودل شوی دی.

د ریګویدا په کتاب کې له لسو قبایلو سره یوځای او په ځانګړې ډول د پښتون قبیله مونږ ته دا راجوتوي چې له میلاد څخه لږ و ډېر (۱۴۰۰) کاله له نن څخه (۳۴۰۰) کاله پخوا هم پښتون ولس موجود و.

تر ریګویدا وروسته زموږ بل مهم تاریخي سند د (اوستا) مذهبي کتاب دی، چې له میلاد څخه (۱۰۰۰)کاله پخوا په بلخ کې لیکل شوی دی.

په دغه کتاب کې څو ځایه د (بخدي) نوم راغلی او تاریخ لیکونکي په دې عقیده دي، چې په ویدا مذهبي کتاب کې د (پکتها) کلمه (پ) په (ب)، (ک) په (ښ) او (ت) په (د) اوښتي دي. نو له (پکهت) څخه بخت، پخت، بخد= پښت جوړ شوی دی او لرغونی پکتها یا بخت وروسته (بخدي) د دوی په نامه د ښار نوم شو.

وروسته بیا د یوناني تاریخ لیکونکو په لیکنو کې د (پښتون) قبیلې او د هغوی د ټاټوبي یادونه په تفصیل سره شوې ده. په سر کې لومړنی یوناني مؤرخ او جغرافیا لیکونکی هیرودت(۴۲۵ - ۴۸۴)ق.م دی، چې په خپله مشهوره جغرافیه کې د پښتنو نوم اخلي او د پښتنو هېواد د «پکتیکا» په نوم یادوي.

نوموړی لیکي چې ((دا سیمه د اندوس پر غاړه پرته ده، خلک یې ډېر غښتلي او مېړني دي، ددوی کالي پوستینونه دي، وسلې یې غشي او لیندئ دي، په دود کې باختري خلکو سره ورته والی لري)).

په همدغه وخت کې چې کله سکای لاس یوناني امیرالبحر د داریوش (۴۸٦- ۵۲۱)ق.م له خوا د عرب سمندرګې د غاړو د موندنې او کشف لپاره وګومارل شو، نو د پښتنو د ټاټوبي (پکتیکا) په لاره اندوس ته لاړ. نوموړی په خپله سفرنامه کې څو ځله د «پکتیکا » یادونه کړې ده.

وروسته بیا بطلیموس له میلاد څخه (۲) پېړۍ مخکې د پښتنو هېواد د (پکتین) په نوم یاد کړی او ویلي یې دي، چې دا سیمه د پارو پامیزاد سویل ته پرته او د پکتیانو استوګنځی دی.

له دې پورته او داسې نورو یادونو څخه دا جوتېږي، چې له میلاد څخه د مخه پېړیو کې هم پښتانه د یوم قوم او ولس په توګه خلکو پېژندل او د ریګویدا په کتاب کې یاده شوې (پکهت) کلمه او د یوناني مؤرخینو (پکتهي، پکتیس) او (پکتویس) یادونو تر منځ بدلون د یوناني ژبو لهجو له امله دي.

دا پورتنې نظریات وروسته لوېدیځو ختیځ پوهانو، لکه (ټرومپ او ګریرسن) هم منلې دي او د جغرافیایي موقعیت له مخې یې پکتویس (پښتانه) وبلل او دا یې د یوې علمي نظرې په توګه ثابته کړه.

اوس تاریخ لیکونکي او توکم څېړونکي په ریګویدا کې یاد شوي (پکهت) او د یوناني تاریخ لیکونکو (پکتویس) پښتون ولس ګڼي، نو د پښتنو مدنیت او ددغه ولس د نامه تاریخ ډېر لرغونی دی او لږ تر لږه یې تر (۱۴۰۰ق.م) پورې لرغونتیا رسېږي.

## پښتو ژبه

موږ مخکې د معتبرو تاريخي سندونو په رڼا کې معلومه کړه، چې پښتانه د يوې لرغونې آريايي قبيلې او ولس په توگه په( ۱۴۰۰ق.م) کې موجود وو. کله چې ولس او قوم شتون ولري، نو د ژبې شتون يې هم حتمي او لازمي دی.

د تاريخي څېړنو له مخې معلومه شوې، چې له ميلاد څخه (۳۰۰۰) کاله مخکې لرغونو آريايانو يا ارين قبيلې لومړی د اريک په نوم په يوه ژبه خبرې کولې او بيا څومره، چې خواره واره او يو خوا بل خوا وکوچېدل، ژبه يې هم لومړی په بېلابېلو لهجو او وروسته د زماني په تېرېدو په ځانگړو ژبو وېشل شوې دي.

په دغه لړ کې پښتو هم يوه لرغونې آريايي ژبه ده، چې د نسبتي (و) په زياتوالي سره له پښت- پکهت تېر ته منسوبېږي او پښت يا پکهت هماغه ستره آريايي قبيله ده، چې لږ و ډېر (۳۴۰۰) کاله پخوا يې د ريگويدا په سندرو يا مذهبي سرودونو کې يادونه شوې ده.

د زياترو ختيځ پوهانو په نظر (لرغونې پښتو، سانسکرېټ او اوستا) د خويندو ژبو په نومونو يادېږي، چې اوس سانسکرېټ او اوستا مړې او يوازې پښتو د يوې ژوندۍ ژبې په توگه پاتې ده.تر اسلام د مخه د پښتو ژبې کومه ليکلې بېلگه اوس زموږ په لاس کې نشته، چې دغې ژبې به څه ډول ليک درلود، خو دا چې په دغه سيمه کې (يوناني، خروشتي، آرامي) او ځينې نور ليکونه دود وو، پښتو ژبې به هم خامخا له دغو ليکدودنو څخه يو خپل کړی و.

کله چې په افغانستان کې د اسلام سپېځلی دين خپور شوی، پښتو د خپلې ژبې د ثبت او ليکلو لپاره (عربي ليکدود) خپل کړی.

په پښتو ژبې اوس له افغانستان او پښتونخوا سربېره د نړۍ په نورو هېوادونو کې تر پنځوس (۵۰) ميليونو زيات وگړي خبرې کوي.

## د ګرامر تعريف

هغه اصول او قواعد چې د ژبې داخلي جوړښت تشريح کوي،پښويه بلل کېږي. يا په بله وينا: هغه اصول او قواعد چې موږ ته سم ويل،سم ليکل او سم لوستل را زده کوي پښويه بلل کېږي.

**ژبه:** په لنډه توګه ويلای شو،چې ژبه د پوهولو او را پوهولو وسيله ده يانې موږ د ژبې په واسطه پوهېږو او پوهول کوو.

## د پښتو ژبې الفبې توري(ابيخې)

په پښتو ژبه ټول ۴۰ توري لري،چې په لاندې ډول دي:

الف، ب ، پ ، ت ، ټ ، ث ، ج ، چ ، ح ، خ ، څ ، ځ ، د ، ډ ، ذ ، ر ، ز ، ژ ، ږ ، ړ ، س ، ش ، ښ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، غ ، ف ، ق ، ک ، ګ ، ل ، م ، ن ، ڼ ، و ، ه ، ی

## د پښتو ژبې سوچه(خاص) توري

له دغو تورو څخه اته (۸) توري يې سوچه پښتو توري دي،چې د غې توري يوازې په پښتو ژبه ده. چې په نورو ژبو کې شتون نه لري او په لاندې ډول ښودل کېږي.

ټ ، ځ ، څ ، ډ ، ږ ، ړ ، ښ ، ڼ

## لس عربي مستعار توري

په پښتو ژبه کې لس عربي توري د مستعار په ډول راوړل کېږي، چې د پښتو الفبا توري بشپړوي. او دا توري په لاندې ډول دي.

ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف ، ق

## د پښتو ژبې غږيز(صدا دار) او چُپ (بدون صدا)

د پښتو ژبې له ۴۰ تورو څخه يې ۳٦ توري چُپ (ساکن) دي او څلور نور توري يې کمکي يا غږيز(صدا دار) دي چې عبارت دي له: ا ، و ، ه ، ی او نور پاتې توري ساکن دي.

**د پښتو ژبې ساکن توري:** هغه توري دي،چې د تلفظ په وخت کې د صوتي غړي يو بل سره نښلوي،لکه: ب ، ق ، ش ، ج او....

**ترجمه:** حروف واول (صدا دار) عبارت از حروف می باشد که در جريان تلفظ آن اعضای صوتی با هم ديگر تماس پيدا نمی کند.

❷ **د پښتو ژبې کمکي غږونه:** په پښتو ژبه کې دوه ډوله کمکي غږونه موجود دي، چې یو یې حرکتونه او بل یې واول توري دي:

**الف)حرکتونه:** عبارت له هغو حرکتونو څخه دي، چې یو توري په حرکت راوړي او په لاندې ډول دي:

1. زور: هغه ده چې آواز یې پورته خواته بیایي،لکه: ور ، غر ، غږ....
2. زېر: زېر د یو مایل کرښې په بڼه لیکل کېږي، لکه: عاقل ، فاضل ،وېر....
3. پېښ: هغه ده چې آواز یې د یو کوچنی واو غوندې وي،لکه: ګُل ، تجاهُل ، ګُوند ....
4. زورکۍ(زبرک): دا هم د یو مایل کرښه په بڼه لیکل کېږي،لکه: شل ، وچ ، مچ ....

**نـوت:** زورکۍ / زبرک در فارسي وجود نداشته بلکه تنها در زبان پښتو است؛ که از لحاظ تلفظ زبر به اندازه نصف الف و زبرک به اندازه نصف زبر صدا دارد.

**خج:** د آواز فشار ته ویل کېږي، چې په ځینو تورو باندې راوړل کېږي او د هغه په مانا باندې بدلون راوړي، لکه: غوټه یا غوټه او داسې نور

**ب) غږیز(صدا دار) توري:** هغه توري دي چې د تلفظ په وخت کې، سا نه بندېږي او په څلور ډوله دي:

ا، و، ی ، ه

**ترجمه:** صدا دار عبارت از حروف می باشد که در وقت تلفظ آن،جریان نفس کشیدن بند نمی شود.

❶ **الف:** دغه توری د کلمو په سر،منځ او پای کې راځي،لکه:اند،انا،لار،پلار،ژړا،نیا او....

❷ **واو او د هغه ډولونه:** واو په پښتو کې په څلور ډوله دي:

- **نرم واو:** نرم ویل کېږي او د مخه توری یې زور لري، لکه: پلَو،کندَو،لَو او داسې نور
- **خرګند واو(u):** هغه واو دی چې د مخه توری یې خرګند او دروند پېښ ولري،لکه: کچالو، شفتالو، ټاپو(جزیره) او....
- **اوږد واو(o):** هغه واو دی چې اوږد او نرم ویل کېږي او د مخه توری یې اوږد پېښ ولري،لکه: مور، اور، زانګو، پښتو، او داسې نور
- **کوچنی واو:** هغه واو ته وایي،چې د مخه توری یې سپک او لنډ پېښ لري،لکه: لومړی، تاسو، پوښتنه، او....

❸ **ی او د هغه ډولونه:** (ی) په پښتو ژبه کې په پنځه ډوله ده:

- **نرمه(ی/ay):** د نارینه نومونو په پای کې راځي،نرمه ویل کېږي ،د مخه توری یې زور لري او د بې ټکو ی په نامه هم یادېږي،لکه: سړَی، ژمَی، اوړَی، منګَی، لرګَی او نور

**نـوت:** این (ی)در آخر اسم مذکر استفاده می شود که حرف ماقبل آن همیشه زبر دارد و به نام (ی) بی نقطه یاد می شود.

**خرګنده (ي/i/):** درنده ادا کېږي او د مخه توری يې دروند او خرګند زير لري چې زياتره د جمعي،مغييره او نسبتي نومونو په پای کې راځي،لکه: سړي، لرګي، منګي، موچي، دوبي او....

الف ـ د جمع مذکرو نومونو په پای کې راځي،لکه: سړي، ښوونکي، منګي او....

ب ـ د مذکرد نسبتي ستاينومونو لپاره راځي، لکه: موچي، دوبي، کرزي او....

ج ـ د مفرد ښځينه نومونو لپاره راځي،لکه: دوستي، بياتي، ښادي او....

**نـوت:** اين ی به شکل e انگليسی تلفظ شده که حرف ماقبل آن هميشه زير دارد و به خاطر جمع کردن اسم های مذکر که با نرمه(ی) ختم شده باشد، استفاده می شود.

**اوږده(ې/e/):** د مخه توری يې اوږد زېر لري،اوږده ويل کېږي، زياتره د مونث نومونو په پای کې راځي او د کلمو په منځ او پای کې راځي، لکه: شيدې، مستې، منې، اېښودل، هېر، تېر او....

**نـوت:** اوږده (ې) به شکل a انگليسی تلفظ شده و در اکثر موارد در آخر اسم های مونث می آيد.

**زورکۍ واله يا مونثه (ۍ):** هغه (ی) ته وايي، چې د مخه توری يې زورکۍ لري ، يوازې د کلمو په پای کې راځي او تل د ښځينه نومونو په پای کې راځي،لکه: هګۍ، کړکۍ، نجلۍ، ماڼۍ، هوسۍ او....

**نـوت:** اين (ۍ) صد فيصد در آخر اسم های مونث می آيد.

**مخاطبه يا همزه واله (ئ):** د امراو نهي په وخت استعمالېږي، تلفظ يې د زورکۍ واله(ۍ) په څېر دی او تل د کلمو په پای کې راځي (می آيد)،لکه: وخورئ، کښېنئ، وکړئ، مه ماتوئ، مه ځئ او....

**نـوت:** اين (ئ) به نام های امريه، مخاطبه، فعليه و همزه دار ياد می شود که هميشه در آخر فعل های جمع مخاطب استفاده می شود.

**٤ ه او د هغه ډولونه:** په پښتو ژبه کې (ه) په دوه ډوله دي: ١ـ خرګنده يا لويه (ه) ٢ـ پټه او کوچنۍ (ه)

**خرګنده او لويه (ه/a/):** هغه ده چې د مخه توری يې زور ولري او تل د ښځينه نومونو په پای کې راځي،لکه: پاڼه، لښته، ځانګه، اسپه او....

**پټه او کوچنۍ (ه):** هغه ده چې د مخه توری يې زورکۍ ولري او د نارينه نومونو په پای کې راځي،لکه: زړه، پسه، نيکه او....

**نـوت:** (ه) بزرگ هميشه در آخر کلمه های مونث و (ه) کوچک هميشه در آخر کلمه های مذکر استفاده می شود.

## مورفیم (کلـمه)

هغه لفظ چې د یوې معنی د افادې لپاره له خولې څخه راوځي،کلمه بلل کېږي او یا په بل عبارت؛ معنا دار لفظ ته کلمه وايي، چې د کلمو د یو ځای کولو څخه کلام او جمله جوړيږي.

**مورفیم:** د ژبې ترټولو کوچنی واحد دی، چې د وېشلو وړ نه وي او که ووېشل شي خپله مانا له لاسه ورکوي او مورفیم په دوه برخو وېشل شوی ده.

❶ **مانا داره مورفیم:** پنځه برخې لري، لکه: نومونه، نومځري، ستاینومونه، فعلونه او قیدونه.

❷ **بې مانا مورفیم:** درې برخې لري، لکه: سربلونه، اوستربلونه، ادات، مختاړي او وروستاړي.

## مورفیم او څپه

څپه د هجا یا د سیلاب په معنا ده؛ کله که مو‌ږ د مورفیم څخه بحث کوو نو د څپې موضوع حتمن رامنځ ته کېږي ځکه څپه د مورفیم یو جز دی.

**څپه:** څپه یا سیلاب ژبني واحد دی، چې یا یو خپلواک آواز وي او یا له یوه خپلواک او یوه یا څو بیواکو څخه جوړه وي او په دوه ډوله ده.

❶ **واژه (خلاصه) څپه:** هغې څپې ته وايي، چې له یوه خپواک آواز څخه جوړه وي او یا په یو خپلواک آواز پای ته رسېدلی وي، لکه: زه، انا، ابا، انا، ته، بیا، ده او....

❷ **تړلې (بنده) څپه:** هغې څپې ته وايي، چې پر یو بیواک آواز پای ته رسېدلی وي، لکه: مور، خور، کتاب او....

## د کلمې ډولونه یا د کلام توکي

کلمې لاندې ډولونه لري: نوم، نومځری (ضمیر)، صفت، فعل، قید او ادات

### ۱ـ نوم

**د نوم تعریف:** هغه کلمه ده چې د یو شي، شخص، ځای یا د یو کیفیت د نومولو لپاره استعمالیږي، لکه: سړی، لرګی، وېره او داسې نور.

### د نوم ډولونه

❶ **د مفهوم او معنی له مخې د نوم ډولونه:** د مفهوم له مخې نوم په شپږ ډوله دي، چې په لاندې توګه بنودل کیږي.

❶ **خاص نوم:** هغه نوم دی چې یو ځانګړی شی یا شخص معرفي کوي او جمع نه لري، لکه: کابل، سپین غر، خوشال خان خټک او....

د یادونه وړ دی چې محض نوم، تخلص، لقب او عرف د خاص نوم په ډله کې راځي، لکه: شریف، شجاعي، نازوانا، وړکی او....

❷ **عام نوم:** هغه نوم دی چې په یوه عام شي، ځای او یا شخص باندې دلالت وکړي او یو نامعلوم شی معرفي کوي، لکه: سړی، لرګی، آس، نجلۍ او....

**نـوت:** که چېرې له عام نوم نه مخکې اشاري ضمیرونه راوړل شي د خاص نوم مانا ورکوي، لکه: دغه کتاب، هغه نندارتون، دا کتابچه او....

❸ **د جنس نوم:** هغه نوم دی چې په خپل همجنس په لږو او ډېرو باندې یو شان دلالت وکړي، لکه: اوبه، غنم، غوړي، تېل او....

❹ **ډلییز نوم(جمعیت نوم):** هغه نوم دی چې په لفظ کې مفرد او په معنا کې جمع وي،لکه: لښکره، جرګه، رمه

❺ **معنی(مانا) نوم:** هغه نوم دی چې مادي وجود ونه لري یا نه محسوسیدونکي شی پورې اړه ولري، لکه: عقل، پوهه، وېره او....

❻ **ذات نوم:** هغه نوم دی چې بهرنۍ وجود ولري یا محسوسیدونکی شی پورې اړه ولري، لکه: ډبره، لرګی، هوا، سړی، سندره او....

❷ **د جوړښت له مخې د نوم ډولونه:** د جوړښت له مخې نوم په دوه ډوله دي.

❶ **ساده نوم:** هغه نوم دی چې یوه مفرده کلمه وي او نورې اجزاوې ونلري، لکه: لاس، اور، رڼا او....

❷ **مرکب نوم:** هغه نوم دی چې له دوو یا زیاتو توکو څخه جوړ شوی وي، لکه: شیرشا مینه، سپین بولدک، احمد خالد او....

❸ **د جنسیت له مخې د نوم ډولونه:** د جنسیت له مخې نوم په دوه ډوله دي.

❶ نارینه(مذکر) نومونه

❷ ښځینه(مونث) نومونه

**نکته:** در بخش اسم مسئله جنسیت در زبان پشتو وجود دارد؛ بر علاوه اینکه حیوانات و انسان ها مذکر و مونث دارند، اشیا و اجناس نیز مذکر و مونث دارند اما در بخش اشیا مذکر و مونث بودن آن غیرحقیقی است یعنی مذکر و مونث بودن آن با منطق سازگاری ندارند.

حیوانات و انسان ها چونکه زنده جان هستند مذکر و مونث دارند اما اشیا و اجناس یا مذکر است یا مونث،مثلا: کلمه قلم به خاطر اینکه با حرف بدون صدا ختم شده است مذکر است و مونث آن وجود ندارد و یا کلمه کتابچه به خاطر اینکه با حرف صدادار(ه) ختم شده است مونث است و کتابچه مذکر وجود ندارد.

**نکته:** برای تشخیص انواع اسم های مذکر و مونث حرف آخر آن کلمه را بررسی میکنیم که نشانه های آنها قرار ذیل هستند:

**د نارينه نومونه نښې:** هغه نومونه چې په پای کې يې دغه نښې راشي نارينه نومونه بلل کيږي.

1 **نرمه (ی ـ ay)**، لکه: سړی، زمری، لرګی، منګی، نوی او....

2 **نرم (و ـ aw)**، لکه: پلو، لو، کنډو او....

3 **خرګند (و ـ u)**، لکه: تالو، چاقو، سالو، باړخو او....

4 **خرګنده (ي ـ e):** خرګنده يا په نسبتي نومونه کې، لکه: موچي، دوبي، ډولچي، شرقي او....

5 **کوچنۍ (ه)**،لکه: تره، وراره، زړه، نيکه او....

6 **بې غږ توري:** ټول هغه نومونه چې په آخر کې يې اصلي توري راغلی وي خو معنوي او سماعي مونث نه وي،مذکر نومونه دي، لکه: لاس، اور، مل، قلم، غل، ستن، برستن او....

**نوت:**تمام حروف بدون صدا نشانه های اسم مذکر گفته می شود به جز مونث های حقيقي، مانند: مور، خور، ترور، نږور او....

**د ښځينه نوم نښې:** هغه نومونه او صفتونه چې په پای کې يې دغه نښې راشي، ښځينه نومونه ګنل کيږي.

1 **اوږد واو(o)**، لکه: ښارو، پيشو، راډيو، زانګو، لامبو او....

2 **اوږده (ې)**، لکه: ادې، ناوې، ملګرې، مستې، شيدې او....

3 **خرګنده (ي/e)**، لکه: دښمني، دوستي، ښادي، قيچي او... د يادونې وړ ده چې خرګند(ي) چې په نسبتي نومونه کې د مذکر نوم نښې بلل کيږي.

4 **خرګند يا لويه (ه)**، لکه: ښځه، اسپه، پوښتنه، کتابچه، لښته، غرمه او....

5 **زورکۍ واله (ۍ)**، لکه: خولۍ، ډوډۍ، څپلۍ، څوکۍ، هوسۍ، زمرۍ او....

6 **الف (ا)**، لکه: خندا، ليلا، مسکا، ژړا، ملا او....

**نوت:** هرګاه الف در آخر اسم قرار بگيرد، مونث گفته می شود به جز مذکر های حقيقی و معنوی، لکه: ماما، کاکا، بابا او....

## د ښځينه(مونث) نوم ډولونه

مونث نومونه په پښتو ژبه کې څلور ډولونه لري:

1 **حقيقي لفظي مونث** (ساکښ نښه وال): هغه دي، چې د يو ساکښ نوم وي او د تانيث نښه هم پکې وي، لکه: چرګه، ښځه، پيغله، ادې، غوا، ميره او....

2 **حقيقي غير لفظي** (ساکښ بې نښې): هغه دي، چې ساکښ وي خو د تانيث نښه پکې نه وي، لکه: مور، خور، ترور، نږور او... چې دې ډول نومونو ته معنوي مونث هم وايي.

3 **غيرحقيقي لفظي مونث** (بې سا نښه وال): هغه دي، چې د بې سا شيانو نوم وي خو د تانيث نښې پکې وي، لکه: څوکۍ، غرمه، ژړا، پاڼه، رڼا، کتابچه، مستې او....

❹ **غیرحقیقي غیرلفظي مونث (بې سا بې نښې)**هغو ته وايي، چې د بې سا شیانو لپاره کارول کیږي او تانیث نښه هم پکې نه وي، چې دې ډول نومونو ته سماعي مونث وايي، لکه: میاشت(ماه)، ږمنځ (شانه)، بړستن (لحاف)، لار(راه)، مېچن (آسیاب دستی)، ستن (سوزن/ ستون)، ورځ (روز)، لمن (دامن)، غېږ(آغوش)، وربځ (ابر) او....

❹ **د شمېر له مخې د نوم ډولونه:** د شمېر له مخې نوم په دوه ډوله دي:

❶ **یوګړی (مفرد) نوم:** هغه دی، چې پر یو شی یا یو کس باندې دلالت کوي، لکه: هلک، ونه، لرګی، کتاب، لاس، سړی او....

❷ **ډېرګړی (جمع) نوم:** هغه نوم دی چې له یوه نه په زیاتو شیانو باندې دلالت کوي، لکه: هلکان، ونې، لرګي، کتابونه، لاسونه، سړي او....

**نـوت:** در زبان پشتو تمام اسم های جمع از مفرد با علاوه کردن بعضی از نشانه ها ساخته می شود که اسم های مذکر و مونث هرکدام از خود قاعده جمع کردن دارد.

## د نارینه نومونه د جمع کولو طریقې

مفرد مذکر نومونه د دغه لاندې نښو په راوړلو جمع کیږي (ي، ګان، یان، آن، ونه).

❶ هر مفرد مذکر نوم او صفت چې په نرمه (ی) ختم شوی وي، نو دوه حالتونه رامنځ ته کیږي.

**الف ـ بې سا:** په دې حالت کې نرمه (ی) په څرګنده (ي) بدلیږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ستوری | ستوري | بریالی | بریالي |
| اغزی | اغزي | ترى | تري |
| منګی | منګي | نوی | نوي |

**ب ـ ساکښ:** په دې صورت کې دغه نرمه (ی) له څرګنده (ي) او (آن) سره جمع کیږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| خوریی | خورییان | کابلی | کابلیان |
| غویی | غوییان | کندهاری | کندرهایان |

❷ کوم صفتونه چې په منځ کې يې ساکن(و) او ساکنه (ی) وي، دغه (و) او (ی) په الف بدلېږي او په پای کې یې یوه کوچنی (ه) زیاتیږي او جمع ترینه جوړیږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| پښتون | پښتانه | ړوند | ړانده |
| روڼ | راڼه | سوړ | ساړه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| موړ | ماړه | تریخ | تراخه |
| پوخ | پاخه | زوړ | زاړه |

3 ساکښ نومونه او صفتونه چې په پای کې یې څرګنده (ي) راغلي وي د (آن) په زیاتولو جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| دوبي | دوبیان | موچي | موچیان |
| ښادي | ښادیان | ډولچي | ډولچیان |

4 کوم پردی نومونه او صفتونه،چې په کوچنۍ (ه) ختم شو ی وي، نو د (ګان) په زیاتولو سره جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ساده | ساده ګان | پیاده | پیاده ګان |

5 کوم نومونه چې له الف توری سره پای ته رسېدلی وي، ځینې یې د (ګان) او ځیني یې د (یان) په زیاتولو سره جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ماما | ماماګان | آشنا | آشنایان |
| کاکا | کاکاګان | کلا | کلایان |
| اکا | اکاګان | ملا | ملایان |

6 کوم نومونه چې له څرګند (و) سره پای ته رسېدلی وی، ځینی یې د (ګان) او ځینی یې د (وان) په زیاتولو سره جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| کچالو | کچالوګان | پېتو | پېتوان |
| ټاپو | ټاپو ګان | خېټو | خېټوان |
| آلو | آلو ګان | | |

7 ځیني یوه توریزه او یوه څپه ییزه صفتونه د کوچنۍ (ه) په زیاتولو هم جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| مل | مله | مړ | مړه |
| اوم | اومه | غل | غله |
| شین | شینه | | |

8 هغه پښتو نومونه چې په (ه) ختم شوي وي، (ه) لېرې کېږي او پر ځای یې (ونه) روستاړي اضافه کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| --- | --- | --- | --- |
| تره | ترونه | واره | وريرونه |
| پسه | پسونه | زړه | زړونه |

❾ کوم نومونه او صفتونه چې په اصلي توري ختم شوی وي که ساکښ وي، د (آن) او که بې سا وي، د (ونه) په زياتولو سره جمع کيږي، لکه:

| ساکښ | | بې سا | |
| --- | --- | --- | --- |
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| اوښ | اوښان | لغت | لغتونه |
| چرگ | چرگونه | موټر | موټرونه |
| مين | مينان | کور | کورونه |

❿ کوم نومونه چې په نرم (و) پای ته رسېدلی وي، د (ونه) په زياتولو سره جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| --- | --- | --- | --- |
| پلو | پلوونه | کنډو | کنډونه |
| لو | لوونه | | |

## د ښځينه نومونو د جمع کولو طريقې

مفرد مونث نومونه د لاندې نښو په راوړلو سره جمع کيږي. (**ې**، **گانې**، **وې**، **ی** )

❶ هغه مونث نومونه چې په څرگنده (ه) ختم شوي وي، دغه (ه) په اوږده (ې) بدليږي او جمع ترينه جوړيږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| --- | --- | --- | --- |
| پاڼه | پاڼې | گټه | گټې |
| پخه | پخې | پښه | پښې |
| چرگه | چرگې | ژبه | ژبې |

❷ ټول سماعي مونث هم د اوږده (ې) په زياتولو جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| --- | --- | --- | --- |
| لار | لارې | ورځ | ورځې |
| لمن | لمنې | مياشت | مياشتې |
| وريځ | وريځې | برستن | برستنې |

❸ کوم مونث نومونه چې په اوږده (و) ختم شوي وي د (گانې) په زياتولو جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| زانګو | زانګوګانې | پېشو | پېشوګانې |
| ورشو | ورشوګانې | راډیو | راډیوګانې |

4 هر نوم چې په الف ختم شوي وي، د (وې) او(ګانې) په راوړلو جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع | جمع |
|---|---|---|
| انا | اناوې | انا ګانې |
| رڼا | رڼاوې | رڼا ګانې |
| ژړا | ژړاوې | ژړا ګانې |
| غوا | غواوې | غوا ګانې |
| ملا | ملاوې | ملا ګانې |
| بلا | بلاوې | بلا ګانې |
| خندا | خنداوې | خندا ګان |

5 هغه نومونه چې په زورکې واله (ې) ختم شي،که ساکښ وي د (ګانې) او که بې سا وي هم د (ګانې) سره جمع کېږي او هم مفرد او جمع یې یو ډول دي چې د جملې له سیاق څخه توپیرېږي، لکه:

| ساکښ | | بې سا | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| بوډۍ | بوډۍ ګانې | ډوډۍ | ډوډۍ ګانې/ ډوډۍ |
| ابۍ | ابۍ ګانې | څوکۍ | څوکۍ ګانې/ څوکۍ |
| انۍ | انۍ ګانې | کړکۍ | کړکۍ ګانې/ کړکۍ |
| کاکۍ | کاکۍ ګانې | خولۍ | خولۍ ګانې/ خولۍ |

6 هغه بې سا نومونه چې په څرګنده (ي) ختم شوی وي، دغه (ي) په زورکې واله (ۍ) بدلیږي او جمع ترینه جوړیږي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ښادي | ښادۍ | وداني | ودانۍ |
| خوشحالي | خوشحالۍدوستي | دوستۍ | |
| ناروغي | ناروغۍ | خپلوي | خپلوۍ |

7 کوم مونث نومونه چې په اوږده (ې) ختم شوي وي، که پوهمن وي د (انې) او ( ګانې) په زیاتولو جمع کېږي او که ناپوه، بې سا شیانو او عمومي صفتونه وي،جمع نه لري بلکې په خپله بڼه راځي، لکه:

| پوهمن | | ناپوه | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| ناوي | ناوې ګانې/ ناویانې | ورغومې | ورغومې |
| خواښې | خواښې ګانې/ خواښیانې | تلونکې | تلونکې |
| ادې | ادې ګانې / ادیانې | | |

❽ د شریکو او نسبي صفاتو، د ښځینه جمع د نارینه جمع څخه د (ې) په زیاتولو جمع کیږي، لکه:

| د مذکر جمع | د مؤنث جمع |
|---|---|
| کابلیان | کابلیانې |
| موچیان | موچیانې |
| کولالان | کولالانې |
| ساده ګان | ساده ګانې |

❾ معنوي مونث نومونه قاعدې نه لري بلکې بې قاعدې دي، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| مور | میندې | خور | خویندې |
| نږور | نږیندې | ترور | تریندې |
| ورېندار | ورېنداره | لور | لوڼې |
| یور | یونې | نجلۍ | نجونې |

## د نوم حالتونه

◄ په پښتو ژبه کې نوم دوه حالتونه لري: معنوي او لفظي حالت.

❶ **الف ـ معنوي حالت:** هغه حالت دی چې یو نوم د معنا له مخې راپیژني او دغه حالتونه پنځه دي چې په لاندې ډول سره ښودل کیږي.

❷ **فاعلي حالت:** که چېرې یو نوم په جملې کې فاعل (د چارو ترسره کوونکی) واقع شي یا یو کار او عمل ترې صادر شي، دغه حالت ته فاعلي حالت وايي، لکه:

ـ احمد بازار ته ځي.

ـ کریم ډوډۍ خوري.

ـ محمود خط لیکي او نور.

❸ **مفعولي حالت:** که یو نوم په یوه جمله کې مفعول (یو کار وربانډې وشي) واقع شي، دغه حالت ته مفعولي حالت وايي، لکه:

ـ احمد بازار ته ځي.

- کریم ډوډۍ خوري.
محمود خط لیکي او نور.

❹ **ندایی حالت:** که چیرې یو نوم باندې ندا او یا غږ وشي، نو دغه حالت ته ندایي حالت وایي.

**نـوت:** در زبان پشتو اکثریت اسم های مذکر در حالت ندایي در آخر خود حرف (ه) ګرفته و اسم های مونث در آخر خود اوږده (ې) میګیرد، مثلا:

مذکر: اې وروره! اې هلکه! اې احمده!
مونث: اې خورې! اې مورې! اې فاطمې!

❺ **ارتباطي حالت:** که چیرې یو نوم د ارتباط له اداتو سره استعمال شي، نو دغه حالت ته ارتباطي حالت وايي، لکه:

- جاوید بازار ته ځي.
- زه له زمري سره خبرې کوم.
- یاسین ته کتاب ورکړه.

❻ **اضافی حالت:** که چیرې دوه نومونه د (د) په واسطه یو بل سره ارتباط پیدا کړي، نو هغه وخت ورته اضافي ارتباط وایي. او په اضافي ارتباط کې لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځي، لکه:

- د شریف قلم د کابل ښار د افغانستان خلک

**ب ـ لفظي حالت:** هغه حالت چې یو نوم لفظا راپیژني، نو دغه حالت ته لفظي حالت وایي.

**نـوت:** حالات لفظی اسم مثل حالات جمع اسم است اما در جمله حیثیت جمع را ندارند، مثلا:
په منګي کې اوبه نشته



## د پردو لغتونو قاعدې

هر ژبه د نورو ژبو لغتونو ته اړه ده، چې ورته راځي او هغه ژبه بشپړوي. نو په پښتو کې هم ځیني د عربي او د نورو ژبو لغتونه راننوتي دي، چې دغه ټول لغتونه د یوې قاعدې لاندې راځي چې په وروسته ډول ښودل کیږي.

او دا ټول لغتونه هم د جنسیت له مخې په نارینه او ښځینه باندې وېشل شوي دي.

### الف ـ د پردو ښځینه نومونه نښې

❶ **خرګنده (ي):** هغه عربي او دري لفظونه چې په خرګنده (ي) پای ته رسیدلی وي، نو مونث نوم بلل کیږي، لکه:

- **مثنوي:** ما ډیر ښه مثنوي لیکلي ده.
- **دري:** زه له دري مضمون سره ډېره مینه لرم.

❷ **اوږد (و):** هغه نومونه، چې په اوږد (و) ختم شوی وي مونث نومونه بلل کیږي، لکه:

- **ګفتګو:** احمد خپل صنفیانو سره ګفتګو کوي.

❸ **الف (ا):** هر پردی لغت، چې په الف توری سره ختم شوی وي، نو مونث نوم بلل کیږي.

- **دعا:** زه دعا کوم چې په خپل آزموینه کې بریالی شي.
- **ادعا:** ته د خپل ادعا لپاره کوم ثبوت لري؟

❹ **هـ:** هر پردی لغت، چې په (هـ) توری سره ختم شوی وي نو مونث نوم بلل کیږي، لکه:

- **دستګاه:** ټیلفون خپله دستګاه لري.
- **مفاهمه:** د علي له خبرو څخه ډیر ښه مفاهمه کیږي.

❺ **ح :** هر کلمه چې په (ح) توری سره پای ته رسېدلی وي، نو ښځینه بلل کیږي، لکه:

- **تفریح:** د جمعې په ورځ تفریح کول، زموږ د ارواېي اړتیاوې پوره کوي.
- **واضح:** محمود ډېر واضح خبرې کوي.

❻ **ع:** هر پردی لغت چې په (ع) توری سره پای ته رسېدلی وي، نو ښځینه نوم بلل کیږي، لکه:

- **اطلاع:** نوی اطلاع مو ترلاسه کړه.
- **وقوع:** زموږ د هیواد په تاریخ کې لومړی اقتصادي وقوع کومه وه؟

❼ ټول عربي صفات چې په اصلي توري ختم شوی وي، د (ه) په زیاتولو ور څخه ښځینه جوړېږي، له:

| مذکر | مونث |
|---|---|
| خدمتګار | خدمتګاه |
| مالدار | مالداره |
| عاقل | عاقله |
| فاضل | فاضله |

**ب ـ د پردو نارینه نومونه نښې**

❶ **اصلي توري:** د عربي ټول هغه لغتونه او مصدرونه چې په اصلي تورو ختم شوی وي، نو ورته مذکري کلمې وایي، لکه:

- **اعتدال:** په هرکار کې اعتدال ښه دی.
- **تعصب:** تعصب بد کار دی.
- **موټر:** موټر مو درولی دی. موټر شما را آورده است.

## د پردو لغتونو د جمع کولو قاعدې

### الف ـ د پردي ښځينه نومونه د جمع کولو طريقې:

❶ هـ: هغه عربي مصدرونه او کلمې چې په (ه) ختم شوی وي، نو د اوږده (ي) په زياتولو سره جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| مناظره | مناظري |
| معامله | معاملي |
| مفاهمه | مفاهمي |

❷ ح: هره کلمه چې له (ح) توری سره پای ته رسېدلی وي، نو د اوږده (ي) په زياتولو سره جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ذبح (سربريده) | ذبحي |
| قبح(زشت) | قبحي |
| فتح | فتحي |

❸ ع: هره کلمه چې له (ع) توری سره پای ته رسېدلی وي، نو د اوږده (ي) په زياتولو سره جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| طمع | اطمعي |
| سمع(شيندن) | سمعي (شنيدن ها) استعمال با اسم جمع |

❹ الف: کوم عربي او يا دري لغتونه او مصدرونه چې په (الف) توری سره پای ته رسېدلی وي، نو د ( گاني، وي ) په زياتولو سره جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| التجا (پناه بردن) | التجا گاني / التجاوي |
| دعا | دعا گاني / دعاوي |
| اشتها (ميل داشتن) | اشتها گاني / اشتهاوي |
| ادعا (دعوی کردن) | ادعا گاني / ادعا وي |

❺ (ح ـ ع) ( استثنائي قانون): کوم نومونه چې په (ح، ع) تورو سره ختم وي او د مخه يې (الف، و، ی) راغلی وي، نو دغه ټول نومونه د (گاني) په زياتولو جمع کيږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| اصطلاح | اصطلاح گاني |
| فصيح(زبان آور) | فصيح گاني |
| اطلاع | اطلاع گاني |

| | |
|---|---|
| اختراع | اختراع ګاني |
| موضوع | موضوع ګاني |

❻ **خرګنده (ي):** هره کلمه چې په خرګنده (ي) سره ختم شوی وي، نو د (ګاني) په زیاتولو سره جمع کیږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| رباعي | رباعي ګاني |
| مثنوي | مثنوي ګاني |

❼ **اوږد (و):** هره کلمه چې په اوږد (و) ختم شوی وي، نو د (ګاني) په زیاتولو سره جمع کیږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| آرزو | آرزو ګاني |

**ب ـ د پردی نارینه د جمع کولو طریقې:**

❶ **اصلي توري:** کوم لغتونه او مصدرونه چې په اصلي توری سره ختم شوی وي، که ساکښ وي د (آن) په زیاتولو او که بې سا وي د (ونه) په زیاتولو سره جمع کیږي، لکه:

| ساکښ | | بې سا | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| قاتل | قاتلان | انقلاب | انقلابونه |
| فاضل | فاضلان | انعام | انعامونه |
| عاقل | عاقلان | علم | علمونه |

## نومځری (ضمیر)

ضمیر هغه کلمه ده ، چې د نوم پر ځای راځي او د نوم له تکرار څخه مخنیوي کوي. په پښتو ژبه کې نومځری په اووه ډوله دي، چې په لاندې ډول یې ښودل کیږي:

۱ـ ځانګړی نومځري (ضمایر شخصی)
۲ـ ملکي یا اضافي نومځري
۳ـ اشاري نومځري
۴ـ استفهامي نومځري
۵ـ پلوي یا قیدي نومځري
٦ـ مبهم نومځري
۷ـ اشتراکي نومځري

❶ **ځانګړي نومځري:** هغه ضمیرونه دي، چې پر یو معیین شخص (متکلم، مخاطب او غایب ) باندې دلالت کوي. او د استعمال له مخې په دوه برخو ویشل کیږي.

**الف ـ** غښتلی (قوي)، خپلواک یا منفصل نومځري

ب ـ کمزوري (ملکي )، نا خپلواک یا متصل نومځري

**الف ـ غښتلی (قوي) منفصل ضمیرونه:** هغو ضمیرونو ته ویل کیږي، چې په خپلواکه توګه معنا لري.

د شخصي ضمیرونه مفرده بڼه اصلي او غیراصلي حالت لري خو جمع یې د دواړو حالاتو لپاره یو شان راځي چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

| جمع | مفرد | | | | اشخاص |
|---|---|---|---|---|---|
| اصلي حالت | غیر اصلي حالت | | اصلي حالت | | ۱ |
| موږ/ مونږ | ما | | زه | | |
| تاسو/ تاسې | تا | | ته | | ۲ |
| دوی/هغوی | هغه | ده | دی | نارینه | ۳ |
| دوی/هغوی | هغې | دې | دا | ښځینه | |

**ب ـ کمزوری (ملکي) نا خپلواک نومځري:** هغه ضمیرونه ته ویل کیږي، چې په خپلواکه توګه معنا نه ورکوي او کله چې د یو نوم سره استعمال شي خپل مفهوم او معنی په ډاګه کوي.

| جمع | مفرد | شخص |
|---|---|---|
| مو (کتابونه مو واخیستل.) | مې (کتاب مې راکړه.) | ۱ |
| مو (کتابونه مو راکړئ.) | دې (کتاب دې راکړه.) | ۲ |
| یې (کتابونه یې واخیستل.) | یې (کتاب یې راکړه.) | ۳ |

❷ **ملکي یا اضافي ضمیرونه:** هغه ضمیرونو ته ویل کیږي، چې د یو شي ملکیت او متعلقیت ښیي چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

| جمع | مفرد | | وګړی (شخص) |
|---|---|---|---|
| زمونږ/ زموږ | زما | | ۱ |
| ستاسې/ ستاسو | ستا | | ۲ |
| ددوی | دده | نارینه | ۳ |
| دهغوی | دهغه | | |
| ددوی | ددې | ښځینه | |
| دهغوی | دهغې | | |

زما کمیس راکړه. زمونږ کمیسونه راکړئ.

ستا کمیس دغه دی. ستاسو کمیسونه دغه دي.

دده کمیس دغه دی. ددوی کمیسونه دغه دي.

دهغه کمیس دغه دی. دهغوی کمیسونه دغه دي.

ددې کمیس دغه دی. ددوی کمیسونه دغه دي.

دهغې کميس دغه دی. دهغوی کميسونه دغه دي.

| شميره | واټن | مفرد | | | جمع | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | فاصله | جنس | اصلي حالت | غير اصلي حالت | اصلي حالت | غير اصلي حالت |
| 2 | لنډ | مذکر | دغه | دغه | دغه | دغو |
| | | مونث | دغه | دغې | دغه | دغو |
| 3 | ليرې | مذکر | هغه | هغه | هغه | هغو |
| | | مونث | هغه | هغې | هغه | هغو |
| 4 | ډير ليرې | مذکر | هوغه | هوغه | هوغه | هوغو |
| | | مونث | هوغه | هوغې | هوغه | هوغو |

❸ **اشاري ضميرونه:** هغه ضميرونه دي، چې اشخاصو او شيزونه ته اشاره کوي، اشاري ضميرونه د شخص، عدد او حالت سربېره د دريم وګړي لپاره د واټن (فاصلې) له مخې ګردانيږي.

❹ **استفهامي نومځري:** د پوښتنې لپاره کاريږي. د شخص، وخت، ځای، څرنګوالي او څومره والي له مخې لاندې ډولونه لري.

| | | |
|---|---|---|
| ١ | څوک (چا) | څوک راغی؟ چا سبق ولوست؟ |
| ٢ | کوم (کومه) | کوم يو دې په کار دی؟ کومه نجلی راغله؟ |
| ٣ | کله | احمد کله راځي؟ |
| ۴ | څنګه | د احمد پلار څنګه شو؟ |
| ۵ | څه | احمد څه شی خوري؟ |
| ٦ | څو | څو دانې قلمونه اخلې؟ |
| ٧ | څومره | څومره غنم په کار دې دی؟ |
| ٨ | ولې | احمد ولې ژاړي؟ |

❺ **پلوي يا قيدي نومځري:** هغه ضميرونه دي، چې فعل او سمت د اشخاصو له پلوه ښيي او دري بڼې لري چې هميشه د فعلونو په سر کې راځي.

| | | |
|---|---|---|
| ١ | را | راځم، را واخله. |
| ٢ | در | درځم، در واخله. |
| ٣ | ور | ورځم، ور واخله. |

❻ **اشتراکي نومځري:** دا ضمير په پښتو کې يو دانه دی، ځکه اشتراکي ضمير ورته وايي، چې د لومړی، دوهم او دريم شخص مفرد او جمع لپاره يو شان استعماليږي، چې د جنس له مخې اوړون مومي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | خپل | خپل درس دې ولوله. احمد خپل پلار سره مرسته کوي. |

❼ **مبهم نومځري:** هغه ضميرونو ته ويل کيږي، چې د يو نامعيين شي يا شخص لپاره راځي، چې د جنس او حالت مخې اوړون مومي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | هر | هرکتاب، هره کتابچه، هره پيغله او.... |
| ۲ | بل | بل کتاب، بله کتابچه، بلې پيغلې او.... |
| ۳ | نور | نور هلکان، نوره برخه، نورې پيغلې او.... |
| ۴ | ټول | ټول هلکان، ټوله برخه، ټولې پيغلې او.... |

## ستاينوم (صفت)

هغې کلمې ته وايي، چې د يوه نوم حالت، کيفيت او څرنګوالي بيانوي. او په پښتو ژبه کې صفت اووه ډولونه لري.

۱ـ اصلي صفتونه
۲ـ نسبتي صفتونه
۲ـ اشاري صفتونه
۴ـ عددي صفتونه
۵ـ استفهامي صفتونه
٦ـ فعلي صفتونه
۷ـ مجرد صفتونه

❶ **اصلي صفت:** هغه صفت دی، چې د يو نوم ښه والی او بدوالی بيانوي، لکه: ښه سړی، مشرسړی، بد سړی او نور.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ښه | سور | خپل | روغ | زوړ |
| بد | غټ | پردی | جوړ | ټيټ |
| تور | لوی | لوخ | تړی | لوړ |
| سپين | نری | مړ | موړ | جګ |
| خړ | پوخ | ژوندی | سوړ | اوچت |
| پلن | لنډ | ښايسته | او داسې نور | |

❷ **نسبتي صفت:** هغه صفت ته ويل کيږي، چې يو نوم ته يې نسبت شوی وي، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| کندهاری | يوسف زی | کورنی |
| سليمان خيل | باميانی | کابلی |

❸ **اشاري صفت:** هغه صفت ته ويل کيږي، چې د هغو په واسطه يو نوم ته اشاره وشي او هغه ته ځانګړتيا ورکړي، لکه:

- ✓ دغه کورتۍ دې په څو روپۍ ګنډلې ده؟
- ✓ دغه قلم پنځه روپۍ قیمت لري.
- ✓ دغه مڼه ډېر خواږه دی.
- ✓ هغه سړی د چا پلار دی؟

په پورته جملو کې (دغه، دغه، دغه، هغه) صفتونه او (کورتۍ، قلم، مڼه، سړی) موصوف دي.

❹ **عددي صفت:** هغه صفت ته ویل کیږي، چې د هغو په واسطه د یو شی شمېر او اندازه معلومیږي او معدود هم ورسره راغلی وي، لکه: دوه لاسونه، درې کتابونه، دوې کتابچې او نور.

په پورته عبارتونو کې (دوه، درې او دوې ) عددي صفتونه (لاسونه، کتابونه او کتابچې) معدود دي.

**نـوت:** اګریک عدد تنها تعداد و اندازه را نشان دهد به نام عدد مطلق گفته می شود و اګر به رتبه و درجه دلالت کند، به نام عدد رتبي یاد می شود، مثلا:

- ✓ فاطمه په څلورم ټولګی کې درس وایي.
- ✓ د علي پنځم خور څه نومیږي؟
- ✓ په نهم ټولګی کې څو کسان درس وایي؟

❺ **استفهامي صفت:** هغه صفت ته ویل کیږي، چې د پوښتنې په وخت کې استعمالیږي او موصوف هم ورسره راغلی وي، لکه:

ـ څومره وریجې درته وتلم؟

ـ کومه نجلۍ هوښیاره ده؟

❻ **فعلي صفتونه:** هغه صفت ته ویل کیږي، چې د فعل او کارکولو مانا هم پکې وي او د نورو صفاتو په شان، د یو نوم څرنګوالی ښیي (چګونګی را نشان دهد). او فعلي صفتونه په دوه ډوله دي:

**الف ـ فاعلي:** هغو صفتونو ته ویل، چې د فاعل حالت بیانوي، لکه: پالونکی، لیکوال، تلونکی او....

**ب ـ مفعولي:** هغو صفتونو ته ویل کیږي، چې د مفعول حالت بیانوي، لکه: ساتلی، خوړلی، لیکلی او....

❼ **مجرد صفتونه:** هغو صفتونو ته ویل کیږي، چې په خارج کې کوم مادي وجود ونه لري او خالي وصف او حالت تري مرادیږي، لکه: لېونتوب، هوښیارتوب، روغتیا او....

**نـوت:** در زبان پشتو برای ساختن صفات مجرد، در آخر اسم و صفت بعضي پسوندها یکجا شده و از آن صفات مجرد ساخته می شود، مثلا:

- ✓ سړی + توب = سړیتوب، لیونتوب، مینتوب او....
- ✓ روغ + تیا = روغتیا، تینګتیا، لوړتیا او....

✓ ښه + والي = ښه والي، بدوالي، اوږد والي، تورېوالي او....
✓ ژوند + ی = ژوندی، انډيوالي او....

## مصدر

هغه خپلواکه او معنی لرونکی کلمې ته وايي، چې پرته د زماني له ښودلو څخه یو کار او فعل ښيي او کومه زمانه ترې نه معلوميږي.

**د مصدر نښې:** په پښتو ژبه مصدر د لفظ له مخې په پنځه ډولونه دي:

**الف)** لام والا مصدرونه، لکه: وهل، ساتل، تلل، ختل، ژړل او....

**ب)** ول والا مصدرونه، لکه: غورځول، ماتول، تودول، خندول، الوزل او....

**ج)** يدل والا مصدرونه، لکه: ګرځېدل، مړېدل، پاڅېدل، ماتېدل او....

**د)** کېدل والا مصدرونه، لکه: پرې کېدل، پورته کېدل، وهل کېدل او....

**هـ)** کول والا مصدرونه، لکه: پورته کول، پرې کول، پخلا کول، پوښتنه کول او....

### د مصدر معنوي ډولونه

د مصدر معنوي ډولونه دوه دي (لازمي مصدراو متعدي مصدر)

❶ **لازمي مصدر:** هغه مصدر دی، چې فعل يې په فاعل تماميږي، لکه: ګرځېدل، ژړېدل، خندل او....

❷ **متعدي مصدر:** هغه دی، چې فعل يې هم فاعل او هم مفعول ته اړتيا لري، لکه: خوړل، ليکل، رټل، پلورل او....

### مصدر د اشتقاق په لحاظ

مصدر د اشتقاق په لحاظ په دري ډولونه دي:

❶ **تغيير نه منونکي مصدرونه:** هغو مصدرونه، چې د حاليه افعالو په ډله کې خپله اصلي ماده ساتي او کوم اساسي بدلون پکې نه راځي، تغيير نه منونکی مصدرونه دي، لکه: (ساتل، منل او....) چې د حال څخه مستقبل يې بې تغييره جوړيږي، چې مثالونه يې په لاندې ډول ښودل کيږي.

| حال | مستقبل | امرماضي | استمراري ماضي | فعلي صفت |
|---|---|---|---|---|
| منم | وبه منم | ومنه | مانه | منلی |
| ساتم | وبه ساتم | وساته | ساته | ساتلی |

❷ **قانوني تغييرمنونکي مصدرونه:** هغه مصدرونه دي، چې د حاليه افعالو په اصلي ماده يې د يوې قاعدې سره سم پکې بدلون راځي.

لکه: (وتل، تلل) چې د حال په فعل کې يې (ت) په (ځ) بدليږي، چې مثالونه يې په لاندې ډول کې ښودل کيږي.

| حال | مستقبل | امر | استمراري | ماضي |
|---|---|---|---|---|
| وځم | وځم به | وځه | وبه ځم | (وتل) |
| ځم | ځم به | ځه | به ځم | (تلل) |

❸ **غیر قانوني تغییر منونکي مصدرونه:** هغه مصدرونه دي، چې په حالیه افعالو کې يې له کوم قانون او قاعدې څخه پکې بدلون راځي چې دغسې افعال په پښتو ډیر لږ دي، لکه:

| مصدر | د حال فعل | مصدر | د حال فصل |
|---|---|---|---|
| ختل | خيژم | وژل | وژنم |
| نښتل | نښلم | لیدل | گورم |
| موندل | مومم | کتل | وینم |

**نوت:** در زبان پشتو تمام مصدرها حکم اسم جمع را دارد و تمام افعال و صفات با حروف ادات به شکل جمع نوشته می شود، مثلا:

✓ لیدل مو سره وشول.

✓ له ډیرو خوړلو څخه ځان پرهیز کړئ.

✓ لامبو وهل ډیره گټه لري.

## کړ (فعل)

**تعریف:** هغه کلمه ده، چې د یو کار په کولو او یا کیدلو په یو ټاکلی زمانه کې دلالت کوي، لکه:

- **تیره زمانه:** درس يې ووايه. حسین راغلل.
- **ناتیره زمانه:** درس وایي. حسین راځي.
- **راتلونکی زمانه:** درس به ووايي. حسین را به شي.

**فعل د معنی له مخې:** فعل د معنی له مخې په دوه برخو ویشل کیږي.

❶ **لازمي فعل:** هغه ته وايي، چې یوازې په فاعل تماميږي او مفعول نه غواړي، لکه:

✓ نجیب پاڅیدل.

✓ د احمد ورور کښیناست.

✓ پرون محمود وخندل.

❷ **متعدي فعل:** هغه ته وايي، چې په فاعل سربېره مفعول هم غواړي، لکه:

- ✓ علي کتاب وايي.
- ✓ علي کار کوي.
- ✓ هغه اوبه څښي.

**معلوم او مجهول فعل:** په دي لحاظ فعل په دوه برخو ویشل شوي دي.

❶ **معلوم فعل:** که چېرې په یوه جمله کې د یوفعل فاعل معلوم وي، معلوم فعل نومیږي، لکه:

- ✓ علي لیک لیکي.
- ✓ حسین ډوډی خوري.
- ✓ هغه خپل پلار ژغورل.

❷ **مجهول فعل:** که چېرې په یوه جمله کې د یو فعل فاعل معلوم نه وي، مجهول فعل نومیږي، لکه:

- ✓ احمد وهل کیږي.
- ✓ حمید تړل شوی دی.

**فعل د زمان په لحاظ:** فعل د زماني په لحاظ په دري ډوله دي.

**الف ـ حال فعل:** هغه فعل ته وايي، چې په موجوده زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوي.

**حال فعل په پښتو ژبه کې په دري ډوله دي.**

❶ استمراري حال ـ هغه فعل ته وايي، چې د هغه فاعل د استمرار په حالت کې وي، لکه:

- ✓ زه ستا خبرې اورم. (مفرد متلکم لپاره)
- ✓ موږ ستا خبرې اورو. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته زما خبرې اوري. (مفرد مخاطب لپاره)
- ✓ دی / دا / هغوی زما خبرې اوري. ( د غایب د ټولو صیغو لپاره)

❷ مطلق حال ـ هغه فعل ته وايي، چې په موجوده زمانه کې په مطلق ډول د یوکار په کولو دلالت کوي، لکه:

- ✓ زه ستا خبرې واورم. (مفرد متکلم لپاره)
- ✓ موږ ستا خبرې واورو. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته زما خبرې واوري. (مفرد متکلم لپاره)
- ✓ هغه زما خبرې واوري. (مفرد غایب لپاره)

❸ امکاني حال ـ هغه فعل ته وايي، چې موجوده زمانه په امکاني ډول د یو کار په کولو دلالت کوي، لکه:

- ✓ زه ستا خبرې اوریدلای شم. ( مفرد متکلم لپاره)
- ✓ موږ ستا خبرې اوریدلای شو. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته زما خبرې اوریدلای شي. (مفرد مخاطب لپاره)
- ✓ دی/ دا/ هغوی زما خبرې اوریدلای شي. (د غایب د ټولو صیغو لپاره)

**ب ـ راتلونکی (مستقبل) فعل:** هغه فعل ده، چې په راتلونکی زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوي، لکه: مستقبل فعل هم درې ډولونه لري.

❶ استمراري مستقبل: استمراري مستقبل عینن د استمراري حال په شان دی، خو یوازې د استمراري په حال کې (به) زیاتیږي، لکه:

- ✓ زه احمد ګورم به. (مفرد متکلم لپاره)
- ✓ موږ احمد ګورو به. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته احمد ګورې به. (مفرد مخاطب لپاره)
- ✓ تاسو احمد ګورئ به. (جمع مخاطب لپاره)
- ✓ دی/ دا/ هغوی احمد ګوري به. (د غایب د ټولو صیغو لپاره)

❷ مطلق مستقبل: د مطلق حال په منځ کې د (به) په زیاتولو جوړیږي، لکه:

- ✓ زه قلم وبه غواړم. (مفرد متکلم لپاره)
- ✓ موږ قلم وبه غواړو. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته قلم وبه غواړې. (مفرد مخاطب لپاره)
- ✓ تاسو قلم وبه غواړئ. (جمع مخاطب لپاره)

دی/ دا/ هغوی قلم وبه غواړي. (د غایب د ټولو صیغو لپاره)

❸ امکاني ماضي: د امکاني حال په منځ کې یې د (به) په زیاتولو جوړیږي، لکه:

- ✓ زه وبه لیدلای شم. (مفرد متکلم لپاره)
- ✓ موږ وبه لیدلای شو. (جمع متکلم لپاره)
- ✓ ته وبه لیدلای شې. (مفرد مخاطب لپاره)
- ✓ تاسو وبه لیدلای شئ. (جمع مخاطب لپاره)

دی/ دا/ هغوی وبه لیدلای شي. (د غایب د ټولو صیغو لپاره)

**ج ـ د تیرې زمانې (ماضي) فعل:** هغه فعل دی، چې په تېره زمانه کې د یو کار په کېدلو دلالت وکړي. او ماضي فعل هم په پښتو کې ډیر ډولونه لري، چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

❶ استمراري ماضي: هغه فعل ته وایي، چې په تېره زمانه کې د کار استمرار او دوام وښیي. استمراري فعل د مصدر څخه د هغه په پای کې د متصل ضمیرونه په ګردانولو جوړیږي، چې اته صیغې لري.

لکه: د (ختل) مصدر چې په لاندې ډول ګردانیږي.

- ✓ ختلم ـ د مفرد متکلم لپاره، لکه: زه بام ته ختلم.
- ✓ ختلو ـ د جمع متکلم لپاره، لکه: موږ بام ته ختلو.
- ✓ ختلې ـ د مفرد مخاطب لپاره، لکه: ته بام ته ختلې.

✓ ختلئ ـ د جمع مخاطب لپاره، لکه: تاسې بام ته ختلئ.
✓ خوت ـ د مفرد مذکر غایب لپاره، لکه: دی بام ته وخوت.
✓ ختل ـ د جمع مذکر غایب لپاره، لکه: دوی بام ته ختل.
✓ ختله ـ د مفرد مونث غایب لپاره، لکه: دا بام ته ختله.
✓ ختلې ـ د جمع مونث غایب لپاره، لکه: دوی بام ته ختلې.

2 مطلقه ماضي: هغه ده، چې په مطلق ډول په تېره زمانه په کیدلو دلالت کوي. مطلقه ماضي د استمراري فعل په سر کې د (و) په زیاتولو جوړیږي، لکه:

| | |
|---|---|
| ✓ زه په بڼ کې وگرځیدم. | دی په بڼ کې وگرځید. |
| ✓ موږ په بڼ کې وگرځیدو. | دوی په بڼ کې وگرځیدل. |
| ✓ ته په بڼ کې وگرځیدې. | دا په بڼ کې وگرځیده. |
| ✓ تاسې په بڼ کې وگرځیدئ. | دوی په بڼ کې وگرځیدې. |

3 لېرې ماضي: هغه ته وايي، چې په لېرې زمانه کې د کار په کولو دلالت وکړي.

**نـوت:** در زبان پشتو برای ساختن ماضی مطلق از پسوندهای (وم، وو، وې، وئ، او وه) استفاده می شود، مثلا:

| | |
|---|---|
| ✓ ما کار کړی وم. | دی کار کړی و. |
| ✓ موږ کار کړی وو. | دوی کار کړی وو. |
| ✓ ته کار کړی وې. | دا کار کړی وه. |
| ✓ تاسو کار کړی وئ. | دوی کار کړی وو. |

4 نیږدې ماضي: هغه فعل ته وايي، چې په نیږدې ماضي د یو کار په کولو دلالت وکړي.

**نـوت:** در زبان پشتو برای ساختن ماضي نزدیک از پسوندهای (یم، یو، یې، یئ، دی، ده او دي) استفاده می شود، مثلا:

| | |
|---|---|
| ✓ زه وني ته ختلی یم. | دی وني ته ختلی دی. |
| ✓ موږ وني ته ختلی یو. | دوی وني ته ختلي دي. |
| ✓ ته وني ته ختلی یې. | دا وني ته ختلې ده. |
| ✓ تاسو وني ته ختلی یئ. | دوی وني ته ختلي دي. |

**امر فعل:** هغه فعل دی، چې د هغه په واسطه د یو کار په کولو امر کیږي. او حال امر په پښتو ژبه په دوه ډوله دي.

❶ استمراري امر: د مصدر په پای کې د (ل) پرځای د مفرد لپاره (ه) او د جمع لپاره (ئ) په زیاتولو جوړېږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ګوره | ګورئ |
| کړه | کړئ |
| پاځېږه | پاځېږئ |
| خوره | خورئ او.... |

❷ مطلق امر: د استمراري امر په سر کې د (و) په زیاتولو مطلق امر جوړېږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| وګوره | وګورئ |
| وکړه | وکړئ |
| ولیکه | ولیکئ |

## ویېکي (ادات)

تعریف: هغه کلمې دي، چې په ځانګړې توګه کومه معنی نه لري، مګر د فعلونو او نومونو سره د یوې معنی د افاده کولو لپاره استعمالیږي، لکه: (د، له، نه، څخه، که، هسې، او، ته او....)

او ادات په پښتو ژبه کې په څلور ډوله دي.

❶ اړیک ویېکي(ارتباطي ادات): دغه ویېکي (ادات) د خومره والی، څرنګوالی، او ورته والی له مخې دوه جملې سره نښلوي او دوه دوه سره یوځای کیږي، لکه: چېرې، څکه چې، خومره، بیاهم، که څه هم، څو، همدارنګه، مګر او....

- ✓ که څه هم زه دلته نه یم، هغوی یوبل سره مرسته کوي.
- ✓ خومره چې زیار باسي، هغومره نتیجې ته نږدې کیږي.

نوت:این ادات دو جمله را باهم وصل می سازد.

❷ تړوییکي ( د عطف ادات ): هغه ادات ته ویل کیږي، چې کلمې له جملې سره یوځای کوي، لکه:

- ✓ باغ وای د ګـــلونو پکې ناست وای زه او تـــه
  ګل وای غوړېدلی باندې ملاست وای زه او ته
- ✓ احمد او صنفیان یې یو ځای درس وایي.

نوت: این ادات یک جمله را با یک کلمه وصل میکند.

❸ **ورتني (تشبیهي) ادات:** هغه ادات ته ویل کیږي، چې د دوو یا زیاتو څیزونو او پدیدو ورته والی او مشابهت ښیي، لکه: غوندې، په څیر، په دود، په رنگ، په شان، په توگه: په ډول او....

✓ ته د خپل پلارغوندې یې.

✓ علي د هارون په څیر لیک لیکي.

**نوت:** این ادات برای تشبیه کردن و مقایسه کردن استفاده می شود.

❹ **تړل وییکي( اضافت ادات):** هغه ادات ته ویل کیږي، چې څیزونه او پدیدې سره اړوند وي او ملکیت ښیي، لکه:

| | |
|---|---|
| د علي کور | د احمد پلار |
| د معصومه خور | د افغانستان پلازمینه |

**نوت:** د اضافت ادات (حرف اضافه) در زبان پشتو تنها (د) می باشد که رابطه بین مضاف و مضاف الیه را نشان می دهد.

## سربلونه او اوسترلونه

دا هم نه گردانیدونکي مقید مورفیمونه دي، چې په خپلواکه توگه کومه معنی نه لري خو کله چې له خپلواکو غیر مقید مورفیمونه سره یوځای معنی او مفهوم رسوي. او په دوه ډوله دي.

❶ **سربلونه (پیشینه ها):** سربلونه هغه ادات دي، چې د یو نوم د مخه راځي او په جمله کې د هغه دریځ څرگندوي، لکه: په، تر، له او نور.

✓ زه اوس په ښوونځی کې یم.

✓ تاسې سبا به له کور نه تر دغه ځای پورې راشئ.

❷ **اوستر بلونه (پسینه ها):** اوستربلونه هغه ادات دي، چې د یو نوم، جملې او فقرې نه وروسته راځي، لکه: وروسته، څخه، باندې، لپاره، پسې، پورې، سره، کې، سربېره او نور.

✓ زه اوس په ښوونځی کې یم.

✓ تاسې سبا به له کور نه تر دغه ځای پورې راشئ.

**نوت:** پیشینه ها همیشه قبل از اسم و پسینه ها همیشه بعد از اسم در جمله آمده و موقعیت کلمه های مستقل را در جمله مشخص می سازد.

## تاړي (وندونه)

هغه مقید مورفیمونه دي، چې له آزاد مورفیمونه سره د یوځای والي او پیوستون له کبله د هغوی معنی او مفهوم څرگندیدای شي. وندونه په دوه ډوله دي.

**الف ـ مختاړي (پیشوند ها):** د کلمو په سر کې راځي او په دوه ډوله دي.

❶ **صرفي مختاړي:** د نهې (مه)، نفي (نه) او مطلق (و) دي.

**نهي:** د یوه شخص منع کول له یوکار څخه نهي بولي او علامه یې (مه) ده او تل د مخاطب فعلونه په سر کې راځي، لکه:

**نفي:** د یوه کار یا یوه عمل نه کولو ته نفي وایي، او علامه یې (نه) ده، لکه:

**و:** د مطلقیت مختاړي دی او کله چې د ځینو فعلونو په سر کې راشي نو مطلقه ماضي ترې جوړیږي، لکه:

❷ **کلمه جوړونکي مختاړي:** هغه مختاړي دي، چې له ځینو کلمو سره یوځای کیږي او ترینه نوي کلمې جوړوي، لکه: بد، نا، کم، بې، ور، ننه، هم، پرې او....

ـ بد شکله بې فکره نا جوړه هم شکله کم رنګه او....

**ب ـ روستاړي (پسوند ها):** د کلمو په سر کې راځي. او په دوه ډوله دي.

❶ **صرفي روستاړي:** هغه دی، چې د فعل په آخر کې راځي او فعل د شخص په لحاظ ګردانوي.

| روستاړي | فعل | وګړی (شخص) | جمله |
|---|---|---|---|
| م | لیکم | د مفرد متکلم لپاره | زه لیکم. |
| و | لیکو | د جمع متکلم لپاره | موږ لیکو. |
| ې | لیکې | د مفرد مخاطب لپاره | ته لیکې. |
| ئ | لیکئ | د جمع مخاطب لپاره | تاسو لیکئ. |
| ی | لیکی | د مفرد د مذکر غایب لپاره | علي لیکی. |
| ل | لیکل | د جمع د مذکر غایب لپاره | علي او نجیب لیکل. |
| ه | لیکه | د مفرد د مونث غایب لپاره | معصومه لیکه. |
| ې | لیکې | د جمع د مونث غایب لپاره | نجونې لیکې. |

❷ **کلمه جوړونکي (اشتقاقي روستاړي):** دا ډول روستاړي ډیر زیاد دي، لکه:

1. **د نسبت روستاړي،** لکه: خېل، وال او ځی، مثالونه: ابراهیم خېل، ستانکزی، غزنیوال او....
2. **د مکان روستاړي،** لکه: ځی او تون، مثالونه: پخلانځی، پوهنتون، وړکتون او....
3. **د زمان روستاړي،** لکه: نی او ییز، مثالونه: میاشتنی، اوونی، اونییز او....
4. **فعلي روستاړي،** لکه: ګر، کښ او ونکی، مثالونه: ختګر، زیارکښ، جوړونکی، لیکونکی او....
5. **تصغیري روستاړي،** لکه: ګی او ګوټی، مثالونه: قلم ګی، میزګی، ښار ګوټی او....
6. **کړولونه (قیدونه):** هغه ژبني عناصر دی، چې د یو فعل د پېښېدنې څرنګوالي، د فعل د پېښېدو ځای او مهال ښیي یا هم د فعل څرګندتیا، تینګار او داسې نورې ځانګړتیاوې څرګندوي. او قیدونه په دوه ډوله دي.

**الف ـ ګردانیدونکي (غیر اصلي ) قیدونه:** هغه قیدونه دي، چې د فعل، فاعل یا مفعول لپاره ګردانیږي.که لازمي وي د فاعل لپاره او که متعدي وي د مفعول لپاره ګردانیږي، لکه:

✓ **له لازمي فعل سره:** دلته فعل لازمي دی او قید د جملې د فاعل لپاره تصریف شوی دی.

| اوس مهال | تیرمهال |
|---|---|
| زه (مذکر) درون درون ګرځم. | زه (مذکر) درون درون ګرځېدم. |
| زه (مونث) درنه درنه ګرځم. | زه (مونث) درنه درنه ګرځېدم. |
| موږ (مذکر) درانه درانه ګرځو. | موږ (مذکر) درانه درانه ګرځېدو. |
| موږ (مونث) درنې درنې ګرځو. | موږ (مونث) درنې درنې ګرځېدو. |
| ته (مذکر) درون درون ګرځې. او.... | ته (مذکر) درانه درانه ګرځېدې. |

✓ **له متعدي فعل سره:** دلته فعل متعدي دی او قید د جملې د مفعول لپاره تصریف شوی دی.

| اوس مهال | تیرمهال |
|---|---|
| علي ما (مذکر) پوخ پېژني. | علي زه (مذکر) پوخ پېژندلم. |
| علي ما (مونث) پخه پېژني. | علي زه (مونث) پخه پېژندلم. |
| علي موږ (مذکر) پاخه پيژني. | علي موږ (مذکر) پاخه پېژندلو. |
| علي موږ (مونث) پخې پېژني. | علي موږ (مونث) پخې پېژندلو. |
| علي تا (مذکر) پوخ پېژني. او.... | علي ته (مذکر) پوخ پېژندلې. |

**ب ـ نه ګردانیدونکي (اصلي) قیدونه:** هغه قیدونه دي، چې د فعل، فاعل یا مفعول لپاره نه ګردانېږي. او لاندې ډولونه لري.

❶ **د زمان قید:** هغه قید دی، چې د مهال له مخې د یو فعل پېښېدنه څرګندوي، لکه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوس | ورمه ورځ | سبا | سبا ته | سږ کال |
| د مخه | ورمه شپه | نن شپه | بل سبا | پروسږ کال |
| پخوا | پرون/ تیره ورځ | نن سهار | سهار | تېر کال |

❷ **د ځای قید:** هغه قید دی، چې د فعل پېښېدنه د ځای او چاپېریال له مخې څرګندوي، لکه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دلته | هلته | مخ ته | پورته (بالا) | د باندې (بیرون) |
| هوري (همانجا) | مخکې | بېرته | لاندې | آخوا (آن طرف) |
| دلې (اینجا) | وروسته | وړاندې | باندې | د پخوا (این طرف) |

❸ **د شک قید:** هغه قید ته وایي، چې د یو فعل په اجرا کېدو شک ښکاره کوي، لکه:

✓ ګوندې راشي. شاید بیاید.

✓ کېدای شي چې هغه لیکي. ممکن است که او بنویسد.

❹ **د څرنګوالي (حالت) قید:** هغه قید دی، چې د یو فعل څرنګوالي ښیي، لکه:

✓ هغه ژر ژر خپل کالي پاکوي. او زود زود کالایش را پاک میکند.

✓ احمد په منډه منډه ښوونځی ته ځي. احمد دوان دوان مکتب می رود.

## لومړی تمرین

1) د پښتو سوچه توري څو دي؟

۱) ۴ ۲) ۵ ۳) ۸ ۴) ۹

2) توري په پښتو کې په کوم ډول وېشل کېږي؟

۱) اصلي او کمکي ۲) اصلي او فرعي

۳) ترکیبي او ساده ۴) کمکي او غړیز

3) غړیز توري کومې دي؟

۱) ی او هـ ۲) الف ۳) و ۴) ټول سم دي.

4) د (پښتو) په کلمه کې د پښتو خاص توری کوم دی؟

۱) پ ۲) و ۳) ښ ۴) ټول سم دي.

5) په پښتو الفباء کې څو توري عربي دي؟

۱) ۱۱ ۲) ۱۲ ۳) ۱۴ ۴) ۱۰

6) کتاب څو څپې لري؟

۱) یوه ۲) دوه ۳) دري ۴) څلور

7) (ی) په پښتو ژبه کې په څو ډولونه دي؟

۱) دوه ډوله ۲) اته ډوله ۳) پنځه ډوله ۴) ټول سم دي.

8) کومه (ی) د مفرد مذکر لپاره کارول کېږي؟

۱) نرمه (ی) ۲) څرګنده (ي) ۳) اوږده (ي) ۴) زورکې واله (ی)

9) کومه (هـ) د مؤنث نښه ده؟

۱) څرګنده (هـ) ۲) کوچنۍ (هـ) ۳) غښتلې (هـ) ۴) ۱ او ۳ سم دي.

10) ښوونځی څه ډول نوم دی؟

۱) مفرد مؤنث ۲) مفرد مذکر ۳) جمع مذکر ۴) ټول سم دي

11) کوم یو یې جمع (جمعیت) نوم دی؟

۱) لښکر ۲) خلک ۳) ډله ۴) ټول سم دي

12) کومه یوه د ښځینه نوم نښه ده؟

۱) خرګنده هـ او ي ۲) اوږده(ې) ۳) ی او الف ۴) ټول سم دي

13) ښځینه نومونه په څو ډوله دي؟

۱) ۲ډوله ۲) ۵ډوله ۳) ۳ډوله ۴) ۴ډوله

14) (مور) د جنسیت له مخې څه ډول نوم دی؟

۱) مؤنث ۲) مؤنث حقيقي لفظي

۳) حقيقي غيرلفظي ښځینه ۴) مذکر مفرد

15) کوم نومونه چې په نرمې (ی) ختم شي، په کومه (ي) جمع کېږي؟

۱) اوده (ي) ۲) زورکی واله (ی)۳) خرګنده (ي) 4) خرګنده (ي) او (آن)

16) د پوخ او شپون جمع بڼه کومه ده؟

۱) پوخان او شپانان ۲) پوخې او شپانانو

۳) پوخانان او شپانې ۴) پاخه او شپانه

17) کوم نومونه چې په بې غږه تورو ختمېږي څنګه جمع کېږي؟

۱) ساکښ له (آن) سره ۲) بې سا له (ونه) سره

۳) دواړه سم دي ۴) ګانې سره

18) د څوکۍ جمع بڼه کومه ده؟

۱) څوکۍ ۲) څوکۍ ګانې ۳) دواړه ۴) څوکیونې

19) کوم یو یې شخصي نومځری دی؟

۱) زما ۲) څوک ۳) دغه ۴) ته

20) مصدر د لفظ په لحاظ په څو ډوله دی؟

۱) اته ډوله ۲) درې ډوله ۳) یو ډول ۴) پنځه ډوله

21) «احمد پرون بازار ته لاړ.» د مکان قید په نښه کړئ!

۱) بازار ۲) لاړ ۳) پرون ۴) احمد

22) «دا قلم ستا دی» په دې جمله کې (دا) څه شی دئ؟

۱) اشاري ضمير ۲) شخصي ضمير ۳) اشاري صفت ۴) ۱ او ۳ سم دي.

23) «زه هره ورځ خبرونه اورم» دا کومه زمانه ده؟

۱) مطلقه حال ۲) استمراري حال ۳) تېر مهال ۴) استمراري ماضي

24) «علي کورته تللی دی.» دا کومه زمانه ده؟

۱) لېري ماضي ۲) مطلقه ماضي ۳) اوس مهال ۴) نږدې ماضي

25) کوم یو یې تشبیهي آدات دی؟

۱) لکه ۲) په څېر ۳) د ۴) ۱ او ۲ سم دي

26) په لاندې لغاتو کی صفت پیدا کړئ:

1) خورم 2) قلم 3) کتاب 4) سپین

27) (لیدي) د کومی زمانی فعل دی:

1) اوس مهال 2) تیرمهال 3)نږدې راتلونکی مهال 4) راتلونکی مهال

28) احمد ناروغ دی، په دغه جمله کې صفت وښایاست:

1) ناروغ 2) احمد 3) 1 و 2 سم دي 4) دی

29) فعل د زماني په لحاظ په څو برخو ویشل شوی دي:

1) 4 2) 5 3) 3 4) 2

30) (وبه لیکم) د کوم زمانی فعل دی:

1) بعید ماضي 2) حال 3) راتلونکی 4) ماضي

31) (لولم) د کومې زمانې فعل دی:

1) حال 2) قریبه ماضي 3) راتلونکی 4) ماضي

32) «کور وستایل شو.» د کومې زمانې فعل دی؟

1) راتلونکی مهال 2) اوس مهال 3) تیر مهال 4) نږدی راتلونکی مهال

33) «ونه پرې شوه.» د کومې زمانې فعل دی:

1) تیرمهال 2) راتلونکی مهال 3) اوس مهال 4) نږدې راتلونکی مهال

34) په لاندې کلمو کې فعل په نښه کړئ:

1) بولم 2) ژر، ژر 3) هلته 4) نن

35) په لاندې څلور کلمو کې فعل په نښه کړئ:

1) نن 2) غواړم 3) ژر، ژر 4) هلته

36) د جملې اساسي برخې څو دي:

1) پنځه 2) دوه 3) څلور 4) درې

37)(زموږ په کورنی کې نارینه او ښځو ټولو تذکرې اخیستې دي.) د پورتنی جملې ډول په نښه کړئ:

1) قسمیه 2) خبري 3) تعجبي 4) پوښتني

38)د «څانګه» کلمه جمع بڼه په نښه کړئ:

1) څانګونه 2) څانګې3) څانګې 4) څانګی

39)د «اغیزناکه» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) اغیزې 2) اغیزناکې 3) اغیزګانې 4) اغیزناګونه

40)د «حق» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) حقان 2) حقونه 3) حقې 4) حقې

41)په لاندې کلمو کې جمع نوم په نښه کړئ:

1) غویی 2) غویې 3) غوا 4) غر

42)اسمی ترکیبونه هغه ترکیبونه ته وایي:

1) چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې فعل وي. 2) چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې فاعل وي.

3) چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې مفعول وي. 4) چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې نوم وي.

43)جمله له څه شي څخه جوړه شوې ده:

1) مبتدا او خبر 2) مفعول او مبتدا 3) فاعل او مبتدا 4) ټول سم دي

44) لاندې جمله د جوړښت له مخې څه ډول جمله ده: «احمد راغې»

1) لنډه مرکبه 2) اوږده ساده 3) اوږده مرکبه 4) لنډه ساده

45) لاندې جمله د جوړښت له مخې څه ډول جمله ده: «استاد ټولګي ته راغی او مدیر دفتر ته ولاړ.»

1) اوږده ساده جمله2) لنډه ساده جمله 3) لنډه مرکبه جمله4) اوږدهمرکبه جمله

46) خبر په څو ډوله ده؟

1) یوه 2) دوه 3) درې 4) څلور

47)«زموږ ښوونکی ډیره ورتیا لری» څه ډول جمله ده:

1) خبري 2) قسمیه 3) تعجبي 4) ټینګار

48) د جملې هغه برخه ده چې د مبتدا حال څرګندوي:

1) خبر 2) ساده 3) مـرکب 4) هیڅ یو

49) «احمد راغلی» د جوړښت له مخې څه ډول جمله ده:

1) مرکبه 2) امریه 3) ساده 4) هیڅ یو

50) «د افغانستان پلازمینه» څه دی:

1) جمله 2) فقره 3) ترکیب 4) یو او دوه سم دي

51) د «حقیقت» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) حقیقتان 2) حقیقتیان 3) حقیقتی 4) حقیقتونه

52) د «اند» جمه بڼه په نښه کړی:

1) اندیان 2) اندي 3) اندي 4) اندونه

53) د «استازی» مفرد مونث بڼه په نښه کړئ:

1) استازا 2) استاز 3) استازې 4) استازیه

54) د «ژوند» ضد کلمه په نښه کړئ:

1) روزنه 2) هوسا 3) مړ 4) ژوی

55) د «کبان» مفرد بڼه په نښه کړئ:

1) کب 2) کبن 3) کبی 4) کابو

56) د «نمونه» کلمي جمع بڼه عبارت ده:

1) نومونه 2) نمونې 3) نمونې 4) نمونې

57) د «ټاټوبی» لغت جمع بڼه عبارت ده له:

1) ټاټوبي 2) ټاټوبونه 3) ټاټوبیان 4) ټاټوبې

58) د «کمپیوټر» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) کمپیوټرونه 2) کمپیوټران 3) کمپیوټري 4) کمپیوټري

59) د «سترګه» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) سترګان 2) سترګونه 3) سترګې ونه 4) سترګې

60) د «پند» لغت سمه معنا په نښه کړئ:

1) مصلحت 2) انتظار 3) مرسته 4) نصیحت

61) د «سپما» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) سپمايي 2) سپماوې 3) سپموی 4) سپماو

62) د «درهم» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) درهمي 2) درهمیان 3) درهمی 4) درهمونه

63) د «سوبې» مفرد بڼه په نښه کړئ:

1) سوبی 2) سوبکه 3) سوبئ 4) سوبه

64) د «منطقه» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) منطقې 2) منطقان 3) منطقونه 4) منطقئ

65) د «کابلیانې» کلمې مفرد مؤنث کلمه په نښه کړئ:

1) کابلی 2) کابلې یا کابلیان 3) کابلۍ 4) یو هم نه

66) په لاندې کلمو کې جمع نوم په نښه کړئ:

1) پکتیکا 2) سمندر 3) پښتنه 4) پښتانه

67) په لاندې کلمو کې جمع نوم په نښه کړئ:

1) میندې 2) غزنې 3) کابلی 4) هیواد

68) په لاندې کلمو کې جمع نوم په نښه کړئ:

1) نبیان 2) مرسلان 3) پښتانه 4) ټول سم دي

69) د «پادشاه» د کلمې جمع بڼه په نښه کړئ:

1) پادشاهی 2) پادشاهان 3) پادشاهونه 4) پادشاه ګونه

70) د «بحر» کلمې جمع:

1) بحری 2) بحرونه 3) بحریان 4) بحرګان

71) د «غښتلی» لغت ضد معنی:

1) قوی 2) غوښتنه 3) ضعیف 4) ناچار

72) د «التهاب» لغت سمه معنی:

1) پر 2) قوی 3) پرسوب 4) سپوږمی

73) د «کچه» لغت سمه معنی په نښه کړئ:

1) محدود 2) اندازه 3) بې حده 4) پیمان

74) د «اوبدل» لغت سمه معنی:

1) بافت 2) ګنډل 3) جوړول 4) ټول سم دي

75) د «جوګه» لغت سمه معنی:

1) سیال 2) وړ 3) لایق 4) ټول سم دي

76) د «استازی» لغت سمه معنی:

1) نماینده 2) نماینده ګان 3) استاذ 4) تیز

77) متضاد معنای واژه «انفاق»:

1) جمع کردن 2) خرج کردن 3) قسمت کردن 4) بند شدن

78) په لاندې کلمو کې جمع کلمه په نښه کړئ:

1) ښونه 2) هلکان 3) غرونه 4) ټول سم دي

79) د «کوشیر» لغت سمه معنی:

1) پیوند 2) شیردهن 3) شیدې 4) د غوا شیدې

80) د «جرګه مار» لغت سمه معنا عبارت ده له:

1) جرګه کونکی 2) جرګه کونکې 3) جرګه کونکۍ 4) جرګه ماتونکی

81) د «ګهیځ» لغت سمه معنا په نښه کړئ:

1) ورځ 2) مازدیګر 3) ماښام 4) سهار

82) په لاندې نومونه کې جمع نوم په نښه کړئ:

1) شاعر 2) انسان 3) پیریان 4) کروند

83) د «خلیفه» جمع بڼه په نښه کړئ:

1) خلیفه ګونه 2) خلیفه ګان 3) خلیفه ګانان 4) خلیفه ګی

84) د یو چا د بدی په وړاندې نیکي کولو ته وایی:

1) مرسته 2) همکاری 3) احسان 4) انډیوالی

85) د «چلند» جمع بڼه عبارت ده له:

1) چلندی 2) چلندونه 3) چلندی 4) چلندیان

86) «ددې» کلمې ته څه ویل کیږی؟

1) صفت 2) فعل 3) ضمیر 4) اسم

87) د «ځانښت» کلمې سمه معنی عبارت ده له:

1) بریځر 2) مخکې له غرمې 3) تېره غرمه 4) کچه غرمه

88) د «سپارښتنه» کلمې جمع بڼه عبارت ده له:

1) سپارښتنې 2) سپارښتنی 3) سپارښتونه 4) سپارښت

89) د «لویه وچه» کلیمی سمه معنی په نښه کړی:

1) بې حاصله 2) براعظم 3) بې اوبو 4) برملا

90) «لونل» څه ډول کلمه ده؟

1) اسم 2) ضمیر 3) فعل 4) صفت

| د ځوابونه کلی | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
| 1 | 3 | 19 | 4 | 37 | 2 | 55 | 1 | 73 | 2 |
| 2 | 1 | 20 | 4 | 38 | 2 | 56 | 2 | 74 | 4 |
| 3 | 4 | 21 | 1 | 39 | 2 | 57 | 1 | 75 | 4 |
| 4 | 3 | 22 | 3 | 40 | 2 | 58 | 1 | 76 | 1 |
| 5 | 4 | 23 | 2 | 41 | 2 | 59 | 4 | 77 | 1 |
| 6 | 2 | 24 | 4 | 42 | 4 | 60 | 4 | 78 | 4 |
| 7 | 3 | 25 | 4 | 43 | 1 | 61 | 2 | 79 | 1 |
| 8 | 1 | 26 | 4 | 44 | 4 | 62 | 4 | 80 | 1 |
| 9 | 4 | 27 | 2 | 45 | 3 | 63 | 4 | 81 | 4 |
| 10 | 2 | 28 | 1 | 46 | 2 | 64 | 1 | 82 | 3 |
| 11 | 4 | 29 | 3 | 47 | 1 | 65 | 3 | 83 | 2 |
| 12 | 4 | 30 | 3 | 48 | 1 | 66 | 4 | 84 | 3 |
| 13 | 4 | 31 | 1 | 49 | 3 | 67 | 1 | 85 | 2 |
| 14 | 3 | 32 | 3 | 50 | 3 | 68 | 4 | 86 | 3 |
| 15 | 4 | 33 | 1 | 51 | 4 | 69 | 2 | 87 | 2 |
| 16 | 4 | 34 | 1 | 52 | 4 | 70 | 2 | 88 | 1 |
| 17 | 3 | 35 | 2 | 53 | 3 | 71 | 3 | 89 | 2 |
| 18 | 3 | 36 | 2 | 54 | 3 | 72 | 3 | 90 | 3 |

# دویــم څپرکی

## ادبــیات

ادبــیات

ادبیات د محتوا له مخې

د ادبیات ډولونه

د پښتو ادبیاتو تاریخ

## ادبــيات

**ادب:** ادب له هذب څخه اخيستل شوی او د بې عيبه په مانا دی. دا کلمه د اخلاقي تهذيب، فضيلت او زيرکۍ په مانا هم کارېدلې ده، خو په اصطلاح کې ادب هغه ژبنی هنر دی، چې واقعيتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. ادبپوهانو ادبيات د محتوا له مخې په تخليقي او تحقيقي ادبياتو وېشلي دي.

❶ **تخليقي ادبيات:** تخليقي يا هنري ادبيات عبارت دي له: شعر، داستان، ډرامه، طنز، ادبي ټوټه او....

❷ **تحقيقي ادبيات:** د ادبي آثارو منشاء، ماهيت او د ادبياتو تاريخي بهير مطالعه کوي او تحقيقي ادبياتو ته ادبپوهنه هم ويل کېږي. ادبپوهنه درې څانګې لري.

**الف ـ ادبي تيوري:** د ادبي آثارو ارزښت، ماهيت محتوا او تکامل د تيوري او ادبي ميتودونو د لارو چارو ارزونه کوي.

**ب ـ ادبي تاريخ:** د ادبياتو تاريخ (پيدايښت او وده) د تاريخ په ترڅ کې څېړي او له ادبي تذکرې سره يې توپير دادی، چې په تذکره کې د شاعرانو او اديبانو ژوند ليک راځي، خو په ادب تاريخ کې بيا د ادب خپل پرمختګ، وروسته تګ او ځای پر ځای درېدل د تاريخ په اوږدو کې څېړل کېږي.

**ج ـ ادبي کرکتنه:** په يوه ژبه کې په ټولوآثارو باندې بحث کوي او يواځې نقدکوي او پرې بحث کوي.

## ولسی ادبــيات

هره ژبه دوه ډوله ادبيات لري:

يو هغه ادبيات دي، چې ليکلې بڼه لري، چې د ټولنې د باسواده وګړو له خوا رامنځته شوي وي او په کتابونو کې خوندي وي. بل هغه ادبيات دي، چې د ټولنې د بېسواده او نالوستو وګړو له خوا رامنځته شوي وي او په شفاهي توګه له يو نسل څخه بل نسل ته لېږدول کېږي. دې ډول ادبياتو ته (ولسي، فلکلوريک، شفاهي) ادبيات هم ويل کېږي.

ولسي ادبيات په لومړي سر کې په دوه سترو برخو وېشل کېږي.

**الف: منظوم ولسي ادبيات:** منظوم ولسی ادبيات په دوه ډوله ويشل شوی دي:

❶ **عام ولسي شعرونه:** هغه دي، چې شاعر يې معلوم نه وي. لکه: لنډۍ، د اتڼ ناري، د ماشومانو ناري، د ميندو ناري، سروکې، د نکلونو ناري، کاکړۍ غاړې، تاريخي ناري منظوم فالونه او متلونه.

❷ **خاص ولسي شعرونه:** شاعر او ويونکی يې معلوم او د ولس پېژندل شوي خلک دي. لکه: غزل رباعي (مقام) چاربيته، لوبه، بګتۍ، داستانونه او....

**ب: منثور ولسي ادبيات:** هغه اوږدې او لنډې خوږې او پخې ويناوې دي، چې د ولس په منځ کې رامنځته شوي. ويناوال يا اصلي پيدا کوونکي يې نه دي معلوم. خو د ټولو خلکو ګډ مال وي. دا لاندې ډولونه لري:

ولسي نکلونه او حکایتونه، وړې کیسې، منثور متلونه، منثور چیستانونه، اصطلاحات او محاورې، تکیه کلامونه، تشبیهات او استعارې، رمزونه او کنایې، دعاوې او ښېراوې، ټوکې ټکالې، د ماشومانو لپاره کیسې او نکلونه.

## د پښتو ادبیاتو تاریخ

پښتو ادبي تاریخ په دریو دورو وېشل کېږي:

1. لومړی، لرغوني (پخوانی ) دوره
2. دویم، کلاسیکه (منځنۍ ) دوره
3. دریم، معاصره (اوسنۍ) دوره

## د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره

**نکته:** نوعیت سال در این دوره فقط بر اساس سال هجری قمری می باشد.

**نکته:** سیستم یادگیری این دوره براساس قرن می باشد.

**ددې دورې ځانګړنې:** له دوهم هجري پېړۍ څخه تر ۱۰۰۰ هجري قمري کال او یا د یوولسمې پېړۍ تر لومړیو کلونو پورې دوام کوي او یا د امیر کروړ له دورې نه پیل او د بایزید روښان تر ظهور پورې رسېږي.

- ✓ دې دورې آثارو په دریو مرکزنو (غور، د کسې غر او ملتان) کې را منځته شوي دي او هغه آثار چې د کسې غر یا د سلیمان د غرو په لمنو کې ایجاد شوي، له دریمې هجري پېړۍ نه پیل او تر پنځمې پېړۍ پورې رسېږي.
- ✓ د لرغونې دورې آثار د ریګویدا او اوستا له سندرو سره ورته والی لري.
- ✓ شعرونه یې ساده او روان او پېچلي تخیلات او لفظي صنایع نه لري.
- ✓ د پښتو ادب لرغونې دوره د امیر کروړ سوري تر لاسه شوي شعر څخه پیل کېږي، چې شعر یې یوه ویاړنه یا حماسي سندره ده او د محمدهوتک د پټې خزانې په وسیله تر موږ را رسېدلې دی.
- ✓ له دې دورې څخه لږ آثار په لاس کې دي، چې ټول د پټې خزانې او تذکرة الاولیا په وسیله تر موږ رارسېدلي دي.
- ✓ اشعاور یې د شکل او موضوع له مخې وده کړې او قصیده، غزل، څلوریزه(رباعي)، مثنوي او قطعه په دې دوره کې پښتو ادب ته ننوتي دي.
- ✓ ددې دورې آثار د تعداد له مخې لږ خو د کیفیت له مخې ډېر ارزښتمن آثار دي. لکه: د غوري دورې قصیدې، د شیخ متي مناجات او د اکبر زمینداورې شعرونه.
- ✓ په دې دوره کې ترجمه (ژباړه) هم دود شوې، نمونه یې د زرغوني کاکړې پښتو بوستان دی.
- ✓ د درباریانو له خوا شاعران روزل شوي.لکه: د سوریانو، غوریانو او لودیانو په دربارونو کې.

**دویمه پیړۍ:** د پښتو ژبې لومړی شاعر (امیر کروړ) د امیر پولاد سوري زوی دی او د خپلې پاچاهۍ په دوران کې دومرکزونه درلودل چې یو یې مندیش او بل یې زمینداور و چې امیر کروړ په ۱۳۹ هـ.ق کال په غور کې پاچا شو او په ۱۵۴ هـ.ق کال د پوشنج په جګړه کې مړ شوی دی.

شعري ببلګه یې  په لاندې ډول دی چې د شکل له مخې لرغونو آریایي سندرو ته نژدیوالی لري:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نستــه
په هندو سندو پر تخار او پر کابل نســته
بل په زابل نسته له ما اتل نستـــــــــه

**دریمه پیړۍ:** له امیر کروړ وروسته دوهم معلوم پښتون شاعر (ابو محمد هاشم سرواني) دی. نوموړی په ( ۲۲۳ ـ ۲۹۷هـ.ق ) کال د هلمند د سروان په سیمه کې زېږېدلی او خپلې زده کړې یې په خپله سیمه کې تر سره کړې او بیا عراق ته تللی و. په ۲۹۴هـ.ق کال بېرته خپل هېواد ته راغلی او په ۲۹۷هـ.ق مړ شوی دی. دی د (سالو ـ وږمې) په نامه په پښتو نثر کې یو کتاب هم لري چې د عربي اشعارو د فصاحت او بلاغت په اړه دي ابو محمد هاشم سرواني د خپل استاد (ابن خلاد) عربي شعر، په پښتو ژباړلی دی او نثر لیکل او ژباړه پیل شوه چې په لاندې ډول یې د سر یو بند داسې دی:

ژبه هم ښه وینا کاندې چې یې وینـــــه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونـــــــه

ـ په دریم هـ.ق کال کې د (بېټ نیکه یا شیخ بیټنی) په نامه یو بل پښتون عارف شاعر پېژنو، چې د تذکرة الاولیا په وسیله یې خبر تر موږ رارسېدلی دی. د شعر(مناجات نامه) لومړي بیتونه یې دادي:

| | |
|---|---|
| لــویه خدایه، لویه خدایـــه | ستــــــــا په مینه په هر ځایه |
| غـر ولاړ دی درناوي کـــې | ټـــوله ژوي په زاري کـــــې |
| دلتـــــــه دي د غرو لمنـې | زمــوږ کېږدۍ دي پــکې پلنې |
| دا وګــړي ډېر کړې خدایـه | لــــــــویه خدایه لویه خدایـه |

**دریمه او څلورمه پیړۍ:** شیخ اسمعیل، شیخ خرښبون، نصر لودي (د شیخ حمید زوی ) او شیخ رضي لودي هم د دریمو او څلورمو پېړیو شاعران دي.

**پنځمه پیړۍ:** په پنځمه هجري قمري پېړۍ کې شیخ اسعد سوري د خپل معاصر واکمن (امیر محمد سوري) ویرنه کې ویلي و او لومړنۍ قصیده و یونکۍ و چې مطلع یې په لاندې ډول ده:

د فلک له چارو څه وکړم کوکـــار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

**شپږمه پیړۍ:** په شپږمه هجري قمري پېړۍ کې ښکارندوی غوري، تایمني او ملک یار غرشین د حاکم شهاب الدین غوري معاصر و او د افغان غازیانو دفتوحاتو په ستاینه کې شعرونه ویلي دي.

د پسرلي ښکلوونکی بیا کړل سینګارونه

بیا یې ولونل په غرونو کې لالـــــــــونه

(ښکارندوی غوري)

ښبتن مو مل دی اوس مو یرغل دی هېواد دبل دی

غازیانو گورئ، ښبتـــــــــن مـــو مـــــــــل دی

(ملک یار غرشین)

نن زه غرېږم په صفت د سلطـان

چې دی بادار غازي ملک د جهان

(تایمني)

**اوومه پېړۍ:** په اوومې هجري پېړۍ کې د سلیمان ماکو (د بارک خان سابزي زوی د کندهار د ارغیستان اوسېدونکي) په نامه یو شاعر و، چې له ٦١٢هـ.ق را وروسته په پښتو نثر یو کتاب د تذکرة الاولیا په نامه لیکلی، په دغه کتاب کې خلور پښتانه شاعران (بېټ نیکه، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین، قطب الدین بختیار کاکي) معرفي شوي دي او د اوومې پېړۍ په دریمه لسیزه کې عرفاني افکار پښتو ادب ته لاره پیدا کوي او شیخ متي د خپلو اشعارو کتاب چې (د خدای مینه) نومیږي، بشپړوي.

په افغانستان کې د چنگیز د حملې پر مهال، بابا هوتک او د هغه زوی ملکیار هوتک دوه نور شاعران وو، چې د هغوی په شعرونو کې افغانان د یرغلگرو په وړاندې مقاومت ته هڅول شوي وو.

پر سور غر بل نن راته اور دی وگړیه جوړ راتـــــــه پیغور دی

په کلي کور باندې مغل راغـی هم په غزني هم په کابل راغی

**اتمه پېړۍ:** په اتمه هجري پېړۍ کې د اکبر زمینداوري په نوم یو بل شاعر لرو چې د پښتو لومړنی غزل او مثنوي ویونکی دی او د غزل یو یې بیت دا دی:

د خپل ځان له حیرانیه څه ویل کړم

د عشق ویر به تل په خپله پېټول کــړم

**نهمه پېړۍ:** خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي د نهمې هجري پېړۍ شاعران او لومړنی رباعي ویونکي بلل کیږي، چې دواړه په هندوستان کې اوسېدل. زرغون خان نورزی هم ددې دورې شاعر دی، چې د پښتو لومړنی ساقي نامه زرغون خان نورزي ویلې ده.

**ساقي نامه:** یک نوع از اشعار خمریه است که در قالب مثنوی سروده شده و شاعر خطاب به ساقی کند و صفات و کلمات چون: ساقي، جام، گل و صراحی زیاد به کار آورد.

ساقي پاڅه پیاله راکـــړه مرور یار مې پخلا کـــــړه

اوبه تویې په لمبو کـــــړه اور مې مړ په دې اوبو کړه

پسرلی سو غنچه گل کا زلفې تاوې د سنبل کـــــا

**لسمه پېړی:** د نهمې هجري پېړۍ په اواخرو او د لسمې هجري پېړۍ په اوايلو کې ډېر پياوړي ښځينه شاعران هم پېژنو. لومړۍ يې زرغونه کاکړه د ملادين محمد کاکړ لور وه، د کندهار په پنجوايي سيمه کې اوسېدله، نوموړې پياوړې شاعره او پوره خطاطه هم وه، چې په ۹۰۳هـ.ق کال يې د شيخ سعدي شيرازي (بوستان) کتاب په پښتو ژباړلی ده او لومړنی اخلاقي اثر دی. د يو حکايت څو بيتونه يې دادي.

اورېدلي مې قصه ده　　　چې له شاتو هم خوږه ده

د اختر په ورځ ســـهار　　　بـــايزيد چې و رويـــدار

دوهمه يې (رابعه) نومېدله، چې د مغلي واکمن ظهيرالدين بابر هم معاصره وه، د شعرونو ديوان يې درلود، خو اوس ورک دی. لاندې څلور بيته د پټې خزانې په وسيله تر موږ رارسېدلي ده:

ادم يې ځمکې وته راستون کـا　　　په اور د غم يې سوی لړمون کا

دوزخ يې روغ کا پر مخ د ځمکې　　　نوم يې د هغه دلته بېلتون کـــا

درېيمه ښځينه شاعره بي بي نيکبخته ده چې د شيخ الله داد لور او د شيخ قدم مبرمن وه چې په ۹٦۹هـ.ق کال د (ارشادالفقرا) په نامه يو کتاب په پښتو ژبه ليکلی، چې محمد هوتک په پټه خزانه کې ترې يادونه کړې. د شعر بېلګه يې دا ده:

په زړه ښاد شې اې مؤمنه　　　په ظاهر په باطن سپينه

ظاهر زهد په اخلاص کړه　　　په زړه ټينګ شه له يقينه

شکر صبر په هر حال کړه　　　خود نمای مه شه خود بينه

- دوست محمد کاکړ په ۹۲٦هـ.ق کال د «غرغښت نامې »په نوم يو کتاب نظم کړی دی، شيخ بوستان برېڅ د «بوستان الاوليا» په نوم يو کتاب ليکلی، چې ددغه دواړو شاعرانو نومونه هم د لسمې هجري پېړۍ د شاعرانو په ډله کې راغلي دي.

محمد هوتک په پټه خزانه کې د شيخ کټه «لرغوني پښتانه» او محمد بن علي بستي «تاريخ سوري» په نوم آثار ياد کړي چې شيخ عيسی مشواڼی او شيخ علي سرور لودي هم د لرغوني دورې شاعران دي.

## د پښتو ادبياتو دوهمه (منځنۍ، کلاسيکه)

**ددې دورې ځانګړتياوې:**

**نکته:** نوعيت سال درين دوره هجری ـ قمری می باشد.

**نکته:** سيستم يادګيری در اين دوره بر اساس مکتب های ادبي و دوره های تاريخي بوده که در ادبيات پشتو ۴ مکتب ادبی تاسيس شده است.

چې د ۱۰ هجري پېړۍ له نيمايي څخه پيليږي او د ۱۴ هجري پېړۍ تر لومړيو درې لسيزو پورې رارسېږي.

- پښتو ادبيات په افغانستان، پښتونخوا او د هند په سيمو کې له ځينو ملي، مذهبي او پښتني غورځنګونو سره يو ځای وده کړې.

- ✓ پښتو ادبیات له ګاونډیو ژبو سره تړون او ډېره پراختیا ومونده. لکه له (عربي، هندي، فارسي) سره.
- ✓ له دې دورې څخه سلګونه بېلابېل او بشپړ آثار په لاس کې دي.
- ✓ له روښانیانو او آخوند درویزه دواړو په آثارو کې عرفان (تصوف) موجود وو او د عرفاني لارو بنسټونه یې په خپلو پنځونو او آثارو کېښودل.
- ✓ په خپلو کتابونو کې د اسلامي اساساتو بیان، د نفس تذکیه او د اخلاقي نصایحو په راوړلو سره خلکو ته د زړه په سپېڅلتیا لارښوونې وکړې. له همدې امله ده، چې ددغو دواړو شاعرانو آثار په یو پړاو کې څېړو او د دویمې ادبي دورې د لومړي پړاو نوم پرې ږدو.
- ✓ په دې دوره کې مربع او مخمس دوه شعري قالبونه هم رامنځته شول.

## ❶ د روښاني ادبي مکتب

- ✓ د روښاني ادبي مکتب، د مسجع نثر او د دویمې دورې بنسټګر بایزید روښان دی چې آثار یې دادي: مقصودالمومنین، صراط التوحید، فخرالطالبین، حالنامه، د پښتو رسم الخط او خیرالبیان.
- ✓ خیرالبیان او مخزن الاسلام ( د آخوند درویزه اثر) ددې پړاو دوه مشهور کتابونه دي، چې په مسجع نثر لیکل شوي دي او خیرالبیان په څلورو ژبو باندې ( پښتو، دري، عربي او هندي ) لیکل شوي دي.
- ✓ د علي محمد مخلص او ارزاني روښاني رسالې، چې په بې سجع نثر لیکل شوي دي، د یادولو وړ دي.
- ✓ شاعران یې په پښتو سربېره په نورو ژبو لکه: هندي، عربي او پارسي سره آشنا او آثار لیکلي.

⮈ **ددې سبک پیروان:** ارزاني خویشکی، واصل روښاني، خواجه محمد، کریمداد بنګښ، دولت لواڼی، قادرداد، علي محمد مخلص، آخوند درویزه، ممد حلیم، عبدالسلام، اخوند احمد، بابو جان، شیخ محمدسعید او نور شاعران ددې پړاو شاعران او لیکوالان بلل کېږي.

## ❷ د خوشحال خان خټک ادبي مکتب

- ✓ ددې سبک بنسټګر خوشحال خان خټک دی چې تر ۳۰۰ زیات آثار لري چې پاتې یې دادي: د شعرونو کلیات، فراقنامه، دستارنامه، بازنامه (منثور او منظومه)، فالنامه، فضل نامه، طب نامه، بیاض، ځنځیری، او سواتنامه.
- ✓ خوشحال خان خټک د ساده او روان نثر بنسټګر دی، چې دستارنامه په ساده او روان نثر باندې لیکل شوې دي.
- ✓ خوشحال خان د پښتو ادب علم بردار دی، چې خوشحال خټک د پښتو ژبې شعري قالبونه له عربي هندي او نورو ګاونډیو ژبو څخه بشپړ کړل.
- ✓ د پښتو ادب تاریخ د خوشحال خان له نامه او آثارو پرته نیمګړی دی.
- ✓ دا عصر یوازې د نظم د نهضت عصر نه دی، بلکې د نثر لمن هم پراختیا موندلې ده.

➲ **ددې سبک پیروان:** اشرف خان هجري، عبدالقادر خټک، سکندر خان خټک، افضل خان خټک، صدرخان خټک، ګوهر خان خټک، بي بي حلیمه خټکه، اشرف خلیل، قلندر او....

## ❸ تصوفي ـ عرفاني ادبي مکتب

- ✓ ددې سبک بنسټګر عبدالرحمن بابا دی، چې په قوم کې « مومند » و او د هغه محبوبیت لپاره یې خلک هغه ته د (بابا)(لسان الغیب) او (واف) په لقبونو یادوي او د یوولسمه پیړۍ شاعر دی.
- ✓ رحمن بابا نوی سبک یې درلود، چې ډېر طبیعي، ساده او عام فهمه سبک و او هیڅ پیچلتیا نه لري چې د ۱۲، ۱۳، ۱۴ پېړۍ شاعران په ده پسې روان شول.
- ✓ دده په اشعارو کې اخلاقي، عرفاني، او ټولنیز مسایل پکې راغلي او د افغانستان، پښتونخوا، بلوچستان او هندوستان شاعران دده سبک منلی وو.

➲ **ددې سبک پیروان:** یونس خیبري، اخوند ګدا، حافظ الپوري، مهین خلیل، معزالله مومند، نجیب سربندي، میا نعیم متي زی، عبدالعظیم سواتي او یو شمېر نورو نومونه یادولای شو.

## ❹ هوتکیان او ددې دورې بل پړاو

- ✓ په کندهار کې د پښتنو د ملي دولت جوړېدل او په شاهي دربار کې د پښتو د ودې زمینه رامنځ ته شوه او یو شمېر پښتو ارزښتمن آثار رامنځته شول.
- ✓ د میرویس نیکه مور نازو انا، زوی یې شاه حسین او لور یې زینبه، رېدي خان، بابوجان، ملا نور محمد غلجی، حافظ نورمحمد، ملایونس توخي، داود هوتک، محمد هوتک( د پټې خزانې لیکوال)، او یار محمد هوتک ددې دورې شاعران او لیکوالان دي.
- ✓ پټه خزانه په دولسمه هجري پېړۍ ( ۱۱۴۱ ـ ۱۱۴۲ هـ . ق) په کندهار کې په دري خزانې لیکل شوی دی چې قلمي نسخه یې په ۱۳۲۲ لمریز کال ترلاسه شوه او پښتو ټولنې په ۱۳۲۳ لمریز کال کې د لومړۍ ځل لپاره چاپ کړه.
- ✓ د پښتو د تحریري تاریخي حماسو لیکل د هوتکیانو په دوران پورې اړه لري او لاندې حماسي ایجاد شوي دي: « محمود نامه » د ریدي خان مومند اثر او « جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان » د محمد امین سرپریکړی اثر دی او شاه حسین هوتک د « محمود نامې » په لیکلو ریدي خان مومند ته زر طلاوې انعام ورکړې.
- ✓ په دغه دوره کې ادبي دربار رامنځته شو.
- ✓ په دې پړاو کې په پښتو ولسي ادب ډېرې ښکلې ښلګې منځ ته راغلي او د پښتو د لیکلي ادب په برخه کې ځیني فولکلوري موضوعات هم داخل شول، لکه: د (شها او ګلان) نکل او یا د (سوی او اوښ) کیسه، چې د پښتو د ولسي شعر په قالب کې نظم شوي دي.

## ❺ هندي ـ نازکخیالي ادبي مکتب

- ✓ د یوولسمې پېړۍ په پیل په هندوستان کې یو شمېر پارسي ژبې شاعرانو هغه نوی سبک ته لاره و موندله چې د لسمې هجري پېړۍ په پیل کې رامنځته شوی و چې د (هندي) سبک په نوم شهرت

وموند. په پښتو ادب کې ددغه سبک بنسټ د (عبدالحمید مومند) په واسطه کېښودل شو او کاظم خان شیدا د بشپړتیا پړاو ته ورساوه. دغه سبک په پښتونخوا کې پیل او په کندهار کې وده وکړه.

- ✓ پیچلتیا، تازه فکر، ایجاز، دقیقو تشبیهاتو، استعاره، د محاورو او متلونو راوړل، ادبي صنعتونه او په ځانګړې توګه اغراق او مبالغې کارول ددې سبک ځانګړنې دي.
- ✓ دغه هندي سبک په یوولسمې هجري پېړۍ کې په پښتونخوا او افغانستان کې لار وموندله.
- ✓ ددې سبک پیرو شاعران تول غزل ویونکي شاعران وو او ځینې یې مثنوي هم ویلې دي او موضوع زیاتره د مینې او عشق بیان ته ځانګړې شوې وه.

➲ **د هندي سبک پیروان:** حسین، قلندر، خان ګل خلیل، دوست محمد، علي خان مامنزی، کاظم خان شیدا، بېدل هشنغری، نورمحمدنوري افغان، حمدالله کاکاخېل، محمد بیاض، کامګار خټک، محمدي صاحب زاده او یو شمېر نور شاعران دي.

### ❻ احمد شاه بابا او دهغه د کورنۍ غړي

- ✓ احمد شاه بابا پخپله شاعر و، همداسې یې زوی تیمورشاه او لمسی شاه شجاع هم شاعري کړې ده. په دربار کې یې وکیل الدوله عبدالله جان پوپلزی هم د پښتو ژبې شاعران وو.
- ✓ پیرمحمد کاکړ د احمدشاه بابا د دربار یو بل شاعر و، چې په پښتو ژبې یو دېوان او د (معرفت الافغاني) په نوم لومړنی ګرامر کتاب لیکلی دی چې د پښتو ښې نثري نمونې پکې راغلي دي.
- ✓ حافظ ګل محمد مرغزي د احمد شاهي دوران یو بل شاعر و، چې (احمد شاهي شاهنامه) یې لیکلې ده، چې پکې د احمد شاه بابا د ۱٦ کلونو ځینې پېښې بیان شوې دي.
- ✓ شمس الدین کاکړ، حبیب الله، ملا علم اپریدی او ابوالقاسم ددغې دورې نور شاعران وو، چې شمس الدین کاکړ د پیرمحمد کاکړ د سبک پیرو و.

## د پښتو ادب معاصره دوره

➲ هغه عوامل چې د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې د رامنځته کېدو لامل شوی، په لنډ ډول داسې بیانېږي: (د امیر دوست محمد خان او امیر شېرعلي خان په دورو کې د نوي تمدن راتګ).

د درېمې یا معاصرې دورې د پیلامې په هکله لاندې نظرونه شتون لري:

- ✓ هند ته د انګرېزانو راتګ.
- ✓ زموږ پر هېواد د انګرېزانو لومړی یرغل(۱۸۳۹م).
- ✓ د ۱۹مېلادي پېړۍ په ۷۰مو کلونو کې د پښتو هنري ـ ادبي نثر پیدایښت له دورې سره.
- ✓ د پښتو معاصر ادب د ودې او پرمختیا لومړې پړاونه د امیر حبیب الله خان په عصر کې، د سراج الاخبار مجلې رامنځته کېدل.(غالب نظر دی.)

امیر شېرعلي خان چې په ۱۲۸٦هـ.ق (۱۸٦۹م) کال د هند د امبالې له کنفرانس څخه بېرته را وګرځېدلاندې ريفورمونه يې پلي کړل.

- ✓ د ځمکو د مالياتو سمون، د پوستي عصري سيستم تأسيس، عسکري تشکيلات، عصري ښوونځي او روغتونونه رامنځته کول.
- ✓ د خپلې ملي ژبې(پښتو) پرمختګ ته يې ځانګړې پاملرنه، د هېواد ملکي ادارو، عسکري رتبو، اصطلاحاتو او قوماندانيو نومونه يې پښتو ژبې ته وژباړل.
- ✓ قاضي عبدالقادر د امير شېرعلي خان په امر د (عسکري قواعد) کتاب په پښتو وژباړه. دغه معاصره دوره په لاندې پړاونو وېشل کېږي.

❶ **لومړی پړاو:** له (۱۸۷۰م ـ ۱۹۰۱م) کال، د ۱۹پېړۍ له ۷۰مې لسيزې بيا تر ۲۰پېړۍ د امير حبيب الله خان تر حکومت پورې.

- ✓ دغه دوره هغه مهال وه، چې پښتون ولس له نوي عصري ژوند سره آشنا شوی و او پراخ فکر يې موندلی و.
- ✓ په افغانستان کې لومړنۍ جريده د «شمس النهار» په نوم په ۱۲۹۰ هـ.ق (۱۸۷۴م) کې خپره شوه
- ✓ **نوميالي ليکوالان او د هغو آثار:**

نور محمد نوري افغاني (غنچه روه)

ميا محمد يو سف کاکا خېل د (توبه النصوح ) ژباړن

ملافيض محمد آخوند زاده د (روضة المجاهدين) ناظم

قاضي مير احمدشاه رضواني د (شکرستان افغاني او بهارستان افغاني) ليکوال

ملاعبدالباقي قندهاری د (تبيين الواجبات ) ناظم

مولوي احمد (ادم خان درخانۍ او ګنج پښتو)

ميا حسيب ګل کاکاخېل د ( نقش نګين ناول ) ژباړن

❷ **دوهم پړاو:** دې پړاو ته ليکوال کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي د (روښانتيا) پړاو نوم ورکړی. موږ دغه پړاو په دوو برخو ووېشو او مطالعه کوو يې.

**الف ـ** په سراجيه عصر کې د پښتو ادب پرمختيا(۱۹۰۱م ـ ۱۹۱۹م) پورې.

- ✓ امير عبدالرحمان خان په ۱۹۰۱م کال ومړ او پر ځای يې زوی امير حبيب الله د قدرت پر ګدۍ کښېناست، ګڼ شمېر شخصيتونه چې له وطن څخه بهر او يا فراري وو، عفوه شول او له نوي فکر سره د هېواد د خدمت په هيله کابل ته راغلل. لکه: محمود طرزي او غلام محی الدين افغان.
- ✓ د سراج الاخبار جريده رامنځ ته شوه او پښتو ته پکې ځای ورکړل شو.
- ✓ وروسته حبيبيه لېسه تأسيس شوه او پښتو د يو مضمون په توګه پکې تدريسېده.

- ✓ **ددې دورې نوميالي شاعران:** عبدالهادي داوي، غلام محی الدين افغان، مولوي صالح محمد ،سيد احمدلودين، عبدالعزيز الکوزی ،محمد انور بسمل ، محمود طرزي، او...

**ب -** په اماني دوره کې د پښتو ادب وده او پراختيا (۱۲۹۸ – ۱۳۰۷ش):

- ✓ د پښتو ژبې د پراختيا لپاره په معارف کې تدريس او په مطبوعاتو کې د خپرېدو ونډه زياته شوه.
- ✓ پښتو ژبې ته د ملي حيثيت ورکولو لپاره (د پښتو مرکې) په نوم يو مرکز جوړ شو.
- ✓ د هېواد لومړی اساسي قانون په پښتو ژبه وليکل شو.
- ✓ په پښتونخوا کې د خان عبدالغفار خان له خوا (انجمن اصلاح افغانه) په نوم يو انجمن تأسيس شو او زيات شمېر ليکوالان هلته رامنځ ته شول. لکه: سيد راحت زاخيلی، حمزه شينواری، ماسټر عبدالکريم، عبدالاکبر خان اکبر او...

**❸ دريم پړاو:** (له کورني اړودوړ (۱۳۰۷ ـ ۱۳۰۸ش) نه وروسته:

- ✓ د محمدنادر خان د واکمنی (۱۳۱۰هـ.ش) پرمهال کې په کابل کې (ادبي انجمن) او په ۱۳۱۱ش کال په کندهار کې (پښتو ادبي انجمن) جوړ شو. چې د کابل ادبي انجمن د( کابل ) په نوم او د کندهار ادبي انجمن د « پښتو » په نامه مجله خپروله. وروسته دا دواړه انجمنونه يو ځای شول او په ۱۳۱٦ش کال تري (پښتو ټولنه) رامنځ ته شوه.
- ✓ **نوميالي اديبان:** عبدالحی حبيبي، قيام الدين خادم، صديق الله ربنتين، ګل پاچاه الفت، عبدالرحمن پژواک، عبدالروف بېنوا او...
- ✓ د رواني شمسي (لمريزي) پېړی په دريېمه لسيزه (۱۳۲۴ش) کال او وروسته د شاه محمود خان د صدارت دورې دموکراسي او بيا ورپسې د ۱۳۴۳ش کال د نوي اساسي قانون په رڼا کې مطبوعاتو او پښتو ادب ته ډېر خدمتونه وشول.
- ✓ په ۱۳۵۲ش کال د محمد داوود خان د جمهوري نظام په رامنځته کېدو د پښتو ادبياتو په پرمختيايي بهير ښه اغېزه وکړه.

## دوهم تمرين

1)ادبيات د محتوا له مخې په کومو برخو وېشل شوي دي؟

۱) شعر او نثر ۲) کلاسيک او اوسني

۳) تحقيقي او تخليقي ۴) هېڅ يو

2)هره ژبه څو دوله ادبيات لري؟

۱) ۲ ۲) ۴ ۳) ۸ ۴) ۱

3)ولسي ادبيات په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) منثور ولسي ادبيات ۲) منظوم ولسي ادبيات

۳) ۱ او ۲ سم دي ۴) هېڅ يو

4)لرغوني ادبي دوره له کومې پېړی څخه پيلېږي؟

۱) له ۲ پېړی تر اوسه ۲) له ۲ پېړی تر ۱۰۰۰ هـ.ق

۳) له ۳ تر ۸هـ.ق ۴) هېڅ يو

5)د پښتو لرغوني ادبي دوره د کوم شاعر له شعر سره راپيلېږي؟

۱) امير پولاد ۲) امير حمزه ۳) امير کروړ ۴) هاشم ابن زيد

6)پښتو بوستان په کومه دوره کې ترجمه شوی؟

۱) لرغوني دوره کې۲) په ۳هـ.ق کال ۳) په ۱۱پېړی کې ۴) په معاصره دوره کې

7)د پښتو ادبياتو دوهمه دوره له کوم کال څخه پيلېږي؟

۱) ۹ لمريز کال ۲) ۱۲لمريز کال ۳) ۷هـ.ق پېړی ۴) ۱۰هـ.ق پېړی څخه

8)مربع او مخمس دوه شعري قالبونو په کومه ادبي دوره کې پښتو ته لار مونده؟

۱) لومړی دوره کې ۲) دوهمه دوره کې ۳) دريمه دوره کې ۴) هېڅ يو

9)طب نامه او بياض د چا آثار دي؟

۱) د خوشحال خان خټک ۲) بايزيد روښان

۳) بي بي حليمي ۴) سکندرخان خټک

10) مهين خليل د کومې دورې شاعر دی؟

۱) لومړی دورې ۲) دريېمې دورې ۳) د دوهمې دروې ۴) ټول سم دي.

11) د هندي سبک بنسټ په پښتو ژبه کې د چا له خوا کېښودل شو؟

۱) د خوشحال خان له خوا ۲) عبدالرحمن بابا

۳) بايزيد روښان ۴) عبدالحميد مومند

12) (احمدشاهي شهنامه) د چا اثر دی؟

۱) مهين خليل ۲) عبدالحميد مومند ۳) پيرمحمد کاکړ ۴) حافظ گل

13) د دریېمي یا معاصرې دورې د پیلامې په هکله غالب نظر کوم دی؟
۱) هند ته د انګرېزانو راتګ
۲) زموږ په هېواد باندې د انګرېزانو لومړی یرغل (۱۸۳۹م).
۳) د پښتو معاصر ادب د ودې او پرمختیا لومړې پړاونه د امیر حبیب الله خان د عصر د سراج الاخبار مجلې رامنځته کېدل
۴) د ۱۹ میلادي پېړی په ۷۱ کلونو کې د پښتو د هنري ـ ادبي نثر پیدایښت دوره

14) عصري ښوونځې او روغتونونه د کوم پادشاه په وخت کې منځته راغلل؟
۱) عبدالرحمن ۲) شېرعلي خان ۳) ظاهر شاه ۴) امان الله خان

15) د هېواد د ملکي ادارو نومونه او عسکري رتبې د کوم پادشاه په دوره کې په پښتو وژباړل شو؟
۱) شېرعلي خان ۲) امان الله خان ۳) داود خان ۴) حبیب الله خان

16) د (نقش نګین ناول) ژباړن څوک دی؟
۱) میا محمد یوسف کاکاخېل ۲) مولوي احمد
۳) میا حسیب ګل کاکاخېل ۴) هېڅ یو

17) د هېواد لومړی اساسي قانون په کومه دوره کې په پښتو ژبه ولیکل شو؟
۱) په امانیه دوره کې ۲) سراجیه دوره کې
۳) د عبدالرحمن خان په دروه کې ۴) ټول سم دي.

18) صدیق الله ریښتین د کومې دورې شاعر دی؟
۱) دوهمې دورې ۲) لومړۍ دورې ۳) دریېمې دورې ۴) هېڅ یو

19) (ارشاد الفقرا) د چا اثر دی؟
۱) بي بي حلیمې ۲) بي بي نېکبختې ۳) حلیمې خټکې ۴) د محمد کاکړ

20) (خیرالبیان) په کوم نثر لیکل شوی دی؟
۱) ساده نثر ۲) متکلف نثر ۳) ولسي نثر ۴) مسجع نثر

21) د خوشحال خان خټک د کړوسی نوم په نښه کړئ:
1) علي خان 2) اشرف خان 3) افضل خان خټک 4) کاظم خان شیدا

22) د خوشحال خان خټک مشهور اثر دی:
1) خیرالبیان 2) دستار نامه 3) نیرنګ عشق 4) عیار دانش

23) کاظم خان شیدا د چا زوی دی:
1) افضل خان خټک 2) خوشحال خان 3) علي خان 4) اشرف خان

24) کاظم خان شيدا د چا زوی دی:

1) اشرف خان 2) افضل خان ختک 3)خوشحال خان ختک4) علي خان

25) کاظم خان شيدا په کوم کال کې زيږيدلی دی:

1) ۱۰۲۳ هـ.ق 2) ۱۱۳۵ هـ.ق 3) ۱۱۹۴ هـ.ق 4) ۱۱۸۴ هـ.ق

26) د پښتو شعر په زياترو ديوانونو کی له حمد وروسته ويل شوی دی:

1) نصيحت 2) دعا 3) نعت 4) حکايت

27) (تذکرت الاوليا) د پښتو ادبيات کوم تاريخ ته مربوط دی:

1) کلاسيکه 2) منځنی 3) لرغونی دوره 4) معاصره دوره

28) طب نامه د چا اثر دی؟

1) عبدالرحمن بابا 2) افضل خان 3) کاظم خان 4) خوشحال خان

29) د رحمن بابا د زيږيدلو کال په نښه کړئ:

1) 1011 هـ ق 2) 1022 هـ ق 3) 1062 هـ ق 4) 1042 هـ ق

30) صوفی عبدالرحمن بابا د پښتنو کومی قبيلې ته منسوب دی؟

1) مومند 2) محمد زی 3) خټک 4) شنواری

31) احمد شاه بابا په اصل کې څه و؟

1) پوپلزی و 2) سدوزی و 3) احمدزی و 4) دراني و

32) د عبدالقادر خان خټک د زيږيدو کال په نښه کړئ:

1) 1011هـ ق 2) 1005 هـ ق 3) 1046 هـ ق 4) 1063 هـ

33) (حديقه خټک) کتاب د چا اثر دی؟

1) اشرف خان هجری 2) کاظم خان شيدا

3) علي خان خټک 4) عبدالقادر خان خټک

34) د ګلدسته کتاب ژباړن څوک دی؟

1) افضل خان خټک 2) عبدالقادرخان خټک 3) کاظم خان شيدا4) علي خان

35) د عبدالقادر خان خټک د اشعار و ديوان په نښه کړئ:

1) بستان اوليا 2) دستار نامه 3) کليات 4) حديقه خټک

36) زرغونه کاکړه د چا لور وه:

1) خوشحال خان 2) سعدالله خان 3) پاچا خان 4) ملا دين محمد

37) دلاندينيو آثارو څخه کوم يو يې په لسمه هجري پيړۍ کې په مسجع نثر ليکل شوی دی:

1) تذکرت الاوليا 2) مخزن اسلام 3) دستار نامه 4) سالووږمه

38) (تذکرت الاوليا) د چا اثر دی؟

1) سلطان بهلول 2) سليمان ماکو 3) يو هم نه 4) شيخ اسعد سوري

39) د سعدی کتاب (بوستان) چا د لومړي ځل لپاره په پښتو ترجمه کړ؟
1) ابو محمد هاشم 2) امیر کروړ 3) زرغونه کاکړه 4) هلالي چغتايي

40) د (بهارستان افغاني) کتاب لیکوال څوک و؟
1) پیرمحمد کاکړ 2) منشي احمد جان
3) میا محمد یوسف کاکا خیل 4) قاضي میر احمد شاه رضواني

41) (پټه خزانه) د چا اثر دی؟
1) محمد هوتک 2)خوشحال خان خټک 3) رحمان بابا 4) یونس خیبری

42) د پښتو ژبې لومړی نثری کتاب څه نومیږی؟
1) پټه خزانه 2) د سالووړمه 3) خیرالبیان 4) پښتانه شعرا

43) (تذکرت الاولیا) د پښتو ادب تاریخ کومې دوری پوری اړه لری؟
1) لرغوني دوره 2) کلاسیکه دوره 3) معاصره دوره 4) ټول غلط دي

44) په لسمه هجری پیړی په پښتو ادب کې، د سجع نثر علمبردار څه نومیږی؟
1) ابو محمدهاشم 2) پیرروښان 3) سلیمان ماکو 4) امیرکروړ

45) د (گنج پښتو) لیکوال په نښه کړئ:
1) گل پاچا الفت 2) قیام الدین خادم 3) مولوي احمد 4) عبدالباقي کندهاری

46) د میر احمد رضواني لیکلی اثر په نښه کړئ:
1) ورمی 2) گلدسته 3) بهارستان افغاني 4) کونډه نجلۍ

47) (تاریخ سوري) د چا اثر دی؟
1) سلیمان ماکو 2) محمد بن علی بستي 3) ملا پیر محمد 4) محمد یوسف

48) (خیرالبیان) ټول څو بابونه لري په نښه يې کړئ:
1) شل 2) دیرش 3) څلویښت 4) پنځوس

49) بایزید روښان د کومې هجري پیړی لیکوال تیر شوی دی؟
1) نهمي 2) لسمي 3) دوولسمي 4) یوولسمي

50) بایزید روښان په کوم کال کی زیږیدلی دی:
1) 826 هـ ق 2) 1026 هـ ق 3) 926 هـ ق 4) 1126 هـ ق

51) د پښتو ژبی لومړنی زوړ بشپړ ترلاسه شوی کتاب په نښه کړی:
1) غرغښت نامه 2) سالووړمه 3) دستارنامه 4) خیرالبیان

52) (خیرالبیان) په کومو ژبو لیکل شوی دی؟
1) عربي اوهندي 2) فارسي او پښتو 3) عربي او فارسي 4) ټول سم دي

53) په لاندې شاعرانو کې د پښتو ژبې د غزل بابا لقب چا ترلاسه کړی په نښه يې کړئ:

1) بایزید روښان 2) عبدالرحمن پژواک
3) خوشحال ختټک 4) حمزه شینواری

54) حمزه شینواري په کوم ځای کې وزیږید؟
1) پښتونخوا 2) خیبر 3) لواړګي 4) ټول سم دي

55) د امیر کروړ د پاچاهی معلوم کال په نښه کړئ:
1) 239 هـ ق 2) 249 هـ ق 3) 39 هـ ق 4) 139 هـ ق

56) زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته / په هند و سند و پرتخار او پر کابل نسته / بل به زابل نسته – له ما اتل نسته / د پورتنی شعر شاعر په نښه کړئ:
1) سرواني 2) غرغښت 3) رحمن بابا 4) امیر کروړ

57) پشتو لرغوني دوره تر کوم هجري قمري کال پورې را رسیږي؟
1) 1000 هـ 2) 500 هـ 3) 700 هـ 4) 200 هـ

58) لویه خدایه لویه خدایه - ستا په مینه به هر ځایه - غرولاړ دی درناوي کې - ټوله ژوي په زاري کې - دلته دي د غرو لمني - زمونږ کیږدی دي پکي پلنې - دا وګړي ډېر کړي خدایه - لویه خدایه لویه خدایه - د پورته شعر ویناوال په نښه کړئ:
1) بیټ نیکه 2) سرواني 3) امیر کروړ 4) اسعد سروي

59) پښتو ادب تاریخ څو دورې لري په نښه یې کړئ:
1) پنځه 2) دوه 3) یوه 4) درې

60) د پښتو لرغوني دوره د کوم شاعر د ترلاسه شوي شعر څخه پیل کیږي؟
1) رحمن بابا 2) امیر کروړ 3) سرواني 4) غرغښت

61) (ارشاد الفقرا) کتاب د چا اثر دی؟
1) زرغونه کاکړ 2) ښکارندوي غوري 3) یو هم نه 4) میرمن نیکبخته

62) (بوستان اولیا) د چا اثر دی؟
1) شیخ چمن 2) شیخ متي 3) تایمني 4) شیخ بوستان بړیځ

63) د (ژوند پلوشې) اثر لیکوال په نښه کړئ:
1)حافظ 2) رښتین 3) خادم 4) غني

64) د یو څه د موندلو او پرې پوهیدلو لپاره د ذهني ځواک او قوت کارولوته وایی:
1) عاطفه 2) فکر 3) احساس 4) هیڅ یو

65) د پوهاند ریښتین اثر په نښه کړئ:
1) ټول سم دي 2) د ښکلا پلوشې 3) د ژوند پلوشې 4) پښتو ګرامر

66) صدیق الله رښتین په کوم کال کې وزیږید؟
1) ۱۲۸۹ 2) ۱۲۹۸ 3) ۱۲۹۹ 4) ۱۲۹۷

67) د (گنج پښتو) کتاب ليکوال څوک دی؟

1) مولوي احمد    2) مولوي محمد    3) مولوي مختار    4) مولوي حميد

68) (هغه دغه) او (قصه خانی گپ) ليکوال څوک دی؟

1) منشي احمد جان    2) محمد جان    3) دين محمد    4) رحمت خان

69) خيالی دنيا، پښتو نولی، نوی ژوندون دچا اثر دی؟

1) قيام‌الدين خادم    2) علاوالدين خادم    3) صديق الله ريښتين4) عبدالروف

70) د (زړه خواله) کتاب ليکوال څوک دی؟

1) رحمان بابا    2) ملک عبدالشکور    3) عبدالرؤوف بينوا 4) صديق الله رښتين

**د ځوابونه کلي**

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 3 | 15 | 1 | 29 | 4 | 43 | 1 | 57 | 1 |
| 2 | 1 | 16 | 3 | 30 | 1 | 44 | 2 | 58 | 1 |
| 3 | 3 | 17 | 1 | 31 | 4 | 45 | 3 | 59 | 4 |
| 4 | 2 | 18 | 3 | 32 | 4 | 46 | 3 | 60 | 2 |
| 5 | 3 | 19 | 2 | 33 | 4 | 47 | 2 | 61 | 4 |
| 6 | 1 | 20 | 4 | 34 | 2 | 48 | 3 | 62 | 4 |
| 7 | 4 | 21 | 4 | 35 | 4 | 49 | 2 | 63 | 2 |
| 8 | 2 | 22 | 2 | 36 | 4 | 50 | 3 | 64 | 2 |
| 9 | 1 | 23 | 1 | 37 | 2 | 51 | 4 | 65 | 1 |
| 10 | 3 | 24 | 2 | 38 | 2 | 52 | 4 | 66 | 2 |
| 11 | 4 | 25 | 2 | 39 | 3 | 53 | 4 | 67 | 1 |
| 12 | 4 | 26 | 3 | 40 | 4 | 54 | 4 | 68 | 1 |
| 13 | 3 | 27 | 3 | 41 | 1 | 55 | 4 | 69 | 1 |
| 14 | 2 | 28 | 4 | 42 | 2 | 56 | 4 | 70 | 3 |

دریــم څپرکی

نـظم او نثـر

نـظم او نثـر

د نثر ډولونه

د نثر قالبونه

د نظم قالبونه

## نظم و نثر

د هرې ژبې ادب دوه ډوله آثار لري:

۱ـ منثور ۲ـ منظوم

**نثر:** عربي کلمه ده، چې په لغت کې شیندل، پاشل او تیتولو ته وايي. په ادبي اصطلاح کې هغه کلام چې د قافیې او وزن له بند څخه ازاد وي نثر بلل کېږي. په پښتو ادب کې نظم له نثر څخه لرغونی دی. نظم په ۱۳۹ هـ.ق کال د امیر کروړ په واسطه پیل شوی دی. د پښتو لومړنی نثري اثر (سالو وږمه) د ابو محمد هاشم ابن زید سرواني اثر دی. دغه کتاب د عربي د شعر فصاحت او بلاغت په اړه لیکل شوی و. دا کتاب اوس په لاس کې نشته. لیکوال يې په ۲۲۳هـ.ق کال زېږېدلی دی.

وروسته له هغه بل معلوم کتاب (تذکرة الاولیا) د سلیمان ماکو اثر دی، چې په اوومه پېړۍ د (٦١٢هـ.ق) په شاوخوا کې لیکل شوی دی. څرنګه چې دا کتاب موږ ته د پښتو لومړنی نثري بېلګه په لاس راکوي، نو د پښتو ادبي تاریخ کې ستر ارزښت لري. دغه نثر د موضوع له مخې تاریخي خو د جوړښت له مخې د ساده نثرونو په ډله کې راځي. اوس مهال ددې کتاب یوازې شپږ (٦) پاڼې په لاس کې لرو، چې د پښتو ژبې (۴) نومیالي شاعران او عارفان په کې راپېژندل شوي دي. له تذکرة الاولیا وروسته تر لسمې هجري پېړۍ بل کوم اثر په لاس کې نشته، خو پټه خزانه دا کتابونه او شاعران موږ ته راپېژني:

ـ (لرغوني پښتانه) د شیخ کټه اثر، (تاریخ سوري) د محمد بن علي بستي اثر او (تحفة الصالح) د ملاالله یار اثر چې دا ټول په (۷، ۸ او ۹مو) پېړیو کې لیکل شوي دي.

ـ په لسمه پېړۍ کې خیرالبیان د (بایزید روښان) اثر او مخزن الاسلام د (اخوند درویزه) اثر چې دا دواړه په مسجع نثر لیکل شوي او بایزید روښان په پښتو ادب کې د مسجع نثر بنسټګر دی، چې اخوند درویزه بیا مخزن الاسلان د بایزد په پیروۍ لیکلی دی.

**یوولسمه پېړۍ:** په دې دوره کې پښتو ادب ډېر وځلېد، چې په لاندې ډول ددې دورې د بېلابېلو فرهنګیالو کاروانه ښودل کېږي. لومړی تن خوشحال خان او د هغه د کورنۍ غړي دي چې په پښتو ادب کې يې لاندې آثار لیکلي دي.

- ✓ خوشحال خان خټک (دستار نامه) او...
- ✓ عبدالقادر خان خټک (ګلدسته) او...
- ✓ افضل خان خټک (تاریخ مرصع، عیار دانش) او...
- ✓ ګوهر خان خټک (ژباړلی سیرت، قلب السیر).

**د یوولسمې پېړۍ په اوږدو کې د هوتکیانو اثار:**

- ✓ نافع المسلمین په مسجع نثر د (ملانور محمد غلجي) اثر
- ✓ پټه خزانه د (محمد هوتک) اثر

- ✓ معرفت الافغاني د (پير محمد کاکړ) اثر
- ✓ د خان علوم (د احمد شاه بابا پښتو شرحه)(عبدالله فتاوي احمدشاهي)

**ديارلسمه پېړۍ:**

د ديارلسمې پېړۍ په اواخرو کې نوی او معاصر ادب ته لارې چارې برابرې شوې.

د مسجع او متکلف نثر پر خلاف ساده، عام فهمه او د ولس ورځنۍ محاورې ته نږدې نثر رامنځ ته شو. چې له دې جملې ځينې آثار په لاندې ډول دي:

- ✓ (غنچه روه) نورمحمد افغاني (۱۲۸۰ هـ.ق د تاليف کال)
- ✓ (گنج پشتو) مولوي احمد
- ✓ (شکرستان افغاني او بهارستان افغاني) مير احمدشاه رضواني
- ✓ (نقش نگين) ميا حسيب گل کاکاخېل (ژباړلی ناول)
- ✓ (توبة النصوح) ميا محمد يوسف (ژباړلی ناول)
- ✓ (هغه دغه، قصه خانۍ گپ) منشي احمدجان
- ✓ (قيام الدين خادم) خيالي دنيا، نوی ژوندون، پښتونولي.
- ✓ (گل پاچاالفت) غوره نثرونه، بله ډيوه، لوړ خيالونه ژور فکرونه.
- ✓ (صديق الله رښتين) د پسرلي ورمې، د هند سفر، د فکرپلوشې.
- ✓ (عبدالروف بېنوا) د زړه خواله

په کوزه پښتونخوا کې سيد راحت زاخېلي هنري نثر ته پراختيا ورکړه او نوې داستاني نمونې لکه: لنډه کيسه، ناول، طنز او نور يې په پښتو ادب کې دود کړل.

د پښتو نثر اوسنۍ دوره په ۱۳۰۰ هـ.ش څخه را شروع کېږي او نوي ژانرونه لکه: ناول، لنډه کيسه، ډرامه، ادبي راپورتاژ، ادبي ليکونه، يونليک، ادبي ټوټه او نور رامنځته شول.

## د پښتو نثر ډولونه

پښتو نثر د ليکنې طرز له مخې په لاندې ډولونه وېشل شوي دي.

**الف ـ د اوسنۍ نثر ډولونه**

❶ **ساده يا مرسل نثر:** هغه نثر دی، چې لفظي او معنوي صنايع پکې نه دي کارول شوي.

❷ **فني نثر:** چې ليکوال پکې خپل احساسات او عواطف هم ملگري کوي، يا په بله وينا د مطالبو د افادې لپاره له تخيلي ځواک څخه هم کار اخلي.

❸ **ساده ولسي نثر:** چې کټ مټ د خلکو په ژبه، چې ښنگه ويل کېږي، هغسې ليکل کېږي.

**ب ـ د پخواني نثر ډولونه**

❶ **متکلف نثرونه:** هغه نثرونه دي،چې د دري او عربي ژبو څخه اغېزمند شوي دي او د باسواده خلکو ترمنځ کارول کېږي. بېلګه يې د (تذکرة الاوليا) کتاب نثر دي، چې سلیمان ماکو په ۶۱۲هـ.ق کال په شاوخوا لیکلی دی.

❷ **مسجع یا قافیه وال نثر:** په دې ډول نثر کې لیکوال وزن لرونکې او مسجع کلمې د شعر د قافیو په څېر کاروي. په پښتو ادب کې ددې ډول نثرونو ډېرې ښې نمونې د ۱۰هجري پېړۍ په شاوخوا کې لیکل شوي دي. لکه: د بايزيد روښان (خيرالبيان) او د اخوند درويزه (مخزن الاسلام).

❸ **ساده او روان نثر:** په دې ډول نثر کې نه د مسجع نثر په ډول سجع او وزن تر سترګو کېږي او نه هم د متکلف نثر په څېر کړکېچن او پېچلی دی. بلکې لیکوال کوښښ کوي، چې نثر يې د خلکو له محاورې سره نږدې وي.لکه:د خوشحال خان خټک کتاب(دستارنامه) چې په ۱۰۷۶هـ.ق.

**د مانا او محتوا له مخې د نثر ډولونه**

د مانا او محتوا له مخې ډېر ډولونه لري:

❶ **حماسي نثري اثار:** چې پخواني او اوسني ملي حماسي مسايل او د اتلانو وياړلې کارنامې پکې بیان یا څېړل کېږي.

❷ **لنډه کیسه (شارټ سټوري):** لنډه کیسه د اوسني معاصر نثري ادب يو په زړه پورې ادبي ډول یا ژانر دی.هغه کیسې ته لنډه کیسه وايي، چې لنډه وي او له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتونو پورې ختمه شي. لنډ والی د هغې یوازینی شرط نه دی، بلکې باید مشخصه طرحه ولري، یو اصلي کرکټر پکې وي. لنډه وي، بې ځایه خبرې پکې ځای نه لري او ټولې برخې یې له بل سره متقابله اړیکه لري.

په غربي هېوادونو کې د شارټ سټوري په نوم هم يادېږي او په اوسني مفهوم په لوېديځ(غرب) کې د ۱۹میلادي پېړۍ په لومړیو دوه لسيزو کې پيدا شوې او بيا په نړۍ د نورو ژبو ادبیاتو ته ننوتې ده.

- ✓ لنډه کیسه پښتو ادب ته د لیکنې د يو ډول په توګه د ۲۰ میلادي پېړۍ په دویمه لسيزه کې راغلې ده.
- ✓ لومړی پښتون لیکوال، چې لنډه کیسه يې لیکلې سید راحت زاخیلي و، چې په ۱۹۱۷م کال د ((کونډې نجلی)) په نوم لومړنۍ پښتو لنډه کیسه لیکلې او چاپ کړې ده.
- ✓ په پښتونخوا کې له سیدراحت زاخیلي وروسته نورو لیکوالان هم لنډه کیسه لیکلې ده.
- ✓ په ۱۹۲۶م کال میا ازاد ګل د (مړي پيغام) لنډه داستان.
- ✓ د بدر ښو د سر بلند خان (نواب صاحب آشنايي).
- ✓ سید رسول رسا، حمزه شینواري، اس ای رحمان کاکاخېل، مفلس دراني، ادیب سرحدي او نور کسانو په پښتونخوا، په افغان پښتون، اسلم او نور مجلو او اخبارونو کې ډېرې غورې او معیاري لنډې کیسې چاپ کړې دي.

- ✓ په افغانستان کې لومړی پښتون چې لنډه کیسه يې لیکلې (پوهاند عبدالحی حبیبي) دی. چې د هغه لومړۍ لنډه کیسه د (توریالی پښتنې ) په نوم په ۱۳۱۵ش کال د طلوع افغان په مجله کې خپره شوې ده.
- ✓ وروسته بیا نورو هم په لنډه کیسه لیکلو پیل کړی. لکه: استاد ګل پاچاه الفت، سراج الدین سعید، قیام الدین خادم، عبدالقدوس پرهیز، غلام محي الدین زرمل وال، عبدالروف بېنوا....
- ✓ زموږ په هیواد کې له ۱۳۲۰ش کال راهیسې د لنډې کیسې لیکنې په برخه کې ډېر بنسټيز کارونه پیل کړل او په دې برخه کې پیاوړي لیکوال رامنځ ته شول.لکه:
  - ✓ میراجان سیال (دپښتونخوا افسانې) لیکوال.
  - ✓ موسی شفیق د (عبقریان) لیکوال.
- ✓ د رواني پېړی په پنځومه لسیزه کې ځینې لنډې کیسې دا دي. لکه: سره غالی، شاړې کوځې، ګیلې، تانده غوټی، موسکا، د خپو په وزرونو، سبا بیا ګډې باربرې، تیارې لارې رڼې کرښې، د آرمانونو خولی، او نورې د یادونې وړ دي.

❸ **طنز:** عربي کلمه ده، ناز، کرشمه، پېغور او مسخره کولو په مانا دی.

په ادبي اصطلاح کې له هنري ادبیاتو څخه هغه برخه ده، چې د لیکوالو موخه انتقاد دی، خو هغه ته د خندا یا تمسخر بڼه ورکوي او زیاتره مسایل یکې سرچپه (معکوس) بیانېږي.

❹ **ناول:** یوه لاتینې کلمه ده، په لغت کې نوي، تازه، عجیبه خبر ته وايي او په اصطلاح کې هغې کیسې ته ناول ویل کېږي، چې پکې د انساني ژوند بېلابېل اړخونه په هنري ادبي ژبه وړاندې کېږي.

- ✓ اصلي او فرعي کرکټرونه د چوکاټ په طرحه کې راځي او کیسه يې پیل، منځ او پای لری. توپیر يې له لنډې کیسې سره دادی چې پکې ټول موضوعات او پېښې په تفصیل بیانېږي.
- ✓ له لنډې کیسې لوی او له رومان څخه کوچنی وي. د ناول لیکنې پیلامه په لوېدیځ کې شوې او د ۱۸ میلادي پېړی په وروستیو کلونو کې ناول د یوه ادبي ډول (ژانر) په توګه په اروپا کې رامنځ ته شو.
- ✓ په انګرېزي ادب کې لومړنی ناول سمویل چرډسن سمویل د ((پامیلا)) په نوم په ۱۷۴۱م کال لیکلی او په ۱۷۴۲م کال يې خپور کړی دی. وروسته د نثري ادب دغه ډول لیکنه د نورو ژبو په ادبیاتو کې هم دود شوه.
- ✓ په ۱۹ میلادي پېړی کې ناول له انګرېزي ادب نه اوردو ژبې او له هغې څخه د ژباړې له لارې په پښتونخوا کې پښتو ادب ته راغلی دی. د (پټي نذیر احمد) لیکلې اوردو ناولونه (مراة العروس او توبة النصوح)) پښتو ته ژباړل شوي دي.

- ✓ میا حسیب ګل کاکاخېل په ۱۲۹۳هـ.ق (۱۸۷٦م) مرأة العروس د (نقش نګین) په نوم پښتو ته وژباړه او بیا په ۱۹۵۷م کال په پېښور کې چاپ شو.
- ✓ (توبة النصوح) میا محمد یوسف کاکاخېل په ۱۳۲۳هـ.ق (۱۹۰۵م) کال ژباړلی او همدغه کال په پېښور کې چاپ شوی.
- ✓ وروسته بیا د ناول لیکلو هنر د پښتنو ترمنځ زیاد شو او لومړی لیکوال، چې پښتو ناول یې لیکلی سید راحت زاخېلی دی، چې د (ماه روخی) په نوم ناول یې لیکلی. چې د هغه ناول لومړی په پېښور په ۱۹۱۰م کال بیا په کابل کې په (۱۳٦۳هجري) کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي له خوا خپور شوی دي.
- ✓ په پښتونخوا کې بیا تر ۱۹۵۰م کال د بل چاپ شوي ناول څرک نه لیدل کېږي، خو په همدغو کلونو کې لاندې کتابونه چاپ شوي دي.
- ✓ په ۱۹۵۰م کال د صاحب زاده محمد ادریس ناول (پېغله) په نوم.
- ✓ په ۱۹۵۷م کال د حمزه شینواري (نوې چپې)، د رشیدعلي دهقان(دسرو تعویز).
- ✓ د سیدرسول رسا پینځه ناولونه (مفرور، شمی، خودکشي، مامونی، میخانه).
- ✓ ډاکټر شېرزمان غمژن طایزي (ګلخان، امانت، رحمان کورونه، غونډۍ، واده ونه شو).
- ✓ په افغانستان کې د پښتو ناول لیکلنې پیل په ۱۳۱۷ل.ل کال د برهان الدین کشککي په په لیکي او چاپ شوي ناول(پټه مینه) سره شوی دی.
- ✓ په ۱۳۱۸ل.ل کال د محمد رفیع قانع (دووه سره مین ورونه)
- ✓ قتیل خوګیانی (دوه یاران)
- ✓ د غلام غوث خیبري (اور لمبې)
- ✓ ابدالي (توره تاریخي ناول)
- ✓ کبرامظهري(سپوږمی)
- ✓ محمد عیان عیان (چپه کښ)
- ✓ د محمدابراهیم عطایي تاریخي ناول (د آسیا په کې توپان)

❺ **رومان:** رومان فرانسوي کلمه ده چې معنی یې خیالي داستانونه دي او له ناول نه اوږده وي، خو له ناول سره یې توپیر دا دی چې په ناول کې واقعیتونه د عملي اوصولو له مخې او په رومان کې په خیالي ډول څېړل کیږي.

❻ **داستان:**

- ✓ د حماسي ادب یو ځانګړی فورم دی.
- ✓ له لنډې کیسې لوی او له ناول څخه وړوکی دی.
- ✓ تخیلي جوانب پکې زیات دي.
- ✓ د داستان قهرمان ژوند باندې دېره رڼا اچول کېږي.

❼ **ډرامه:**

✓ یوه یوناني کلمه ده، چې په لغت کې ډراو(عمل) مانا لري.

✓ په اصطلاح کې: هغه ډیالوګ چې د خبرو اترو په شکل کې وي او دا خبرې اترې د لوبغاړو ترمنځ رواني وي.

✓ د یوې ژوندۍ کیسې نوم دی.

✓ ټول جذبات او احساسات یې د حرکت په واسطه څرګندېږي او هره پېښه عملاً په سترګو کتل کېږي.

✓ تخیلي برخه یې ډېره وي.

✓ ډارمه دوه ډوله ده: (کمېډي او تراژېدي).

✓ د جوړښت له مخې درې ډوله ده(راډیويي، ټلویزیوني او سټېجي).

✓ هره ډرامه درې برخې لري(پیل، اوج او پای).

✓ په ډرامه کې د وخت وحدت، مکان او د عمل وحدت بنسټیز توکي دي.

✓ په پښتو کې لومړۍ ډرامه د عبدالاکبرخان اکبر (درې یتیمان) په نوم ده، چې په ۱۹۲۷م لیکلې ده.

❽ **ادبي راپورتاژ:**

✓ د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ژانر ده، چې لیکوال پېښو ته په دقیق نظر ګوري او له هغو څخه خپل برداشت د تخیل په ملتیا په خوږه هنري ژبه وړاندې کوي.

✓ له عادي راپور تاژ سره فرق یې دادې، چې پکې د پیښې تعبیر، تفسیر او تحلیل په ادبي او هنري ژبه کې کېږي.

❾ **سفرنامه:** په سفر نامه کې سفر کوونکی د سفر خاطرات د قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي. په سفر نامو کې علمي موضوعات هم پیدا کېږي او په نړیوال ادب کې ډېر مخینه لري.

❿ **ادبي لیکونه:** هغه لیکونه دي، چې په ځانګړې ادبي او هنري شکل لیکل کېږي او په ادبي لیکونو کې یو شمېر انتقادي، سیاسي، ادبي او فلسفي موضوع ګانې لیکل کېږي او د ادیبانو ترمنځ تبادله کېږي. له استعارې، کنایې او تشبیهاتو څخه پکې کار اخیستل کېږي.

➲ **نظم:** په لغت کې د مرغلرو پېیلو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې موزون او قافیه وال کلام ته وایي او پښتو ژبه دوه ډولونه شعر یا نظم لري.

❶ **ولسي یا ملي شعرونه:** یوازې په پښتو ژبه موجود دی او په دوه ډولونه دي:

**الف ـ عام ولسي شعرونه:** هغه دي، چې شاعر یې معلوم نه وي لکه: لنډۍ، د اتڼ نارې، د ماشومانو نارې، د میندو نارې، سروکې، د نکلونو نارې، کاکړۍ غاړې، تاریخي نارې، منظوم فالونه او منظوم متلونه.

✓ **لنډۍ:** هغه اشعار دي، چې شاعريې معلوم نه وي، ددې اشعارو لومړۍ مسره ۹ سېلابه او دوهمه مسره يې ۱۳ سېلابې لري.

که په میوند کې شهید نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

**ب ـ خاص ولسي شعرونه:** شاعر او ويونکی يې معلوم او د ولس پېژندل شوي خلک وي.

لکه: غزل، رباعي(مقام)، چاربيته، لوبه، بګتۍ او داستانونه...

❷ **عروضي يا دېواني شعرونه:** دا ډول د فارسي، عربي او پښتو له يوې برابرې قاعدې سره ويل کېږي او لاندې قالبونه لري. لکه: غزل، قصيده، رباعي، مثنوي، مربع، ترجيع بند، ترکيب بند، مخمس، مسدس، قطعه او....

**غزل:** په لغت کې له ښځو سره خبرو ته ويل کېږي او يا هغه شعر، چې موضوع يې مينه او عشق وي. خو په ادبي اصطلاح کې هغه شعري قالب چې د لومړي بيت مصرې يې د نورو بيتونو له دوهم بيت سره هم قافيه وي.

✓ په غزل کې هر ډول موضوعات بيانېږي او د بيتونو شمېر يې له ۵ تر ۱۵ او کله کله تر ۲۰پورې هم رسېږي.

✓لومړی بيت يې مطلع او وروستی يې مقطع ده، چې معمولاً شاعر پکې خپل نوم يا تخلص ذکر کوي.

ـــــــــــــ ق ـــــــــــــ ق

ـــــــــــــ ب ـــــــــــــ ق

**بولــــه:** د قصيدې پښتو نوم دی، د قصيدې لغوي مانا قصد او اراده ده. په ادبي اصطلاح کې هغه شعري ډول دی، چې تر يوې مطلع لاندې ويل کېږي او اوږده ډول ډول مضامين پکې راوړل کېږي. د بيتونو شمېر يې له ۲۰ څخه نيولې بيا تر ۲۰۰پورې رسېږي.

**مثنوي:** د مشترکو نظمونو يو ډول دی، چې د هر بيت دواړه مسرې يې يو ډول قافيه ولري. ياني هر بيت يې په جدا قافيه ويل کېږي. اوږده اوږده مطالب، تاريخي، رزمي، اخلاقي، عرفاني او داسې نور موضوعات پکې ډېر ښه بيانېدای شي.

ـــــــــــــ ب ـــــــــــــ ب

ـــــــــــــ ل ـــــــــــــ ل

ـــــــــــــ ر ـــــــــــــ ر

## دریم تمرین

1)د پښتو لومړني نثري اثر د محمدهاشم سرواني اثر څه نوميږي؟

۱) غنچه روه ۲) سالو وږمه ۳) نسیم ریګستان ۴) ۲ او ۳ سم دي

2)(تذکرة الاولیا) د چا اثر دی؟

۱) بایزید روښان ۲) پیرمحمد کاکړ ۳) هاشم سرواڼي ۴) سلېمان ماکو

3) (تاریخ سوري) د چا اثر دی؟

۱) محمد بن علي بستي ۲) بایزید روښان ۳) شیخ کته ۴) هېڅ یو

4)کوم کتابونه په مسجع نثر کې لیکل شوي دي؟

۱) نافع المسلمین ۲) ټول سم دي ۳) خیرالبیان ۴) مخزن الاسلام

5) (ګنج پښتو) د چا اثر دی؟

۱) مولوي احمد ۲) صدیق الله رښتین

۳) میا حسیب یوسف ۴) منشي احمدجان

6)پښتو نثر د لیکنې طرز له مخې په کومو برخو وېشل شوی دی؟

۱) فني نثر ۲)ساد یا مرسل نثر

۳) ساده ولسي نثر ۴) ټول سم دي.

7)ادبپوهانو د پښتو پخواني نثرونه په کومو ډولونو وېشلي دي؟

۱) متکلف نثرونه ۲) مسجع یا قافیه وال نثرونه

۳) ساده او روان نثر ۴) ټول سم دي

8)د معنا او محتوا له مخې د نثر ډولونه کوم دي؟

۱) حماسي، غنایي ۲) تاریخي، دیني

۳) فلسفي، اخلاقي، علمي، انتقادي ۴) ټول سم دي.

9)ادبپوهان اوسنی نثر د بڼې او شکل له مخې په کومو ډولونو باندې وېشي؟

۱) متکلف ۲) فني

۳) ساده او هنري ادبي ۴) ټول سم دی.

10) ادبي نثر له کوم میلادي کال را وروسته ډېره وده او پراختیا موندلې ده؟

۱) ۱۷۵۰م ۲) ۱۹۰۰م ۳) ۱۹۵۰م ۴) ۱۸۳۰م

11) کوم هنري نثر دی، چې د شکل په لحاظ له لنډو کیسو څخه وږه او هر ډول مطالب پکې راتلای شي.

۱) ناول ۲) ادبي ټوټه ۳) داستان ۴) ډرامه

12) لنډه کیسه پښتو ادب ته د لیکنې د یو ډول په توګه په کومه میلادي پېړۍ کې لار مونده؟

۱) ۲پېړۍ　　۲) ۲۰پېړۍ　　۳) ۱۰پېړۍ کې　　۴) ۱۳پېړۍ کې

13) لومړی پښتون لیکوال چې په پښتونخوا کې یې لنډه کیسه لیکلې څوک دی؟

۱) پیرمحمد کاکړ　　۲) خوشحال خان　　۳) سیدراحت زاخېلی　　۴) میا ازآد ګل

14) په افغانستان کې لومړی پښتون (عبدالحی حبیبي) د څه په نوم لنډه کیسه ولیکله؟

۱) توریالی پښتنه　　۲) غنچه روه　　۳) د مرۍ پیغام　　۴) عبقریان

15) کومه یوه، عربي کلمه ده؟

۱) ناول　　۲) ډرامه　　۳) طنز　　۴) شارټ ستوري

16) په انګریزي ادب کې لومړی ناول سمویل چرډسن سمویل د څه په نوم لیکلی دی؟

۱) پاميلا　　۲) سمویل　　۳) نقش نګین　　۴) هېڅ یو

17) (پېغله) ناول د چا اثر دی؟

۱) حمزه شینواری　　۲) صاحب زاده محمد ادریس

۳) سیدرسول رسا　　۴) رشید علي دهقان

18) په افغانستان کې د پښتو ناول لیکنې پیل په کوم لمریز کال وشو؟

۱) په ۱۳۱۸ لمریز کال، محمد رفیع قانع　　۲) په ۱۹۵۷م. کال، حمزه شینواری

۳) په ۱۳۱۷ل. کال، د برهان الدین کشککي　　۴) په ۱۳۱۹ل. کال، قتیل خوګیانی

19) هر ډول ډرامه څو برخې لري؟

۱) ۲　　۲) ۱　　۳) ۴　　۴)۳

20) پښتو څو ډوله شعر یا نظم لري، نومونه یې ولیکئ؟

۱) ۲ډوله　　۲) ولسي یاملي

۳) عروضي یا دیواني شعرونه　　۴) ټول سم دي

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ځوابونه کلی | | | | | | | | | |
| 1 | 4 | 5 | 1 | 9 | 3 | 13 | 3 | 17 | 2 |
| 2 | 4 | 6 | 4 | 10 | 3 | 14 | 1 | 18 | 3 |
| 3 | 1 | 7 | 4 | 11 | 2 | 15 | 3 | 19 | 4 |
| 4 | 2 | 8 | 4 | 12 | 2 | 16 | 1 | 20 | 4 |

# څلورم څپرکی

## بــديع

بـديع

لفظي صنعتونه

معنوي صنعتونه

## بدیع

- بدیع د ابي فنونو یوه برخه ده، چې لغوي مانا یې تازه او حیرانونکی شی دی. په ادبي اصطلاح کې هغه پوهنه ده، چې د وینا او کلام له ښکلا او هغو صنایع څخه بحث کوي چې نظم او نثر ته ښکلا وربښي.
- د بدیع د علم وضع کوونکی (عبدالله بن معتز) و. چې په ۲۷۴هـ.ق کال په دې اړه په عربي ژبه یو مفصل کتاب تالیف کړی او ورو ورو دغه علم نورو ژبو ته هم خپور شو. د بدیع علم موضوع فصیحه او بلیغه ادبي وینا ده او هغه څه چې د بلیغې وینا سبب کېږي، ادبي صنعتونه بلل کېږي او په دوه ډوله دي.

### ۱ـ لفظي صنایع ۲ـ معنوي صنایع

❶ **لفظي صنایع:** هغه دي چې د کلام ښکلا په کلمو پورې تړاو ولري نه په مانا پورې. که چېرې دغه ښکلا په مانا پورې وتړو د کلام ښکلا له منځه ځي. د لفظي صنعتونو شمېر ډېر زیات دي، چې یو شمېر یې داي. لکه: تجنیس او د هغه ډولونه، قلب، ذوالقوافي، اشتقاق، ترصیع، سیاقالاعداد، معما، المربع، تکرار، تضمین، منقوط، غیر منقوط، سجع او نور؛ چې ځینې مشهور یې لولو.

- **تجنیس:** په لغت کې هم جنس کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه صنعت دی، چې د شعر په یو بیت یا نیم بیتي کې دوه یا زیاتې داسې کلمې راشي،چې په لیک او لوست کې سره یو شان او یا سره ورته وي او په مانا کې توپیر ولري او دا لاندې ډولونه لري.

❶ **تام تجنیس:** هغه دی، چې په لیک او لوست کې یو شان خو مانا یې فرق ولري. لکه:

فراق په ما خوري د زړګي ویني
آشنا مې نشته الله مې وینـــــي

په پورته لومړۍ مسره کې (ویني) د خون په مانا او دوهمه مسره کې (ویني) د دیدن په مانا راغلی دی، چې تام تجنیس بلل کېږي.

❷ **ناقص تجنیس:** هغه دی، چې کلمې دشکل له مخې سره یو شان، خو په تلفظ او مانا کې توپیر لري.

د یار غم راسره څه وایم چې څه کړي
تل مې ویني د زړه روي لکـــــه روی
(رحمان بابا)

په پورته بیت کې (روي، روی) متجانبسې کلمې دي، چې لومړی روي په لړ او دوهم روي په ډېر فشار سره ویل کېږي او بېلې ماناوې لري.

❸ **زاید تجنیس:** هغه دی، چې د متجانبسو کې، په یوه کلمه کې یو توری اضافه راغلی وي. لکه:

هر بنده چې بندګي کا په اخـــلاص
د ښبتن له عذابونو به شي خلاص

❹ **مرکب تجنيس:** هغه دی، چې په متجانسو کلمو کې يوه ساده او بله مرکبه کلمه وي. لکه:

چې په سترګو خراغ ووينې پتـــنګ
خو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ

د پورته بيت په لومړۍ مسره کې پتنګ او په تنګ دوه بېلابېلې کلمې دي، چې لومړۍ ساده او دوهمه مرکبه کلمه ده.

❺ **خطي تجنيس:** هغه دی، چې متجانسې کلمې يوازې په ليکلو کې سره يو شان وي او د لوست، مانا او ټکو له مخې سره توپير ولري، لکه: پور، تور، يور، خپل، ځپل او...

دلته ژوند قبيلوي دی، قبيله لکه قـــبله ده
توجه ورته لري ټول که صغير دی که کبير

❻ **مطرف تجنيس:** هغه دی، چې د متجانسو کلمو ټول توري يو شان وي، خو يوازې يو توری يې توپير ولري. لکه: د عبدالقادرخان لاندې بيت

د يار ياد لکه صيقل زړه پرې صفا که
آئينې دې د خاطر ونيوه زنــــــګ

❼ **مکرر تجنيس:** هغه دی، چې متجانيسې کلمې په بيتونو کې په پرله پسې ډول راشي. لکه:

بوی د زلفو چې مې تېر شو تر مشام شام
و بلبل ته مې د زړه ږدې ګل انـــدام دام
په خندا به سور کفن له قبره پاخـــــم
دا مسيح که مې لږ واخلې په دشنام نــام

### قلب:

په لغت کې سرچپه کولو ته وايي او د بديع علم په اصطلاح کې هغه وينا ده، چې د بيت په دوو يا زياتو کلمو کې داسې کلمې راوړل شي، چې توري يې په ليکلو او شمېر کې سره يو شان خو په مانا او ترتيب کې سره توپير ولري. قلب څلور ډولونه لري:

❶ **قلب کل:** هغه دی، چې د مقلبو کلمو ټول توري اوښتي وي. لکه:

زلفې په مخ کړه خم په خم
کېنه و ماته مخ په مـــخ
کېنه وماته مخ په مـــخ
زلفې په مخ کړه خم په خم

❷ **قلب البعض:** هغه دی، چې په مقلوبو کلمو کې، ځينې توري اوښتي وي. لکه:

که څه وایم د دلبر له تورو زلفـــو

له **سواده** مې په سر کې ده **سودا**

❸ **قلب مستوی:** هغه دی، چې مقلوبې کلمې له دواړو خواو څخه یو شان لوستل کېږي. لکه: درد، دزد، گرگ، سگ مگس، کمک، نادان او...

سگ مگس خو سگ مگس دی نور به نه شي

کـه هر څو واوړي کاواک کـــــــاواک دی

❹ **قلب المجنح:** هغه دی، چې له مقلبو کلمو څخه یوه د بیت په سر او بله په پای کې راشي. لکه:

**مال** میم د خولگۍ را او جیم د زلفو

یم لوېدلی په بلا کې لکـــــــه **لام**

**المربع:**

که یوه رباعي په عمودي او افقي ډول یو ډول ولوستل شي، نو دغه ډول صنعت ته المربع ویل کېږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| دیار | له غمه | په زړه | افگار یم |
| له غمه | په زړه | دردمند یم | خوار یم |
| په زړه | دردمند یم | هره گوره | بیمار یم |
| افگار یم | خواریم | بیمار یم | زار یم |

❶ **تضمین:** د سند او مثال په توگه شاعر د خپل کلام د تقوې لپاره د مضمون د تامې اړیکې په وخت د بل چا د نظم یوه ټوټه، نیم بیتي، یو بیت یا څو بیتونه راوړي، چې دې ډول صنعت ته تضمین وایي:

چې ډولونه یې دا دي: ابداع یا رفو تضمین، استعانه، مصرع تضمین، له تصریف سره تضمین او بې تصریفه تضمین.

((دا په مخ یې د خط لیکه دوتا راغله))

که کعبې لره مشکینه قبا راغلــــــه

پورته بیت د ببدل هشنغري دی، چې لومړی مسره یې د حمید مومند راخیستې او تضمین کړی دی، چې د حمید ټول بیت په لاندې ډول دی:

دا په مخ یې د خط لیکه دوتا راغله

گویا مخ لره دې توره بلا راغلـــه

**ترصیع:** عربي کلمه ده، په لغت کې د جواهرو کېنولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه صنعت دی، چې شاعر خپل یو بیت په څو برخو وېشي او هره برخه د بلې برخې په مقابل کې داسې راوړي چې په وزن کې سره برابره وي.

په حالت د عاشقانو نظر بویــه
په زیارت د شهیدانو گذر بویه

په پورته بیت کې (حالت ـ زیارت)، (عاشقانو- شهیدانو) او نظر – گذر) یو د بل په مقابل کې راغلي دي.

➲ **سجع:** په عربي ژبه کې سجع د قمرۍ او کوترې آواز یا موزون او مقفي آهنگ ته ویل کېږي، چې دغه صنعت په درې ډوله دی:

❶ **متوازي سجعه:** هغه ده، چې د دوو مسرو په اخر کې داسې کلمې راوړل شي، چې د تورو په شمېر، وزن او روي کې سره متفقې وي لکه: د عبدالقادر خان خټک لاندې بیتونه:

بد یم دا نه وایم زه ښاغلی یـــــــم
په مریي والي ستا راغلی یــــــــم
مرگ مې قبول دی شرړل دې نه وي
تښتی بنده یم درته راغلی یــــــــم

❷ **مطرفه سجعه:** هغه ده، چې د دوو مسرو په اخر کې داسې کلمې راوړل شي، چې د روي په تورو کې متفقې ، د تورو په شمېر او وزن کې توپیر ولري. لکه: د رحمان بابا دا بیت:

خبر نه یم چې یې راوستم له کومـــــه
بیا مې کومې خواته استوې چې درومه

❸ **متوازنه سجعه:** هغه ده، چې په دوو مسرو کې داسې کلمې راوړل شي، چې هره یوه له خپل نظر سره په وزن کې برابره وي، خو د روي په تورو کې توپیر ولري. لکه: د قادر خان خټک بیت:

بند یې، په تاریم د دوو زلفینـــــو
مست یې، په جام یم د دوو عینېنو

➲ **ذوالقوافي:** هغه شعر دی، چې له دوو زیاتو قافیو لرونکی وي او که د قافیو تر منځ ردیفونه هم وي نو بیایې ذوالقوافي مع الحواجب بولي، لکه په دې بیت کې:

چا د شرف ور کې د لیلا نه جلباب لرې کړ
چا د ژوند سفر کې د حیا نه شباب لرې کړ

په پورته بیت کې (ور- سفر)، (لیلا – حیا)، (جلبات - شباب) د قافیې کلمې دي او (لرې کړ- لرې کړ) یې د ردیف په توگه راغلي دي.

➲ **معما:** د یو نظم یا نثر په برخه کې یو نوم یا د یوښي تاریخ په رمز راوړلوته معما وایي.

د خوشحال خان خټک د دستار نامې د لیکلو تاریخ په دغه بیت کې د ابجد تورو په وسیله ویل شیوی دی.

د خوشحال خان دستارنامه خو ده رنګینـــــه
د زندان کې دا ویلې (بس دی محنت د بېلتانه)

څرنګه چې ګورو (بس دی محنت د بېلتانه) د ابجد تورو پر اساس ۱۰۷٦ کېږي، چې ددغه کتاب د لیکلو نېټه ده.

د ابجد تورې په لاندې ډول لوستل او شمېرل کېږي:

| ابجد توری | شمېرل | ابجد توری | شمېرل | ابجد توری | شمېرل | ابجد توری | شمېرل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ابجد | 1 | هوز | 2 | حطی | 3 | کلمن | 4 |
| سعفص | 5 | قرشت | 6 | ثخذ | 7 | ضظغ | 8 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ا = آ = ۱ | ل =۳۰ | ث = ۵۰۰ | ډ = د |
| ب =پ= ۲ | م =۴۰ | خ =۶۰۰ | ڼ = ن |
| ج = ۳ | ن =۵۰ | ذ =۷۰۰ | ړ = ک = گ |
| د = ډ =۴ | س =٦۰ | ض =۸۰۰ | |
| هـ = ۵ | ع =۷۰ | ظ =۹۰۰ | |
| و = ٦ | ف =۸۰ | غ =۱۰۰۰ | |
| ز= ژ= ۷ | ص =۹۰ | پ = ب | |
| ح =۸ | ق =۱۰۰ | ټ = ت | |
| ط =۹ | ر = ړ =۲۰۰ | چ = ج | |
| ی =۱۰ | ش=ښ=۳۰۰ | ځ = ز | |
| ک =۲۰ | ت =۴۰۰ | څ = س | |

**2 معنوي صنعتونه:** معنوي صنعتونه هغو ادبی صنعتونو ته ویل کېږی، چې د کلام ښکلا په مانا پورې تړې. که کلمې ته د مانا په ساتلو بدلون ورکړو بیا هم ښکلا په خپل ځای پاتې کېږي. د معنوي صنعتونو شمېر هم ډېر دی. لکه: تضاد یا طباق، ایهام، لف ونشر، عکس وتبدیل، عارفانه تجاهل، التفات، جمع، تفریق، مراعات النظیر، ارسال لمثل، تعجب، مبالغه، حسن تعلیل، استدلال، مخاطبه، هجو، جوع او نور.

**طباق (تضاد):** په یو کلام یا شعر کې چې متقابل الفاظ، لکه؛ رڼا تیاره، شپه او ورځ، ژړا او خندا او نو ر یو ځای سره راوړل شي د طباق صنعت بلل کېږي. د مثال په توګه د عبدالقادر خان خټک او بصیر عابد په لاندې دابیتونو کې:

چې یې تلمه په خندا خندا دیدار تـــه
اوس یې یې دورمم په ژړا ژړا مزار تـــــــه

غریب وژني تېرنه تښتـــي

خان لا خان کړي له ناکامه

په پورته لومړي بیت کې (خندا خندا او ژړا ژړا)، په دوهم بیت کې (غریب او خان) د طباق کلمې دي.

طباق درې ډولونه لري. لکه: اسمي، فعلي، ایجابي او سلبي.

**الف ـ اسمي طباق:** هغه دی، چې د دوو نومونو یا صفتونو تر منځ متقابل الفاظ راوړل شي لکه: د بصیر عابد لاندې بیت:

ترې چاپېره کله سر کله پښو ته تلـې

ترخه او که خوږه وه لاړه تېره شوه

په پورته بیت کې (ترخه او خوږه) دواړه صفتونه دي، چې په یو بیت کې متقابل سره راغلي نو اسمي طباق یې جوړ کړی دی.

**ب ـ فعلي طباق:** هغه دی، چې د دوو فعلونو ترمنځ راشي. لکه: د بصیرعابد دا لاندې بیت:

د اوړي وربځه او باران شـــــــوې

دا اوس راغلې بیا روان شوې

د پورته بیت په دوهم نیم بیتي کې (راغلې او روان) فعلونه دي، چې لومړ (راغلې) د (امدي) او (روان) د (رفتن) په مانا دی. دا چې یو د بل په مقابل کې راغلي نو فعلي طباق یې جوړ کړی دی.

**ج ـ ایجابي او سلبي طباق:** دا هغه طباق ته ویل کېږي، چې د دوو فعلونو تر منځ راشي، خو دا فعلونه باید له یوې مادې څخه راوتلي وي، چې د منفي، مثبت، امر او نهې په شکل راوړل کېږي.

لمر وته نه ګورم، ګورم خپل نګــــــــار ته

ګل ته نظر نه کړم، کړم نظر هغه رخسار ته

**مراعات النظیر(تناسب) :** که چېرې په یوه جمله یا د شعر دبیت په یوه مسره کې د کوم شي یادونه وشي او په وروسته جمله یا نیم بیتي کې د هغه یاد شوي شي، نور ملایمات او مناسبات وویل شي نو دغه ډول صنعت ته مراعات النظیر وایي:

د زړه شمعه مې د عشق له غوړو ډکه

ژر پرې لګه د مجبوب د دیـــدن اوره

د ښایست مرغه د خط په پرو والوت

د عاشق په زړه یوه نرمه هوا راغـــله

(علي خان)

سینه مې دېګ زړګی مې غوښـــــــې
اوښکې اوبه دې بېلتون اور پسې کوینه
(لنډۍ)

خریدار یې لـــــــه حیرته بې شعور شي
چې د حسن رخت څرګند کا په دکان خپل
(رحمان بابا)

په لومړي نیم بیتي کې شاعر وايي، چې ما د خپل زړه شمع د تېلو په ځای د عشق او محبت له صفا او سوچه غوړو ډکه کړې، د رڼا کولو لپاره د یوې شعلې ضرورت دی، ژر راته خپل دیدار راکړه، چې اور ورباندې بل شي او زړه مې روښانه شی.

همدارنګه په بل بیت کې دمارغه کلمه راوړل شې، چې په هوا، خط، الوت د هغې متناسبې کلمې دي.

**لف و نشر:** که یو شاعر په یو بیت یا مسره کې ځینې مطالب د اجمال په صورت کې راوړي او په بل بیت یا مصره کې د هغې هر یو متعلق څه بله مانا راوړل شي، (لف و نشر) بلل کېږي.

مخ که دې ګلشن دی یا څراغ دی یا سورګل
زه باندې بورا یم، یا پتنــــــــګ یم یا بلبل

دلته شاعر به لومړي نیم بیتي کې (ګلشن، څراغ، سورګل) یاد کړي او په بل نیم بیتي کې د هغوی مطابق (بورا، پتنګ، بلبل) یاد کړي دي، چې یو له بل سره مناسبت لري.

لف او نشر په مرتب او غیرې مرتب لف و نشر وېشل کېږي.

**1 مرتب لف و نشر:** که تفصیل د اجمالي ذکر سره په ترتیب کې برابر وي، مرتب لف و نشر یې بولي. لکه:

دا څه یار دا څه جانان دا څه اغیار دی
دا څه ګل دا څه بلبل دا څه زغن دی

په پورته نیم بیت کې (یار، جانان، اغیار) او په دوهم نیم بیتي کې د هغوی تعبیر (ګل، بلبل، زغن) په ترتیب سره راغلي، چې دې ښایست ته مرتب لف و نشر ویل کېږي.

**2 غیرې مرتب لف ونشر:** که تفصیل له اجمال سره یا په دویمه مصره کې مربوطې ماناګانې په منظم ډول نه وي راغلي، دغه ډول صنعت ته غیرې مرتب لف و نشر وايي. لکه: د رحمان بابا په دې لاندې بیت کې:

کج زلفان کج ابروان لکه چې ستا دي
نه لــــړم شته نه ماران دا هسې شوخ

په پورته بیت کې له زلفو سره مناسب مار او له ابرو سره مناسب لړم دی، مګر شاعر لړم او مار ترتیب سره نه دي راوړي، په دې نسبت غیرې مرتب لف و نشر بلل کېږي.

**عکس و تبدیل:** کله چې شاعر د لومړۍ مسرې یا فقرې کلمې په دوهمه فقره یا مسره کې راوړي او د مانا تضاد ورڅخه رامنځ ته شي، د عکس و تبدیل صنعت ورته ویل کېږي.

ما به سل کرته یاد کړې تـه رانغلې
زه به سل کرته درشم که تا یاد کړم
سخي که لک ورکا و ده ته کک وي
بخیل که کک ورکا و ده تـه لک وي

د پورته بیتونو په لومړي بیت کې د اول نیم بیتي کلمې په دوهم نیم بیتي کې سره اوښتي دی او د مانا تضاد را منځ ته شویو سل رته یادول یو کرت ورتلل، او سل کرته تګ یو کرت یادول د صنعت له مخې عکس او تبدیل دی.

او همدا رنګه د سخي لک ورکول کک ګڼل او د بخیل کک ورکول لک ګڼل سره تضاد لري او بلې خوا د بیت د لومړي نیم بیتي کلمې په دوهم نیم بیتي کې سره اوښتي او د عکس او تبدیل صنعت ترې جوړ شوی دی.

**حسن تعلیل:** د یو وصف لپاره د یو غیرې حقیقي، مګر لطیف او مناسب سبب چې شاعر د یو صنعت لپاره داسې علت پیدا کړي، چې په اصل حقیقت کې یې سبب نه وي مګر د لطافت او حسن له کبله یې دغه صنعت ته نسبت کېدای شي. لکه: د حمید مومند لاندې بیتونه:

چې نظر یې د ګل رخ ســاقي پر مخ شو
د نرګس له لاسه جام پرېـوت نسکور شو
وغړوه سترګې زلفې لرې لــه رخسار کړه
ستا لیدو ته رېږدي لمر په پاڼو کې د ګلو
په غرور د حسن لمر وخوت آسمان ته
ژر را پرېوت چې یې ستا ښه بشر ولید
(الفت)

که دي پورته بیت ته وګورو، نو د هغه محبوب لیدنه، چې د شرابو جام هم په لاس کې ولري، د نرګس پر ګل دومره اغیزه کوي، چې خپل جام یې له لاسه پرېوځي او نسکورېږي. په دوهم نیم بیتي کې شاعر د یار مخ لیدل د لمر د رېږدېدلو او خوځېدلو علت ګڼي.که څه هم په حقیقت کې دغه علت نشي کېدلی خو ډېر ښه لطافت لري.

**رجوع:**

رجوع په لغت کې بېرته راګرځېدلو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی، چې یو څوک یو مطلب یو ځل څرګند کړي او بیا په وروستۍ جمله یا نیم بیتي کې د یو خاص غرض لپاره خپله کړې خبره باطله کړي او له خپل مطلب څخه وګرځي. لکه د خوشحال خان خټک لاندې بیت:

که ښه وایم و چاته هم یې بــــد نیسي په زړه کې
یا بخت دی د مغلو یـــــا زما څه عقل کـــم دی
نه بخت دی دمغلـــــــو هنه زما څه عقل کم دی
دا کل واړه پیري ده، چې مې کار درهم برهم دی
د ملاخیال دې زه حنان لکه وېښته کړم
نه غلط شوم کلــه موی هسې میین شته
(حنان بارکزی)
ښه ده سرو ونه، نه چې ښه ده ستا پر قــــــــد
شهد که شیرین دي شیرین نه دي تر گفتار ستا
ښې د هوســـــی سترگې، نه ښې ستا تر سترگو
ښه د زرکو یـــون دی نه چې ښه دی تر رفتار ستا

په لومړي بیت کې گورو؛ چې شاعر یو ځل په خپلې کم عقلۍ او بدبختۍ باندې اقرار کړی او بیا له خپلې خبرې څخه بېرته گرځېدلی او علت یې زړښت په گوته کړی. همدا شان په نور بیتونو کې...

**عارفانه تجاهل:**

هغه صنعت دی، چې شاعر خپل ځان په یوه شي باندې نا پوه او بې خبره اچوي خو په داسې حال چې دغه مطلب ورته ښه معلوم دی. لکه: علي خان چې وایي:

دا د دلبر مخ دی، چې له شاله نیم لیده شي
یا زېړوتی نمر دی، چې لیده شي نیم له غره
دا یې خط دی چې پر مخ دی گرځېدلی
که زنگیان دي په حــــــــرم کوي طواف

غړوسکه غړوسکه ورېځې وینم د آسمان غبړ کې گډیږي
که په سپینو مخو باندې اوربلونه تــــــــــــور ښکاریږي
(الفت)

له لومړي بیت کې معشوقې خپل ښکلی مخ د ژېړ شال شاته پټ کړی او لړه برخه یې ښکاریږي شاعر ځان نا پوه اچولی او وایي؛ چې دا دمازیگر لمر دی که دیار مخ:

عارفانه تجاهل لاندې څلور ډولونه لري:

❶ **مدحه یا ستاینه لکه:**

سهار بوی دا ستا د زلفو نسیم راوړ
که عطار نافې د مشــــکو دی ارتی

❷ **تحیر یا حیرت:** هغه صنعت ته ویل کېږي؛ چې شاعر په خپل شعر کې داسې ۱اظ راوړي چې ځوک حیرت کې اچوي:

هر څه په خوراک سره کمېږي نه پوهېږم
غم ســـبا بېګاه خورمه لا زیاتېږي نشو کم

❸ **تحقیر یا سپکاوی:** دا هم د تجاهل یو ډول دی، چط شاعر په خبل شعر کې داسې کلمې راوړي، چې هغه مخاطب ته د تحقیر یا سپکاوي مانا ورکوي:

دا سړی دی! دا غوایی دی! دا څه شــــــــی دی!
څه ناپوهه، بې خبر یې ته انسان یې او که خریې!

❹ **غندنه(هجو):** د تجاهل هغه ډول دی، چې شاعر په خپل شعر :ې داسې کلمې راوړي، چې هغه د هغه د مدعا لپاره غندنه وګرځي:

دا سړی دی! دا غوایی دی! دا څـــــــه شی دی!
څه ناپوهه، بې خبر یې ته انسان یې او که خر یې

⮌ **تلمیح:** په لغت کې په مالګه کولو ته وایې، خو په ادبي اصطلاح کې شاعر په خپل شعر کې د یوې تاریخي پېښې یادونه کوي:

مګر وژاړه فرهاد بیا سیل د زرکـــــو
چې په سرو سترګو راځي له کوهستانه
د زړه تخت دې ځکه ونیوو دیوانـــو
چې دې ګوته د سلېمان لاړه له لاسـه
که رقیب مې نږدې نه پرېږي محبوب ته
دیوسف د کمیس بوی بس دی یعــقوب ته

په دغو بیتونو کې په ترتیب فرهاد، سلېمان(ع) او یوسف (ع) ته اشاره شوې ده، چې دا ډول صنعت ته تلمیح ویل کېږي.

⮌ **ارسالمثل:** هغه ادبي صنعت ته ویل کېږي، چې شاعر په خپل شعر کې د مدعا د ثبوت لپاره په یوه مسره یا یوه بیت کې یو متل راوړي. لکه په لاندې بیت کې:

عاشقي مې لکه لمر هسې ښکاره ده

پټېدای په ګوتو نشي لمر زمـــــــــــا

او که چېرې په یوه بیت کې دوه متلونه راشي مدعا المثلین یې بولي.

**حسن مطلع:** هغه صنعت دی، چې شاعر د خپل شعر یا کلام لومړی برخه یا لومړی بیت له داسې ادبیالفاظو سره پیل کړي چې ویونکی او یا اورېدونکی و دې ته اړ کړي، چې ددغه کلام یا شعر تر اخره پورې ولولي او یا یې واوري. لکه:

چې د خیال په لاسو تن د دلبر نیـسم

د هلک په دود به لاس کې قمر نیسم

**تکرار حسن:** هغه ادبي صنعت ته ویل کېږي، چې شاعر په خپل کلام کې یو لفظ یا کلمه د تریح، تاکید، ډېربښت او نورو عوارضو له امله تکرار کړي، دغه تکرار ته تکرار حسن وایي:

ستا ملالو سترګو زړه له مانه یووړ

آهو چشمه ګل رخساره راشه راشه

بیا راتله دې وجهان ته بل وار نشـته

بل وارنشته، بل وار نشته وار دی دا

په پورته بیتونو کې د شتعر د شکلا لپاره د راشه کلې او د بل وار نشته کلمې تکراري حسن دې.

**جمع او تفریق:** د څو شیانو یا صفاتو تر یو حکم لاندې راوستلو ته جمع صنعت وایي. لکه: در رحمان بابا بیت.

مخ د یار شمس او قمر درې واړه یو دي

قدو ســـــــروې صنوبر درې واړه یو دي

(رحمان بابا)

د یار (مخ، شمس، قمر) په ښایست او سپینوالي کې یو شان دي او د یار (قد، سر، صنوبر) په لوړوالي کې یو شان دي. نو په پورته بیت کې مخ د یار شمس او قمر تر یو حکم لاندې راغلي دي، چې دغه ډول ښایست جمع بولي او یا لکه:

ستا وعده زما توبه دواړه دلبره

لکـــه نقش د آب نه لري وثوق

**مبالغه:** که یو شاعر د یوه شي صفت تر اندازې زیات بیان کړي او د هغه ښه والی او بدوالی تصدیق یا تکذیب ته کړي او شدت ورکړي مبالغه بلل کېږي. مبالغه په دې ډوله ده:

❶ **تبلیغ:** د مبالغې هغه شکل دی، چې مدعا یا د مبالغه شوي صفت کېدل هم د عقل او هم د عادت له مخې امکان ولري. لکه د خوشحال خان دا بیت:

له خوشحال سره که کېني يو څو کاله

دا د غره ختېک به واړه شاعـران شي

❷ **اغراق:** د مبالغې هغه ډول دی، چې مدعا د عقل له مخې امکان لري، خو د عادت له مخې غيرې ممکنه وي. لکه: علي خان چې وايي:

زړه مې هسې د هجران غمونو موږ کړ

ځای د وصل په کې نشته يو خاش خاش

❸ **غلو:** د مبالغې هغه ډول دی، چې مدعا د عقل او هم عادت له مخې امکان ونه لري. لکه:

چې بلېږي په کې اور زما د آه

څه به نوی د فلک مانۍ سـيـاه

## خلورم تمرین

1) د بدیع علم چا وضع کړ؟

۱) میثم بن عما ۲) عبدالله بن معتز ۳) قیس بن احمد ۴) عبدالله بن مثنی

2) بدیع په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) لفظي صنایع ۲) معنوي صنایع ۳) بلاغت ۴) ۱ او ۲ سم دي

3) د کلام ښکلا په الفاظو پورې تړاو لري، دا د بدیع علم کومه برخه ده؟

۱) معنوي صنعت ۲) کنایه ۳) لفظي صنعت ۴) ټول سم دي

4) سجع په ادبي اصطلاح کې څه ته ویل کېږي؟

۱) هم اهنګه کلمې ۲) هم وزنه کلمې ۳) هم غږه کلمې ۴) ټول سم دي

5) که چېرې متجانسې کلمې په لیک او لوست کې یو وي، دا کوم ادبي صنعت دی؟

۱) ناقص تجنیس ۲) تام تجنیس ۳) زاید تجنیس ۴) مطرف تجنیس

6) که متجانسې کلمې یو تر بله یو توری اضافه ولري، دا کوم ډول تجنیس دی؟

۱) مطرف تجنیس ۲) تام تجنیس ۳) زاید تجنیس ۴) ناقص تجنیس

7) په لاندې بیت کې کوم ادبي صنعت شتون لري؟

زلفې په مخ کړه خم په خم کېنه وماته مخ په مخ

۱) سجع ۲) تجنیس ۳) قلب ۴) ترصیع

8) په لغت کې سرچپه کولو ته وايي؟

۱) ترصیع ۲) مربع ۳) ذوالقوافي ۴) قلب

9) ترصیع په لغت کې څه ته ویل کېږي؟

۱) د زېور کېنول ۲) سرچپه کول ۳) یوځای کول ۴) دوه قافیې لرونکی شعر

10) کوم ادبي صنعت دی، چې پکې یوه رباعي له افقي او عمودي خواوو یو شان لوستل کېږي؟

۱) عکس و تبدیل ۲) تلمیح ۳) المربع ۴) حسن تعلیل

11) لاندې بیت کې کوم صنعت راغلی؟

چا د شرف ور کې د لیلا نه جلباب لرې کړ چا د ژوند سفر کې د حیا نه شباب لرې کړ

۱) ذوالقوافي ۲) ارسال المثل ۳) عارفانه تجاهل ۴) لف او نشر

12) د بل چا نظم په خپل کلام کې راوړل کوم صنعت دی؟

۱) جمع ۲) تفریق ۳) مبالغه ۴) تضمین

13) که په یو بیت کې کلمې یو د بل په مقابل کې راوړل شي، کوم ادبي صنعت بلل کېږي؟

۱) تضاد ۲) عکس او تبدیل ۳) طباق ۴) ۱ او ۳ سم دي

14) لاندې بیت له کوم صنعت سره سمون لري؟

د زړه شمه مې د عشق له غورو ډکه          ژر پرې لګه د محبوب د دیدن اوره

۱) لف او نشر          ۲) مراعات النظیر          ۳) ابهام          ۴) طباق

15) لاندې بیت کې کوم ادبي صنعت راغلی دی؟

که نبه وا یم و چاته هم یې بد نیسي به زړه کې          یا بخت دی د مغلو یا زما څه عقل کم دی

۱) عارفانه تجاهل          ۲) لف و نشر          ۳) ترصیع          ۴) تضاد

16) لف او نشر په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) ساده او مرکب          ۲) مرتب او غیر مرتب

۳) اسمي او فعلي          ۴) ټول سم دي

17) مبالغه څه ته ویل کېږي؟

۱) له حده تېرېدل          ۲) تجاوز کول          ۲) بې اندازې          ۴) ټول سم دي

18) که شاعر په یوې موضوع باندې د نزاکت لپاره ځان بې خبره واچوي، کوم ادبي صنعت رامنځ ته کېږي؟

۱) المربع          ۲) ایهام          ۳) توشیح          ۴) عارفانه تجاهل

19) په لاندې بیت کې کوم ادبي صنعت راغلی؟

چې اوربشې کرې کله غنم کېږي          رښتیا چې څه کرې هغه به رېبې

۱) ترصیع          ۲) ارسال المثل          ۳) لف او نشر          ۴) ارسال المثلین

20) شاعر د لومړۍ مسرې کلمې په دویمه مسره کې راوړي او د مانا تضاد ورڅخه رامنځ ته کېږي. دغه کوم ډول صنعت بلل کېږي؟

۱) تضاد          ۲) طباق          ۳) عکس او تبدیل ۴) قلب

21)سګ مګس خو سګ مګس دی نور به نه شي / که هر څو یې اړوې کاواک کاواک دی / په پورته بیت کې څه ډول لفظی صنعت راغلی په نښه کړئ:

1) توشیح          2) قلب          3) رجوع          4) طباق

22)بدیعي صنعتونه په څو ډوله دي:

1) درې          2) دوه          3) څلور          4) شپږ

23)په لاندې متل کې (خپله خوله هم کلا ده هم بلا) څه ډول سجع په کارول شوې ده؟

1) متوازي سجع          2) متوازن سجع          3) مطرف          4) یو هم نه

24)په لاندې بیت کې کوم ډول تجنیس راغلی دی؟

دا دنیا په مثال کور شوه د غمونه / چې په هسې کور نازېږي هغه کور دی

1) ناقص تجنیس          2) زاید تجنیس          3) مرکب تجنیس          4) تام تجنیس

25) کله چې د یو نزاکت او لطافت لپاره شاعر خپل ځان په یو شي ناخبره واچوی په داسې حال کې چې ښه پرې خبر او ور معلوم وي دغه ډول صنعت په کوم نوم یادیږي؟

1) عارفانه تجاهل 2) عکس اوتبدیل 3) رجوع 4) طباق

26) په لاندې شعر کې کومه ادبي صنعت کارول شوی دی؟

(زلفې په مخ کړه خم په خم – کینه و ماته مخ په مخ)

1) ذوالقوافي 2) قلب 3) تجنيس 4) تلميح

27) هغه صنعت چې شاعر یو بیت په څو برخو ویشي هره برخه یی دبلې برخې په مقابل کې داسې راوړي چې په وزن سره برابر وي په نښه کړئ:

1) المربع 2) تضمين 3) ترصيع 4) قلب

28) هغه کلمه چې د سرچپه کولو په معنی ده، په نښه یې کړئ:

1) وروسته 2) قالب 3) آسمان 4) قلب

29) هغه صنعت دی چې شاعر د سند او مثال په توګه خپل کلام او تقویې لپاره د بل چا د نظم یوه ټوټه راوړي:

1) قلب 2) ترصيع 3) سجع 4) تضمين

30) (فراق په ما خوري د زړګی وینې – آشنا مې نشته الله مې وینې) په پورته بیت کې کوم ډول تجنیس کارول شوی دی؟

1) تام تجنيس 2) مرفوع تجنيس 3) زايد تجنيس 4) ناقص تجنيس

31) د ادبی صنعتونو ډولونه په نښه کړئ:

1) بیان 2) لفظي صنایع

3) لفظي او معنوي صنایع 4) معنوي صنایع

32) د بدیع له علم سره:

1) د وینا ښکلا پیژندل کیږي 2) د وینا ښکلا نه پیژندل کیږي

3) سم لیکل زده کیږي 4) لیک ته انکشاف ورکول کیږي

33) که د متجانسو کلمو په حرکاتو او سکوناتو توپیر موجود وي:

1) تام تجنيس يې بولي 2) مکرر تجنيس يې بولي

3) ناقص تجنيس يې بولي 4) زايد تجنيس يې بولي

34) که د کلمو ټول توري سره اوښتي وي دې ډول بدیعي صنعت ته:

1) قلب مجنح وايي 2) قلب مستوي وايي 3) قلب کل وايي 4) سجع وايي

35) هغه شعر چې له دوو څخه زیاتې قافیې ولري د صنعت نوم یې په نښه کړئ:

1) ترصيع 2) تجنيس 3) المربع 4) ذوالقوافي

36)قلب څه ډول صنعت دی؟

1) معنوي 2) لفظي 3) معنوي او لفظي 4) هيڅ يو

37)ماته د څوانی خبری مه کوه همدمه / مه را يادوه راته چې دا قصه زړه ده / په پورته بيت کې څه ډول لفظي صنعت راغلی په نښه کړئ:

1) حسن تعطيل 2) قلب 3) تلميح 4) طباق

38)طباق په څو ډولونو ويشل شوی دی:

1) دوه 2) درې 3) پنځه 4) څلور

39)خاموشي د هر دانا ورپورې خاندي // په مجلس کې چې نادان کوي کلام لوړ/ په پورتنی بيت کې څه ډول لفظي صنعت راغلی په نښه يی کړئ:

1) تلميح 2) قلب 3) رجوع 4) طباق

40)هغه صنعت چې شاعر په خپل شعر کې يو ځرګند شی مجهول وګڼي ورسره له دې چې په حکايت پوه وي، د کوم نزاکت له مخې ځان ناپوه اچوي، په څه نامه ياديږي؟

1) لف او نشر 2) حسن تعليل 3) مراعات النظير 4) عارفانه تجاهل

41)که د لومړی فقرې يا مسرۍ کلمې په دويمه فقره يامسره کې سره را واوړي او د معنا تضاد پکې پيدا شي دا صنعت عبارت دی:

1) لف او نشر 2) عکس او تبديل 3) تضمين 4) مراعات النظير

42)د خوشال خان خټک د دې شعر ادبي صنعت په نښه کړئ:

که ښه وايم و چا ته هم يې بد نيسي په زړه کې / يا بخت دی د مغلو يا زما څه عقل کم دی

نه بخت دی دمغلو نه زما څه عقل کم دی / دا کل واړه پيري ده چې مې کار درهم برهم دی

1) حسن تعليل 2) لف و نشر 3) مراعات النظير 4) رجوع

43)(انسان تر ګل نازک تر ګاڼي سخت دی) په پورتني متل کې کوم معنوي ښايست موجود دی:

1) طباق 2) المربع 3) غلو 4) توشيح

44)لمرو ته نه ګورم ګورم خپل نګار ته/ګل ته نظر نه کړم کړم نظر هغه رخسار ته

په پورته بيت کې معنوي ښايست په نښه کړئ:

1) توشيح 2) تضمين 3) طباق 4) تجنيس

45)په لاندې بيت کې کوم ډول معنوي ادبي صنعت موجود دی په نښه يې کړئ:

د مستی مطرب ساز کړی د ورک نـــومـــي ماتـــــم / هراغاز د انجام زيری هر ژوندون د مرګ آغاز دی

1) طباق 2) توشيح 3) تضمين 4) المربع

46)په لاندې بيت کې ادبي صنعت په نښه کړئ:

د زړه تخت دې څکه ونيوو ديوانو / چې يې ګوته د سليمان لاړه له لاسه

1) حسن تعلیل 2) عارفانه تجاهُل 3) تلمیح 4) رجوع

**47)** هغه کلیمه چې په لغت کې مالګه کولو ته وایی په نبنه کړئ:

1) تلمیح 2) رجوع 3) تجنیس 4) طباق

**48)** په دغه شعر کې څه ډول صنعت دی؟

زه په سرو سترګو زړا کړم چې ته درومې / ته له ما چې رخصتیږې په خندا ځې

1) مراعات النظیر 2) مبالغه 3) تجاهل 4) تضاد

**49)** عارفانه تجاهل څه ډول صنعت دی؟

1) باخبره 2) اشاره کول 3) ناخبره 4) هیڅ یو

**50)** په دریمه هجري پیړۍ کې عبدالله بن معتز کوم علم رامنځته کړل؟

1) د نجوم علم 2) د بیان علم 3) د بدیع علم 4) د معاني علم

د ځوابونه کلی

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 2 | 11 | 1 | 21 | 2 | 31 | 3 | 41 | 2 |
| 2 | 4 | 12 | 4 | 22 | 2 | 32 | 1 | 42 | 4 |
| 3 | 3 | 13 | 4 | 23 | 1 | 33 | 3 | 43 | 1 |
| 4 | 4 | 14 | 2 | 24 | 4 | 34 | 3 | 44 | 3 |
| 5 | 2 | 15 | 1 | 25 | 1 | 35 | 4 | 45 | 1 |
| 6 | 3 | 16 | 2 | 26 | 2 | 36 | 2 | 46 | 3 |
| 7 | 3 | 17 | 4 | 27 | 3 | 37 | 2 | 47 | 1 |
| 8 | 4 | 18 | 4 | 28 | 4 | 38 | 2 | 48 | 4 |
| 9 | 1 | 19 | 2 | 29 | 4 | 39 | 4 | 49 | 3 |
| 10 | 3 | 20 | 3 | 30 | 1 | 40 | 4 | 50 | 3 |

پنځم څپرکی

# بیــان

بیــان

تشبیه

مجاز

استعاره

کنایه

## بیـان

بیان په لغت کې څرګندول، سپړل او په ډاګه کولو ته وايي. خو په اصطلاح کې په بېلابېلو لارو د يوې موضوع ادا کولو ته د بیان علم ویل کېږي.

**د بیان علم موضوع:** ددې علم اصلي موضوعات کنایه او مجاز دي. خو تشبیه او مستعار مجاز هم ورسره ملګري شوي دي.

لومړی کس چې د بیان علم یا د ادبي فنونو په باره کې يې څېړنې وکړې ابو عبیده بن مثنی و. چې د بیان په باب يې د (مجاز القران) په نامه يو کتاب لیکلی. د زوکړې کال يې معلوم نه دی، خو په (۲۱۱هـ.ق) کال مړ شوی دی.

**تشبیه:**

ورته والي ته وايي؛ یا یو شی د بل شي په ډول کېدو ته ویل کېږي. یا په بله وینا (( د دوو شیانو ګډون، په دې شرط چې د دواړو تر منځ يو یا څو ګډ خصوصیتونه موجود وي، تشبیه بلل کېږي.))

تشبیه یو داسې ادبي ښایست دی، چې په منظوم کلام کې ښکلا، خوند او کیفیت زیاتوي او د شعري ژبې په کارولو کې ځانګړې ونډه او ارزښت لري. د شعر په ژبې کې د مطلب د افادې تر څنګ احساس او هیجان هم وي. همدا تشبیهات او استعارې دي، چې د شعري ژبې په جوړولو کې ونډه لري او شاعرانه انځورونه جوړوي.

د بېلګې په ډول که ووایو (ناپوهي مرګ او پوهه ژوندون دی.) په دې جمله کې ناپوهي له مرګ سره او پوهه له ژوندون سره تشبیه یا ورته شوې ده.

یا لکه د بصیر عابد دا بیت:

ما د خیال په آئینه کې لټولې خو ته نه وې
ما دمینې جهانو کې ګرځولې خو ته نه وې

په دې بیت کې شاعر خپل محبوب ته وايي، چې ما خپل تصور ته راوړلې خو ته نه وې په کې او غوښتل مې چې له تا سره د مینې څو خبرې وکړم، خو و مې نه موندلې.

تشبیه په پښتو ژبه کې پنځه ( ۵) رکنونه لري: (مشبه، مشبه به،د تشبیه وجه، د شبیه ادات او د تشبیه غرض)

(مشبه او مشبه به) ته د تشبیه طرفین یا اصلي ارکان هم وايي؛ ځکه چې د تشبیه په صورت کې يې شتون حتمي دي.

1. **مشبه:** هغه رکن دی، چې تشبیه کېږي، یا مشبه هغه څوک، شی یا حال دی، چې له بل شي، چا یا حال سره تشبیه کېږي.

د بېلګې په ډول که وواېو (باران اوري) په دې کلام کې د تشبیه هېڅ طرف نشته خو که وواېو چې (د غم باران اوري) دلته غم له باران سره تشبیه شوی دی.

یا لکه دا بیتونه چې (محبت) له (اور) سره تشبیه شوی دی:

هېڅ مې نه زده محبت که اور دی دا
په اور سوځم په رضـــا که زور دی دا
(حمید مومند)

زړه مرغلره ده چې مات شــــــــــي
بیا د لباس په خندا نه اخلي کوشیرونه
پتنګ یم شمـــــــعې ښکــلول دې غواړم
که خنګ دې ډک د سرو لمبو دی ښه دی
(رحمت شاه سائل)

په پورته بیت کې (زړه) مشبه ده، چې له (ملغلرې) سره تشبیه شوی دی او په بل بیت کې شاعر (خپل ځان) له (پتنګ) سره تشبیه کړی دی چې د شاعر او پتنګ ترمنځ د تشبیه وجه مینه ،محبت او وفاداری دی.

❷ **مشبه به:** له کوم شي سره چې یو شی تشبیه کېږي، د مشبه به په نوم یادېږي.

یا مشبه به هغه شی، شخص یا حال دی، چې له بل شي، شخص یا حال سره تشبیه کېږي.

لکه په دې جمله کې: ( پوهنه د رڼا په څېر ده) په دې جمله کې (رڼا) مشبه به ده.

یا لکه د رحمان بابا په لاندې بیت کې:

که حرص در باندې زور شي مرګ درباد کړه
دا عــــلاج دی دغه رنځ لره محــــــــــکم
(حنان بارکزی)

په دغه بیت کې (حرص) له (رنځ) او (مرګ) له (علاج) سره تشبیه شوی دی. (رنځ او علاج) دواړه مشبه به دي. یاني نور شیان له هغه سره تشبیه شوي دي.

چې خوړلی د یار زلفو منګرو یم
سر ګردانــه په سراغ د پاړوګر یم

په پورته بیت کې (زلفې) له (مار) سره تشبیه شوي، مار د زلفو (مشبه به) دی.

چې مرغـــــــلرې ترې شرمېږي
هغه خولې زما دیار پر مخ راځینه

په دغه بیت کې (خولې) مشبه او (ملغلرې) مشبه به ده.

❸ **د تشبیه وجه:** هغه یو یا څو ګډ صفتونه چې د مشبه او مشبه به ترمنځ موجود دي، د تشبیه وجه یې بولي. د تشبیه وجه ذکر په بیت کې کله وي او کله نه وي.

د بادام په څېر مې زړه سورى سورى شي
چې راپورته په غمزه سترګې باڼو کـــــــړې
(قلندر اپریدی)

په پورته بیت کې زړه مشبه، بادام مشبه به او سورى سورى کېدل د تشبیه وجه یا ګډ صفت دی.

د رحمان بابا په لاندې بیت کې د تشبیه وجه نه ده ذکر شوې:

یا به قند یا به نبات او یا به شهد وي
هر کلام چې له رحمانه شنیده شـي

په پورته بیت کې د رحمان بابا (هرکلام) مشبه، (قند، نبات او شهد) مشبه به او (خوږوالى) د تشبیه وجه ده، چې په بیت کې یې ذکر نه دى شوى.

❹ **د تشبیه ادات یا کلمې:** هغه آدات یا کلمې دي، چې د هغوى په واسطه د مشبه او مشبه به تر منځ تشبیه رامنځ ته کېږي. د تشبیه آدات لکه: په څېر، په شان، غوندې، لکه، هسې، داسې، په دود، څنګه، په رنګ او...

په لاندې بیتونو کې د تشبیه توري وګورئ:

لـــــکه خوند لري زما خوږې خبرې
په شکرو کې هم نشته هسې خوند
(رحمان بابا)

په غوږو دې زلفې هسې معلومېږي
لکه ولوېږي هندو په سپیــــــنو زرو
(حنان)

چې رېبې مې بې صرفې د زړګي ولـــې
کرې ورونځې دي د یار که لـــــور دى ادا
(حمید مومند)

چې د سپرلـــــي ګــــــــــلونه ګورم
ماته د ګل په شان جانان رایادوینه

په پورته بیتونو کې (هسې، لکه، که او په شان) د شبیه آدات دي.

❺ **د تشبيه غرض:** هغه مطلب او مقصد چې له تشبيه څخه اخيستل کېږي، د تشبيه غرض ورته ويل کېږي. يا د مشبه د حال بيان او ستاينه د تشبيه غرض دی. لکه: ښکلا، ښه والی، بدوالی او ...

د تشبيه غرض ډېری وخت مشبه ته راجع کېږي. د بېلګې په توګه که ووايو: (دا اوبه لکه شات خوږې دي) په دې جمله کې (اوبه) مشبه (شات) مشبه به (لکه) د شبيه آدات دی او (خوږوالی) د تشبيه وجه ده، چې غرض يې د اوبو خوږوالی دی.

## د تشبيه وېش

**د طرفينو د موقعيت له مخې:** د مشبه او مشبه به د موقعيتونو له مخې تشبيه په مفروقه او ملفوفه تشبيه باندې وېشل کېږي.

❶ **مفروقه تشبيه:** هغه ده، چې په بيت يا مسره کې مشبه او مشبه به يو بل ته څېرمه يا نږدې واقع شوي وي. لکه:

خط دې تور حرفونه، مخ دې پاڼې د کتاب دی
شغل د کتاب دې بل کتاب راڅخه يـــــــو وړ
(رحمان بابا)

سترګــــې ډولۍ، باڼه پرې چتر
د جانان مينه پکې ناوې ګرځومه

په لومړي بيت کې رحمان بابا د محبوب په مخ (تورخط) له (ږيرې او برېتو) او مخ يې د کتاب له (پاڼو) سره تشبيه کړی دی. په دوهمه لنډۍ کې (سترګې) مشبه، (ډولۍ) مشبه به (باڼه) مشبه (چتر) مشبه به او د(جانان مينه) مشبه او (ناوې) مشبه به دي.

څرنګه چې مشبه او مشبه به يو بل سره نږدې واقع شوي دي، نو د طرفينو د موقعيت په لحاظ مفروقه تشبيه دی.

❷ **ملفوفه تشبيه:** هغه تشبيه ده، چې په بيت يا مسره کې مشبه په يو نيم بيتي مشبه به په بل نيم بيتي کې راغلي وي. ياني دواړه نږدې نه وي راغلي:

توري زلفې، ښه خالونه، سره رخسار
ښه توتيان دي، سره ګــــلونه تورښامار
(يونس خيبری)

په پورته بيت کې (زلفې، خالونه، رخسار) مشبه او (توتيان، ګلونه، ښامار) مشبه به (توروالی، ښينوالی، او ښايست، سورالی) وجه شبه ديو چې مشبه په لومړۍ مسره، مشبه به په دوهمه مصره کې راغلي، نو دغه ډول تشبه ته ملفوفه تشبيه وايي.

### د تشبيه وېش د ابتذال او ندذت په لحاظ:

تشبيه د ابتذال او ندرت له مخې په مبتذله او نادره تشبيه وېشل کېږي.

❶ **نادره تشبيه:** هغه ده، چې په شاعرانو کې لږ استعمال ولري او کوم شاعر نوې پيدا کړې وي. لکه:

چې يې خال په مخ کې وينم حيرانېږم
په جنت کې ولې ږدي عاصي يو گام

په دغه بيت کې (خال) له (عاصي) او (مخ) له (جنت) سره تشبيه شوي دي. د خال او عاصي ترمنځ (توروالی) وجه شبه ده. د جنت او مخ تر منځ (سپينوالی او ښايست) وجه شبه ده. څرنگه چې لږ شاعرانه داسې تشبيهات استعمالوي نو هغه ته نادر تشبيه وايي.

❷ **مبتذله تشبيه:** هغه ده، چې په شاعرانو کې زيات استعمال لري.

لکه:

مخ دې لکه گل صنم
زلفې دې سنبل صنم
که هر څو د ښو غشي گاړه ولــې
يو له نشې د زړه نه درومي خطا

په پورته بيت کې مخ له گل او زلف له سنبل سره تشبيه شوي دي، نو دغه ډول تشبيهات ډېر د شاعرانو ترمنځ استعمال لري، هغه ته مبتذله تشبيه وايي.

❸ **تشبيه د وجه شبيه په لحاظ:** د وجه شبه په لحاظ تشبيه په مفصله او مجمله باندې وېشل کېږي.

✓ **مفصله:** تشبيه: هغه ده، چې د تشبيه وجه پکې لفظا ذکر شوي وي. لکه دا بيت:

د غفلت په خوب ويده خلک يې نه اوري
که حميدناري وهي لکه جـــــــــــــرس

په پورته بيت کې (حميد) مشبه او جرس مشبه به دي، چې د هغو ترمنځ (نارې وهل) د شبه وجه ده او په بيت کې لفظاً ذکر شوی دی. نو دغه ډول تشبيه ته مفصله تشبيه وايي.

✓ **مجمله تشبه:** هغه ده، چې د شبيه وجه لفظاً نه وي پکې ذکر شوي. لکه:

مخ دې لکه نمر دی ورته ځير کتــلی نه شم
ځکه يې د مدحې له عــهدو وتــــلی نه شم
(عبدالقادر خان خټک)

عبدالقادر خان خټک په دغه بيت کې د محبوب (مخ) له (لمر) سره تشبيه کړی، چې د لمر او مخ تر منځ (شايست او روښاني) وجه شبه ده، چې په کلام کې لفظاً ذکر نه ده او دغه ډول تشبيه ته مجمله تشبيه ويل کيږي.

### تشبیه د آداتو په لحاظ:

تشبیه د آداتو په لحاظ په مطلقه او مؤکده باندې وېشل کېږي.

❶ **مطلقه (مرسله) تشبیه:** هغه ده، چې د تشبیه ادات یا کلمې په کې ذکر شوي وي. خو په مؤکده تشبیه کې د تشبیه ادات یا کلمې په بیت یا جمله کې ذکر نه وي.

لکه دا بیتونه چې په لومړي بیت کې د تشبیه ادات ذکر شوي او مطلقه تشبیه ګڼل کېږي. په دوهم کې یې د تشبیه ادات نه دي ذکر شوي نو مؤکده تشبیه ګڼل کېږي.

ښامارانو غوندې ګرځي په ګنجونـــــو
نشته هېڅ په زړه کې ډار د تورو زلفو
نه به په زور په زاري خلاص شي نه په عقل دانش
دنیا دامګا، ژوندون دانه، اجل یې دام ایښی دی
(حافظ الپوري)

په دغه دوهم نیم بیتي کې (دنیا) له دامګا سره، (ژوندون) له دانې سره او (اجل) له دام سره تشبیه شوي، خو د تشبیه ادات پکې نه دي ذکر شوي.

## مجـــاز

مجاز په لغت کې تجاوز کول او تېرېدل دي، خو په ادبي اصطلاح کې یو لفظ په غیرې حقیقي مانا کارولو ته ویل کېږي.

کله چې یو لفظ په غیرې وضعي مانا و کارول شي، د حقیقي او مجازي ماناوو تر منځ یوه رابطه او قرینه شتون لري، چې دغې رابطې ته په بیان علم کې (علاقه) وایي. که دغه علاقه نه وي نو دغه ډول لیکنه او لفظونه په مجاز کې ځای نه لري.

که څوک قلم ته اشره وکړي او ووایي: ((دا زمری دی)) دلته مجاز بلکل غلط دی، ځکه چې د قلم او زمري ترمنځ هېڅ کومه علاقه شتون نلري. خو که یو زړور سړي ته ووایي((دا زمری دی)) دلته د زمري مجازي مانا زړورتوب دی. چې چې دغه زړورتوب ته علاقه ویل کېږي.

## د مـجاز دولونه

❶ **مستعار مجاز:** که د لفظ د حقیقي او مجازي ماناوو تر منځ علاقه تشبیه وه، مستعار مجاز (استعاره) بلل کېږي او که علاقه یې نور څېزونه لکه: کلیت او جزیت، حال و محل، ماکان و مایکون، سببیت او مسببیت، تضاد، صفت او موصوف ...) وي نو بیا مرسل مجاز ګڼل کېږي.

**مستعار مجاز (استعاره):** استعاره په لغت کې دیو شي، عاریه غوښتل یا پور اخیستل دي، څکه چې شاعر په استعاره کې یو لغت د مشابهت د علاقې په واسطه د بل لغت پرځای کاروي.

استعاره له تشبیه څخه داسې بېلېږي. چې مشبه، د شبه وجه او د شبیه ادات له تشبیه څخه حذفېږي. څرنګه چې یوازې مشبه به پاتې کېږي، نو استعار بلل کېږي. نو د هرې استعارې په بنسټ کې یوه تشبیهي جمله شتون لري.

د استعارې او تشبیه ماهیت یو شی دی. په حقیقت کې استعاره یوه لنډه تشبیه ده، یانې تشبیه داسې لنډه و، چې یوازې مشبه به یې پاتې شي. په تشبیه کې د شباهت ادعا ده، خو په استعاره کې یو څېز یو شانې بیانېږي. لکه په تشبه کې شاعر وایي زلفې دمار غوندې، خو په استعاره کې مخامخ ورته وایي چې پخپله مار دي.

مشبه = مستعار له

مشبه به = مستعار منه

وجه شبه = جامع

قرینه: هغه علامه یا نښانه ده، چې ښایي لفظونه په غېرې حقیقي ماناوو کارېدلي دي.

د استعارې ډولونه:

استعار د طرفینو په لحاظ په مصرحه، او مکنیه، د لفظ په لحاظ په اصلیه او تبعیه باندې وېشل کېږي.

2 **مرسل مجاز:** مرسل یا آزاد مجاز هغه دی، چې علاقه یې تشبیه نه وي. بلکې لاندې علاقې ولري.

1 د جزیت او کلیت علاقه: (د جز او کل تسمیه د یو بل په نومونه کې): یعنې د جز نوم وواېو خو مقصد مو کل وي او یا برعکس د کل نوم وواېو، خو مقصد مو جز وی. لکه: «فاتحه سورت» چې تل د «الحمد سورت» په نوم یادېږي. په داسې حال کې چې الحمد ددغه سوره یو جز دی.

2 د حال او محل علاقه: (ظرفیت او مظروفیت) چې د یو مکان نوم واخیستل شي، خو مقصد هغه شیان اوسې، چې د هغه په منځ کې دي. او یا برعکس لکه: افغانستان دوه لسیزې وجنګېد. په لاس کې یې ځای و.

3 ماکان و مایکون: (سابقیت او لاحقیت) بانې د راتلونکي او یا پخوا زمان په اعتبار کې یو شي ته نومول، لکه: د انجینري پوهنځي زده کوونکي ته په راتلوونکي کې انجینر وایي او یا کوټه سنګي ته د پخوا په اعتبار کوټه سنګي وایي.

د مرسل مجاز علاقې ډېرې زیاتې دي. چې په دغه بحث کې نه ځایېږي.

## کنایه

کنایه په لغت کې د تصریح ضد او نقیض دی. د بیان د علم له مخې هغه وینا ده، چې د ویونکي مقصد د کلمې ظاهري مانا نه وي. په کنایه کې د لومړی او دوهمې مانا ترمنځ کومه قرینه هم نه معلومېږي. مګر به مجاز کې قرینه اړینه ده.

ټول متلونه کنايي دي. يعنې د جملې ظاهري او باطني ماناوو ترمنځ توپير شتون لري.

په ظاهري الفاظو مکنيه او په مقصوده مانا يې مکنيه عنه بلل کېږي.

د بېلګې په توګه: له بارانه تښتېدل د ناوې لاندې درېدل.

دلته حقيقتاً له باران څخه تښتېدل نه دی مقصد، بلکې مقصد يې دای دی، چې له يو بد وضعيت څخه تېښته کول او له بدبتر وضعيت سره مخ کېدل مانا لري.

ملاتړل: د يوکار لپاره د چمتوکېدلو په مانا.

پوزه پرې کېدل: د شرم په مانا.

خاوري په سر بادول: تباه او بدبخته کېدل.

سر تندی وهل: پښېماني کول.

# پنځم تمرين

1) د بيان علم موضوع څه دی؟

۱) تشبيه ۲) کنايه ۳) استعاره ۴) ټول سم دي

2) د بيان د علم وضع کوونکی څوک دی؟

۱) بايزيد روښان ۲) ابوهاشم ۳) عبدالله بن معتز ۴) ابو عبيده بن مثنی

3) تشبيه په لغت کې څه ته وايي؟

۱) ورته کول ۲) لېرې کول ۳) فرق کول ۴) يوځای کول

4) تشبيه په پښتو ژبه کې څو رکنونه لري؟

۱) ۳ ۲) ۵ ۳) ۷ ۴) ۴

5) يو شی د بل شي په شان کېدو ته څه وايي؟

۱) بيان ۲) بديع ۳) تشبيه ۴) ټول سم دي

6) (پتنګ يم) دا د ابتذال او ندرت له مخې څه ډول تشبيه ده؟

۱) مبتذله ۲) نادره ۳) دواړه سم دي ۴) هېڅ يو

7) که حرص دربانديې زور شي مرګ درياد کړه    دا علاج دی دغه رنځ لره محکمه

په پورته بيت کې حرص له څه شي سره تشبيه شوی ده؟

۱) علاج سره ۲) رنځ سره ۳) مرګ سره ۴) هېڅ يو

8) چې ربېي مې بې صرفې د زړګي ولې    کړې وروځې دي د يار که لور دی دا

په پورته بيت کې د تشبيه ادات په نښه کړئ؟

۱) چې ۲) له ۳) که ۴) د

9) که مشبه او مشبه به، په يوه مسره کې راشي، دا څه ډول تشبيه بلل کېږي؟

۱) مفروقه ۲) ملفوفه ۳) ۱ او ۲ سم دي ۴) هېڅ يو

10) مطلقه تشبيه کومه تشبيه ده؟

۱) چې د تشبيه ادات په کې ذکر شوي وي ۲) چې د تشبيه وجه په کې ذکر شوي نه وي

۳) چې د تشبيه غرض په کې ذکر شوي وي ۴) ټول ځوابونه سم دي

11) (مخ دې لکه لمر دی). په دې جمله کې، د تشبيه وجه او د اداتو د وېش له مخې څه ډول تشبيه راغلې ده؟ په نښه يې کړئ؟

۱) مجمله، مرسله ۲) نادره، مرسله ۳) مفصله، مرسله ۴) ټول سم دي

12) مشبه به په لغت کې څه مانا لري؟

۱) هغه شی، چې يو شی ورسره تشبيه شي ۲) هغه شی، چې له بل شي سره تشبيه شي

۳) هیڅ یو ۴) ۱ او ۲ سم دي

13) کنایه په لغت کې څه مانا لري؟

۱) واضح خبره ۲) څرګنده خبر ۳) بې ځایه خبر ۴) د تصریح خبرې ضد

14) د کنايې په جملو کې، د جملې ظاهري مانا د څه په نوم يادېږي؟

۱) مکنیه ۲) مکنیه عنه ۳) هېڅ یو ۴) کنایه

15) د مجاز او کنايې تر منځ توپیر په څه کې دی؟

۱) د قرينې ذکر کول ۲) د الفاظو مانا

۳) اوږدوالی او لنډوالی ۴) ټول سم دي

16) (خاورې په سر بادول) له څه شي څخه کنایه ده؟

۱) له شرمېدلو ۲) له چمتوالي ۳) له نېکمرغۍ ۴) له بدمرغۍ

17) مجاز په لغت کې څه ته وايي؟

۱) ډېر غځ ۲) له حده تېرېدل ۳) تجاوز کول ۴) ۲ او ۳ سم دي

18) مجاز په څو ډوله دي؟

۱) ۵ ۲) ۲ ۳) ۸ ۴) ۱

19) که د وضعي او مجازي ماناوو تر منځ علاقه تشبیه وي، د کوم مجاز په نوم یادېږي؟

۱) مرسل مجاز ۲) ازآد مجاز ۳) مستعار مجاز ۴) ۱ او ۲ سم دي

20) استعاره په لغت کې څه مانا لري؟

۱) نوم کېښودل ۲) خبرې کول ۳) پور اخېستل ۴) هېڅ یو

21) ورته کولو یا یو شی یا څیز د بل په شان کیدوته وايي:

1) تشبیه 2) ترصیع 3) مشبه 4) مشبه به

22) د تشبیه ارکان څو دي؟

1) څلور 2) پنځه 3) دوه 4) درې

23) هغه شی چې تشبیه کېږي څه دی؟

1) تشبیه 2) مشبه به 3) مشبه 4) ترصیع

24) کله، په څیر، په شان، غوندې، هغسې، په دود، په رنګ. څه دي؟

1) د تشبیه ادات 2) د تشبیه غرض 3) مشبه 4) مشبه به

25) په لاندې بیت کې مشبه او مشبه به په نښه کړئ.

چې مرغلرې ترې شر مېږي هغه خولې زما دیار پر مخ راځینه

1) مرغلرې مشبه به 2) خولې مشبه دی

3) 1 و 2 سم دي 4) دیار مشبه دی

26) په لاندې بیت کې مشبه عبارت دی له:

هیڅ مې نه زده محبت که اور دی دا _ په اور سوځم په رضا که زور دی دا

1) اور 2) که 3) رضا 4) محبت

27) په لاندې بیت کې مشبه به عبارت ده له:

الهي د محبت سوز و گداز را په دا اورکې د سهي سمندر ساز را

1) اور 2) محبت 3) سمندر 4) گداز

28) هغه مطلب او مقصد چې له تشبیه څخه اخېستل کیږي، کوم رکن دی؟

1) د تشبیه غرض 2) دتشبیه ادات 3) د تشبیه وجهه 4) ټول سم دي

29) په لاندې بیت کې مشبه به په نښه کړئ:

پتـنـگ یـم شمعـې ښکلـول دي غـواړم

که څنگ دي ډک د سرو لمبودی ښه دی

1) پتنگ 2) شمعې 3) شاعر 4) څنگ

30) په لاندې بیت کې د تشبه توری په نښه کړئ:

د بادام په څیر مې زړه سوری سوری شو / چې راپورته په غمزه سترگې باڼو کړې

1) بادام 2) سوری 3) غمزه 4) په څېر

31) په لاندې بیت کې مشبه په نښه کړئ: په شمشیر د قاتل آب وینم د وینو/که ښکاره یی په ابرو شوی د سرو تیکه:

1) قاتل 2) ښکاره 3) ابرو 4) دوینو آب

32) په لاندې بیت کې ابرو له څه شی سره تشبیه شوی دی؟ په شمشیر د قاتل آب وینم د وینو/که ښکاره یی په ابرو شوي د سرو تیکه

1) تیک 2) شمشیر 3) آب 4) قاتل

33) په لاندې بیت کې مشبه په نښه کړئ: هیڅ پرې نه پوهېږم دا دې زنه که منه ده / خال دې په زنه کې دانه ده که ممانې:

1) ممانه 2) دانه 3) زنه 4) منه

34) په دغه جمله کې وجه شبه په نښه کړئ: (دا اوبه لکه شات خوږې دي.)

1) شات 2) لکه 3) اوبه 4) خوږوالی

35) په لاندې بیت کې د تشبیه ادات په نښه کړئ:

په گودر بیا جونه را پنډ شوی / لکه چې ستوری د سپوږمۍ چاپیره شینه

1) پنډ 2) لکه 3) چاپیره 4) بیا

36) په لاندې بیت کې د تشبیه ادات په نښه کړئ:

په سترگو ړوند راته گوره / لکه د نوی میاشت کره ولاړه یمه

1) کړه 2) راته 3) ولاړ 4) لکه

37) په لاندې بیت کې د تشبیه ادات په نښه کړئ:

کورني مرغه په شان به خومره ژوند کړې/د شاهین په دود آزاد الوتل زده کړه

1) په شان 2) به خومره 3) الوتل 4) ژوند کړې

38) څوک دي را کاندي قسم په کردګار/ که درهم لرم په کور کې یا دینار.

په پورتني بیت کې د تشبیه ادات په نښه کړئ:

1) یا 2) په 3) که 4) لرم

39) که په غره وي که په سمه / ورسره ګـرځـي چتـــکه

په پورتني بیت کې د تشبیه ادات په نښه کړئ:

1) وی 2) په 3) که 4) سره

40) په لاندې بیت کې مشبه په نښه کړئ:

نه به په زور په زارۍ خلاص شي نه په عقل دانش / دنیـا دامـګاه ژوندون دانه اجـل یـې دام ایښی دی:

1) دام 2) دانه 3) ژوندون 4) دامګاه

41) په لاندې بیت کې مشبه به په نښه کړئ:

عاشقي په مصلحت کولی نه شې/ اور ته ځان اچاوه نه شي په تدبیر

1) اور 2) لکه 3) سکور 4) ځکر

42) په لاندې بیت کې باڼه له څه شي سره تشبیه شوي دي؟

غوړ نیسی ښوته وروځې ښکته شوې له قهره/پوه شوې پرې زړګیه غشې څه وایې کمان ته

1) غشو 2) وروځو 3) زړګیه 4) کمان

43) په لاندې بیت کې مشبه په نښه کړئ:

چې باڼه یې په ما نه بلوسي حیران یم / ښېتانه دي خدایه څه رنګه بې زړه کړه

1) باڼه 2) بلوسي 3) خدایه 4) ښېتانه

44) په لاندې بیت کې وروځې له څه شي سره تشبیه شوې دي:غوړ نیسي ښو ته وروځې ښکته شوې له

قهره / پوه شوې پرې زړګیه غشې څه وایې کـمان ته

1) غشو 2) زرګی 3) غوړ 4) کمان

45) په لاندې بیت کې د ورځو او کمان تر منځ د تشبیه وجه څه شی ده؟

غوړ نیسي ښو ته وروځې ښکته شوې له قهره

پوه شوې پرې زړګیه غشې څه وایې کمان ته

1) پوخوالی 2) اوږدوالی 3) توروالی 4) کوږوالی

46) په لاندې بیت کې مشبه به په نښه کړئ:
چې دې خیال راتلی زړه مخې ته ورووت/ کوربه تل وځي میلمه و ته له سرایه
1) ووت 2) زړه 3) خیال 4) میلمه

47) په دغه بیت کې څه شی له څه شي سره تشبیه شوي دي؟
که حرص در باندې زور شي مرګ درباد کړه/ دا علاج دی دغه رنځ لره محکم
1) حرص له رنځ سره او مرګ له رنځ سره 2) حرص له مرګ سره او رنځ له علاج سره
3) رنځ له علاج سره او حرص له مرګ سره 4) حرص له رنځ سره او مرګ له علاج سره

48) الهی د محبت سوز ګداز را / په دا اور کې د سهي سمندر ساز را په پورته بیت کې (مشبه) او (مشبه به) په نښه کړئ:
1) محبت مشبه او اور مشبه به 2) سمندر مشبه او اور مشبه به
3) سهي مشبه او محبت مشبه به 4) اور مشبه او محبت مشبه به

49) د تشبیه غرض زیاد تره څه شي ته راجع کیږي؟
1) د تشبیه اداتو 2) د تشبیه وجه ته
3) مشبه به ته 4) مشبه ته

50) د تشبیه اصلي ارکان څو ډوله دي؟
1) یوه 2) دوه 3) دري 4) څلور

51) بدیع، بیان او معاني د ادبي فنونو کومې برخې دي؟
1) فرعي برخې 2) عادي برخې 3) کمکي برخې 4) اساسي برخې

52) تشبیه ورته والی وایی دا ورته والی په څه کې راځي؟
1) په بڼه کې 2) په بڼه او معنی کې
3) په معنی کې 4) نه په بڼه او نه په معنی کې

53) د تشبیه غرض عبارت دي:
1) د مشبه به د حال بیان 2) هغه مطلب چې له مشبه به څخه اخیستل کیږي
3) هغه مقصد چې له کنایه څخه اخیستل کیږي 4) د مشبه د حال بیان اوستاینه

54) د ادبي فنونو په کومه برخه کې د وینا بیان او مطلب د بنې افادې لارو چاروته پاملرنه کیږي؟
1) بیان 2) بلاغت 3) معاني 4) بدیع

55) د بیان علم بنسټ اېښودنکی څوک دی؟
1)عبدالله بن معتز 2) ابوعبید مثنی 3) البیروني 4) هیڅ یو

56) ابو عبید مثنی کله و مړ:
1) په 118 ه.ق 2) په 112 ه.ق 3) په 218 ه.ق 4) په 211 ه.ق

57) لومړنی کتاب چې د بیان په هکله بحث کوي څه نومیږي؟

1) مجاز القران　　2) البديع　　3) نقد البديع　　4) ټول سم دي

58) په لاندې بيت کې د طرفين او موقعيت په لحاظ څه ډول تشبيه ده؟

توري زلفې شنه خالونه سره رخسار _ شنه توتيان دي سره ګلونه تور ښامار

1) مفروقه　　2) ملفوفه　　3) ملفوفه او نادره　　4) هيڅ يو

59) هغه تشبيه چې د طرفينو تر منځ يې د تشبيه وجه لفظا نه وي ذکر شوي کوم ډول تشبيه ده؟

1) مجمله تشبيه　　2) مفصله تشبه　　3) نادره تشبه　　4) ملفوفه

60) هغه تشبيه چې د تشبيه ادات به بيت کې ذکر وي څه ډول تشبيه ده؟

1) مطلقه　　2) مرسله　　3) موکده　　4) 1 و 2 سم دي

| د ځوابونه کلی | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
| 1 | 4 | 13 | 4 | 25 | 3 | 37 | 1 | 49 | 4 |
| 2 | 4 | 14 | 1 | 26 | 4 | 38 | 3 | 50 | 2 |
| 3 | 1 | 15 | 1 | 27 | 1 | 39 | 3 | 51 | 4 |
| 4 | 2 | 16 | 4 | 28 | 1 | 40 | 3 | 52 | 2 |
| 5 | 3 | 17 | 4 | 29 | 1 | 41 | 1 | 53 | 4 |
| 6 | 2 | 18 | 2 | 30 | 4 | 42 | 1 | 54 | 1 |
| 7 | 2 | 19 | 3 | 31 | 3 | 43 | 1 | 55 | 2 |
| 8 | 3 | 20 | 3 | 32 | 2 | 44 | 4 | 56 | 4 |
| 9 | 1 | 21 | 1 | 33 | 3 | 45 | 4 | 57 | 1 |
| 10 | 1 | 22 | 2 | 34 | 4 | 46 | 4 | 58 | 2 |
| 11 | 1 | 23 | 3 | 35 | 2 | 47 | 4 | 59 | 1 |
| 12 | 1 | 24 | 1 | 36 | 4 | 48 | 1 | 60 | 4 |

شپږم څپرکی

پښتو نحوه

د پښتو نحوه

نحوي واحدونه

قافیه

د قافيې توري

د قافيې حرکتونه

د قافيې ډولونه

## د پښتو نحوه

نحوه عربي کلمه ده، لغوي مانا يې لاره، روش او طريقه ده. په ادبي اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده، چې په جمله کې د کلمو ترتيب، مطابقت، ترکيب او اړيکو په هکله بحث کوي.

## نحوي واحدونه

په ګرامري مانا او مفهوم کې د يوې ژبې تر ټولو کوچنی واحد، چې د وېش وړ نه وي(تګميم) يا نحوي واحد بلل کېږي. د بېلګې په توګه که ووايو؛ دغه قلم دی؟ که دهمدې سواليه جملې په ځواب کې وويل شي؛ هو يا نه.په ګرامري لحاظ بشپړ مطلب ادا شو چې دلته (بلې) او يا (نه) پخپله يو تګميم دی.

**ترکيب:** هم د نحوي واحدونو له جملې څخه دی، چې د جملو په جوړولو کې ډېر اړين دی. ترکيب د دوو يا ډېرو مستقلو او نامستقلو کليمو ټولګه ده. چې برخې يې يو له بل سره ګرامري اړيکې لري. ترکيبونه لومړی په اسمي او فعلي ډلو وېشل کېږي. د اسمي ترکيبونو اساسي برخه اسم او دفعلي ترکيبونو اساسي برخه فعل دی.

اسمي ترکيبونه ډېر ډولونه لري. لکه: اضافي ترکيبونه، توصيفي ترکيبونه، قيدي ترکيبونه، عددي ترکيبونه، تاکيدي ترکيبونه او...

**فقره:** هم يو نحوي واحد دی، چې د جملې اصلي ارکان(مبتدا او خبر) دواړه لري، خو کله کله په نحوي جوړښت کې د مانا له مخې د جملې د بلې برخې جز ګرځي او ور پورې مقيدرېږي. د بېلګې په توګه که ووايو؛ (درس اسان دی.) يوه خپلواکه ګرامري بڼه ده. خو که وويل شي: (درس چې آسان و...) په دغه حالت کې د (چې) سره مقيد شو او بايد بله ګرامري بڼه ورپورې وتړل شي، چې مانا يې بشپړه کړي. لکه: (درس چې اسان و، شاګردان خوشحاله کېږی).

**جمله:** عربي کلمه ده، چط مانا يې ټولګه يا مجموعه ده. په اصطلاح کې د الفاظو او کلمو يو داسې ترکيب چط يوه کامله مانا افاده کړي، جمله بلل کېږي.

**د جملې جوړښتيز توکي:** د يوې بشپړې جملې په جوړښت کې خپلواک توکي او مرستيال توکي ونډه لرى. خپلواک توکي لکه: نومونه، صفتونه، نومځري او نور، په کومکي توکو کې ادات، مختاړې، وروستاړې او نور راځي.

**د جملې اساسي برخې:** هره جمله دوه اساسي برخې لري: لکه **مبتدا** او **خبر**

1. مبتدا (فاعل يا مسنداليه): په جمله کې د هغه په باب خبر ورکول کېږي.

لکه: علي ډوډی خوري، لمر راوخوت.

2. خبر (فعل يا مسند): د جملې هغه برخه ده، چې د مسنداليه په اړه خبري کوي يا دهغه حال څرګندوي.

خبر د جوړښت له مخې په ساده او مرکب باندې وېشل کېږي.

۱ـ اسمي خبر ۲ـ فعلي خبر

هغه جمله چې د خبر په برخه کې یې پوره فعل یا فعلي ترکیب راغلی وي، د فعلي حملې او هغه چې مبتدا او خب ردواړه نومونه وي اسمي حمله ورته ویل کېږي.

**د جملې ډولونه:** جمله د بڼې او جوړښت له مخې په ساده او مرکبه او د مانا له مخې په خبري او ناخبري جملو وېشل کېږي.

خبري جمله هغه ده، چې د یو څېز حال او کیفیت بیان او څرګند کړي. لکه: علي درس وایي.

ناخبري جمله دا لاندې ډولونه لري:

- ✓ **امریه، لکه:** ودرېږئ! ولاړ شئ!
- ✓ **پوښتنیزه، لکه:** ولې درس نه وایې؟
- ✓ **تعجبي، لکه:** څومره ښکلی انځور!
- ✓ **تمنایي، لکه:** کاشکې تللی وای! که تللی وم!
- ✓ **شکي، لکه:** کېدای شي راشي. ګوندې ورشم.
- ✓ **ټینګاري، لکه:** حتمي ورځم، خامخا راشه!
- ✓ **قسمیه، لکه:** په خدای خبر نه یم.
- ✓ **دعایه، لکه:** خدای دې باران وکړي او...

## قافیه

قافیه یوه عربي کلیمه ده، چې په لغت کې شا او څټ ته وایي. په ادبي اصطلاح کې هغه پوهه ده، چې دشعر د بیتونو د دورونو له ورستیو همغږیو او هم آهنګیو څخه بحث کوي.

دلته لومړی د قافې کلیمې بیا توري، حرکتونه او ډولونه په مثالونو کې راوړو:

**د قافیې کلمې:** هغه دي، چې د دورونو په پای کې مراعت کېږي. لکه په لاندې بیت کې.

مخ دې لکه **ګل** صنم زلفې دې لکه **سنبل** صنم

**د قافیې توري:** هغه دي، چې لازمه هماهنګي ولري او دا توري (۹) دي:

لکه: (روي، ردف، قید، د تاسیس الف، دخیل یا متغایر توري، وصل، خروج، مزید او نایر)

له پورته تورو څخه څو اړین یې په لاندې ډول دي:

❶ **روي:** په لغت کې رسۍ ته وایي او په ادبي فنونو کې د قافیې هغه توری دی، چې پرته له هغه قافیه نه جوړېږي، یا د قافیې د پای توري وري دی.

په دریاب څرنګه ترشي کام زما چې نسکور لکه حباب دی جام زما

(شیدا)

❷ **ردف:** په لغت کې یو په بل پسې سپور او دوه پشته ته وایي، مګر په ادبي فنونو کې د قافیو په کلمو کې لومړی هماهنګ توری ځپلواک (الف، و، ی) توري له روي څخه د مخه راځي، چې (ردف) بلل کېږي. یا په بله وینا هغه یوشان کلمات چې د قافیې شاته یو شان راځي ردیف بلل کېږي.

لکه:

یار د یار د جدایی پر وخت ګران شي     پس له مرګه د سړي قدر عیان شي

(حمید)

❸ **قید:** که چېرې د قافیې په کلمه کې، هماهنګي په دوه څنګ په څنګ بې حرکته تورو کې راغلي وي، لومړی بې حرکته یا ساکن غږ ته قید وایي.

لکه په لاندې بیت کې:

زه دې د ادا له رنګه هست یمه     ځم کله نکهت په لاره مست یمه

په دې بیت کې (یمه، یمه) ردیف دی، (هست، مست) د قافیې کلمې دي، خو (س) توری چې لومړی هماهنګ یا هم غږی ساکن توری دی، (قید) بللی شي.

❹ **د تاسیس الف:** که چېرې د قافیې په کلمه کې هماهنګي په ځپلواکه (الف) توري پیل شوي وي او دغه الف او روي نه مخ کې دخیل یا متغایر توری راغلی وي، نو دغه الف ته د تأسیس الف وایي.

خر د سرو زرو د زین نه دی لایق     ښه ځېری ورله بویه موافـــــــق

(خوشحال)

په پورته بیت کې لایق او موافق د قافیې کلمې دي، په هماهنګه برخه کې چې الف ځپلواک غږ دی، او وروسته ترې دخیل توری راغلی دی، د تأسیس الف یې بولي.

❺ **دخیل یا متغایر توري:** هغه مخ الف تروي، چې په مؤسسه قافیه کې د تأسیس الف او روي تر منځ راغلی وي، دخیل یا متغایر توری بلل کېږي.

نازنینه که د حسن سخاوت کا     له اوله دې په ما دا عنایت کا

دلته سخاوت او عنایت د قافیې کلمې او (کا، کا) یې ردیف دی، (اوت او ایت) یې هماهنګه برخه ده. (و، ی) چې د تأسیس الف او روي ترمنځ موقیعت لري دخیل یا متغایر توري دي.

❻ **د قافیې حرکتونه:** د قافیې کلمې (٦) حرکتونه لري. چې بېلابېلو ځایونو کې راتلای شي. د قافیې حرکتونه په لاندې ډول دي.

١)رس،     ٢) اشباع،     ٣) حذو

٤) توجیه،     ٥) مجری     ٦) نفاذ

❶ **رس:** په لغت کې پیلو ته وايي او د ادبي فنونو په اصطلاح کې د تأسیس الف څخه د مخکې توري حرکت (چې زور وي) رس بلل کېږي. لکه:

لکه ته هسې رقیب په ما غالب دی    که سپی دی، ستا د در زما صاحب دی

(حمید)

په پورته بیت کې غالب او صاحب د قافیې کلمې او (دی، دی) ردیف دی، هماهنګه برخه کې، چې د تأسیس له الف څخه د مخه تورو (غ و ص) حرکتونه زورونه دي (رس) بلل کېږي.

❷ **حذو:** په لغت کې برابر ته وايي او په اصطلاح کې د قید او د ردیف له تورو څخه د دمخه تورو حرکت ته حذو وايي:

د اشفاق طمعه به څه کړې له اخوانه    نتیجه یې ورکېده دي له کنعانه

(شیدا)

په دې بیت کې (اخوانه او کنعانه) د قافیې کلمې دي، هماهنګه برخه یې (الف، ن، هـ) دي، له ردیف څخه د مخه توري(و،ع) حرکتونه دي، چې حذو بلل کېږي.

❸ **اشباع:** په لغت کې مړښت ته وايي او په اصطلاح کې د دخیلو تورو حرکت ته اشباع وايي.

هېڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل    هسې پاتې شوم مردود و نا قابل

(رحمان بابا)

په دې بیت کې د قافیې کلمې (حاصل او ناقابل) دي، الف چې خپلواک غږ او د تأسیس الف دی، (ص، ب) د تأسیس الف او روي ترمنځ راغلي دخیل توري دي. د همدغو دوو تورو (ص او ب) حرکتونه چې (زېرونه) یا کسرې دي اشباع بلل کې.ي.

❹ **توجیه:** په لغت کې د یو شي د مخه کولو ته وايي او په اصطلاح کې د قافیې په کلمو کې د روي له توري څخه د دمخه توري حرکت ته توجیه وايي.

ځواني زما شوه دود له غریبه د دلبر سره ځـــي
ډېوه د هوش مې په سلګو شوه له سحر سره ځي

(حمزه)

## ⮈ د قافیې ډولونه

❶ **حکمي قافیه:** عموماً په لنډیو کې رعایت کېږي، چې د هرې لنډۍ آخر ته باید (نه او مه) اهنګ راشي.

زما جانان ملي بیرغ دی    شونډې یې سرې، سترګې یې تروې، شنه خالونه

❷ **حقیقي قافیه:** دا هغه ډول قافیه ده، چې د نظم په دواړو نیم بیتیو کې داسې کلیمې راغلي وي، چې لازمه هماهنګي ولري، حقیقي قافیه د قافیو د کلمو د مراعات له مخې په دوه ډوله ده:

**❶ یوستوې قافیه:** یوستوې قافیه هغې قافیې ته وایي، چې د بیت یا نظم به یوه مسره کې یوازې یوه قافیه راوړل شوې وي او بس. لکه په لاندې غزل کې:

که په هند کې نشته سپینه

هوسۍ سترګې مه جبینه

خدایه تا وماته راکــړې

یوه سبزه نمکینـــــــــــه

په دوو زلفو عنبر پاشـــه

په دوو شونډو شکرینـــه

دا پورته غزل چې د خوشحال خان خټک دی، به ترتیب سره یې: سپینه، مه جبینه، نمکینه، شکرینه د قافیې کلمې دي، چې هماهنګه برخه یې (ن، هـ) دي، چې (ن) یې روي او (هـ) یې وصل دی. په هغو مسرو کې چې د قافیو راوړنه اړینه ده، یوه یوه قافیه په پام کې نیول سوې ده، نو ځکه یې یوستوې قافیه بولي.

**❷ غبرګه قافیه:** دا هغه ډول قافیه ده، چې د بیت یا نظم په هغو مسرو کې چې قافیه راوړل کېږي، دوه بېلابېلې قافیې مراعت شوې وي، چې همدا د یوستوط قافیې خلاف کار دی.

## ښپږم تمرین

1)نحوه په لغت کې څه مانا لري؟

۱) لاره ۲) طریقه ۳) روش ۴) ټول سم دي

2)نحوه له کومو موضوعات بحث کوي؟

۱) د کلمو ترکیب ۲) د کلمو مطابقت ۳) د کلمو سمون ۴) ټول سم دي

3)نحوي واحدونه کوم دي؟

۱) تګمیم ۲) جمله ۳) فقره ۴) ټول سم دي

4)تګمیم څه دی؟

۱) د جملې تر ټولو کوچنی واحد ۲) ډېره لویه جمله

۳) د جملې اساسي برخه ۴) هیڅ یو

5)ترکیب د جملو په کومو برخو کې ډېره ونډه لري؟

۱) جوړونه کې ۲) د جملې تجزیه کې

۳) د جملې په مانا کې ۴) د جملې په مفهوم کې

6)پسرلی چې راغی. دا فقره ده که جمله ده؟

۱) جمله ده ۲) فقره ۳) ۱ او ۲ سم دي ۴) هېڅ یو

7)د جملې اساسي برخې کومې دي؟

۱) مسند الیه ۲) فاعل ۳) مسند، فعل ۴) ټول سم دي.

8)جمله د جوړښت له مخې په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) ساده او بسیطه ۲) خبري اوانشایي

۳) ساده او مرکب ۴) ټول سم دي

9)جمله د مانا له مخې په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) ساده او مرکبه ۲) ساده او انشایي ۳) ساده او خبري ۴) خبري او ناخبري

10) د قافیې لغوي مانا څه ده؟

۱) هم غږه ۲) شاه او ځت ۳) شعر ۴) هېڅ یو

11) د «نظر» هم قافیه کلمه په نښه کړئ!

۱) بېزار ۲) انتظار ۳) خطر ۴) لیدل

12) د قافیې توري څو دي؟

۱) ۲۰ ۲) ۴ ۳) ۸ ۴) ۹

13) په لاندې بیت کې د قید توری په نښه کړئ!

زه دې د ادا له رنګه هست یمه    څم لکه نکهت په لاره مست یمه

۱) س    ۲) ت    ۳) م    ۴) هېڅ یو

14) متغیر توري د کومو تورو ترمنځ راځي؟

۱) دخیل او روي    ۲) روي او مؤسیس الف

۳) قید او روي    ۴) ردیف او روي

15) رس د قافیې....... دی؟

۱) حرکت    ۲) توری    ۳) ۱ او ۲ سم دي    ۴) ډولونه

16) حذو په لغت کې .... ته وایي؟

۱) هم قطاره    ۲) هم جهته    ۳) مشترک    ۴) برابر

17) د دخیل توري حرکت ته څه وایي؟

۱) اشباع    ۲) رس    ۳) توجیه    ۴) هېڅ یو

18) قافیه په څو ډوله ده؟

۱) ۵    ۲) ۴    ۳) ۲    ۴) ۹

19) حکمي قافیه عموماً په کومو شعري قالبونو کې راځي؟

۱) غزل    ۲) مثنوي    ۳) لنډۍ    ۴) قطعه

20) توجیه د کوم قافیوي توري حرکت دی؟

۱) د روي    ۲) د روي د مخه    ۳) دخیل    ۴) ټول سم دي

21) قافیه عربي کلمه ده چې لغوي مانا یې څه دی؟

1) څټ    2) شاته    3) 1 و 2 سم دي    4) هیڅ یو

22) قافیې په څو ډوله ده؟

1) دوه    2) دري    3) یوه    4) څلور

23) قافیه څو توري لري؟

1) 4    2) 6    3) 8    4) 9

24) قافیه څو حرکتونه لري؟

1) 2    2) 4    3) 6    4) 7

25) روي په لغت څه معنی لري؟

1) پیل    2) رسی    3) تار    4) کڅوړه

26) په لاندې بیت کې ردیف په نښه کړئ:

ښکلیه ستا د یو ښکلي نظر په سر    ـ    ځای مې درله درکړ د ځیګر په سر

1) دوه    2) نظر، ځیګر    3) یوه    4) په سر،په سر

27) د تاسیس الف او روي تر منځ مخالف توري عبارت ده:

1) رس　2) ردف　3) ردیف　4) د خیل توري

28) په لاندې بیت کې ردیف په نښه کړئ:

نازنینه که د حسن سخاوت کا　له اوله دې په ما دا عنایت کا

1) سخاوت، عنایت　2) کا، کا　3) دا، که　4) له، ما

29) هغه کلمه چې پرته له هغې قافیه نه تړل کیږي په نښه کړئ:

1) قید　2) تاسیس　3) روي　4) ردف

30) زوړ رباب په نوی شهبازونو ترنګول غواړي/ بیا و بد مستانو ته جامونه ګړنګول غواړي/ په پورته بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) ترنګول، ګړنګول　2) بیا، بیا　3) غواړي، غواړي　4) زوړ، مست

31) اوبه تویې په لمبو کړه/اور مې مړ په دې اوبو کړه/ په پورتنی بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

1) لمبو، اوبو　2) اوبه، اوبو　3) کړه، کړه　4) اور، مړ

32) اوبه تویې په لمبو کړه/اور مې مړ په دې اوبو کړه/ په پورتنی بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) اوبه، اوبو　2) لمبو، اوبو　3) اور، مړ　4) کړه، کړه

33) چې نه خپله علاج کړای شي نه بل یوه کړای/ چاره نه لري بې مرکه د حیوان رنځ / کوم وطن چې بې د علم برخه لړ وي/ هم له مځکې نه ورځي هم له آسمان رنځ: په پورتنیو بیتونو کې ردیف کلمې په نښه کړئ:

1) چاره، مرکه　2) هم، هم　3) رنځ، رنځ　4) حیوان، آسمان

34) ښکاریږي راته دا چې حسابیږي به نه // عاشق چې ګناه وکړي عذابیږي به نه // په پورتنی بیت کې ردیف دا دي:

1) چې / چې　2) حسابیږي/عذابیږي　3) به نه / چې　4) به نه / به نه

35) رس – اشباع – توجیه د قافیې کومې برخې جوړوي؟

1) همغږی، د قافیې عیبونه　2) دقافیې حرکتونه

3) د قافیې هم غږی　4) د قافیې عیبونه

36) چې مدام دبل و عیب وته نظر کړي / خدای له خپله عیبه ولې بې خبر کړي /　که یوه جو دانه عیب وینې په بل کې / هغه یوه جو دانه عیب به یې لوی غر کړي / په پوتنیو بیتونو کې دقافیې کلمې په نښه کړئ:

1) عیب، عیب　2)جو دانه،جو دانه　3) بل، بل　4) خبر، غر

37) د انسان زړګی له جنګ او جګړه تور شي/ توره ماته شي اوجوړ ورنه څه نور شي / په پورتنی بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) جنګ، جګړه 2) تور، نور 3) تور، توره 4) شي، شي

38) په ځواني کې د پیرۍ چارې نه ښايي / ته به ورځ د عاشورۍ به څه اختر کړئ لکه بیخ د زړې ونې چینجی و خوري / په دا تېر عمر په څه ښاخ کړې / په پورته بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) چارې، ونې 2) اختر، ثمر 3) عاشورۍ، زړې 4) کړئ، کړئ

39) په دې بیت کې (که رقیب مې نږدې نه پرېږدي محبوب ته / د یوسف د کمیس بوی بس دی یعقوب ته) د قافیې کلمې په نښه کړئ:

1) رقیب، کمیس 2) محبوب، یعقوب 3) ته، ته 4) نه، بس

40) که رقیب مې نږدې محبوب ته / د یوسف د کمیس بوی بس دی یعقوب ته / په پورتنی بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) ته ، ته 2) می ، بوی 3) محبوب، یعقوب 4) رقیب ، محبوب

41) اوښکې د تا اوښکې زما بیا به دواړه سره موسکی شوه / بیا په دی برښنا او ځلا روغه سره وکړو / برند کتل دتا وو / اسویلی د حمزه ښکلیه څه چی د بلا اوبلا روغ سره وکړو/په پورته بیتونو کې دقافیې کلمې په نښه کړئ:

1) سره ، حمزه 2) روغه ، وکړو 3) ځلا ،بلا 4) اوښکې اوښکې

42) چې یې نشته لکه ګل ښه رخسارونه / خوک به څه کا تورې زلفې د سنبلو / په څه شان درته بیات سوی طالع کړم/ لکه غر زما جبین دی د داغلو/ په پورته بیتونو کې قافیې کلمې په نښه کړئ:

1) سنبلو ، داغلو 2) ګل ، طالع 3) نشته ، خوک 4) رخسارو ، زلفی

43) چې یې تلمه په خندا خندا دیدار ته / اوس یې درومم په ژړا ژړا مزار ته / په پورتنی بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

1) ژړا ، ژړا 2) خندا ، خندا 3) ته ، ته 4) دیدار ، مزار

44) (یو له بله محبت مهرباني وي / د (الفت) هیله او فکر جهاني وي) په پورتنۍ بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

1) یو له، بله 2) یوله، بله 3) وي، وي 4) مهرباني، جهاني

45) «هر چې سرفراز وي په اسلام د محمد (ص) / ورد به یې ثنا وي صبح و شام د محمد (ص) / په پورته کې ردیف په نښه کړئ:

1) سرفراز وي، ثنا وي 2) سرفراز ي، شام
3) د محمد (ص)، د محمد (ص) 4) اسلام، شام

46) (تویول د وینو سرم او پیغور وي / شرمنده ذلیل سرټيټي ظلم او زور وي) په پورتنۍ بیت کې ردیف په نښه کړئ:

1) تویول، ذلیل 2) پیغور، زور 3) شرم، ظلم 4) وي، وي

**47)** په لاندې متل کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

په ژوندون مې قدر غواړه / چې مړ شم مه را پسې ژاړه

1) غواړه، ژاړه　2) مې، شم　3) قدر، مړ　4) ژوندون، مړ

**48)** په لاندې بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

محمد په کې افضل دی / هم اخر دی هم اول دی

1) هم، هم　2) دی، دی　3) افضل، اول　4) اخر اول

**49)** د (ونډه) هم قافیه کلمه په نښه کړئ:

1) ساتل　2) تراک　3) پنډې　4) څنډه

**50)** په لاندې بیتونو کې ردیف په نښه کړئ:

تربلا د جهل پورته بلا نشته / پر دا هسې بلا مه شه مبتلا خوک

هغه ښه دی چې د خپل ملت ښه وایي/ خدای دې نه کاندې په بد ویل ګویا څوک

1) خوک، څوک　2) ښه، ښه　3) بلا، بلا　4) مبتلا، ګویا

**51)** په لاندې بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

کُل عالم واړه په ثنا دې تر قیامته / یو صفت به نه کا تم تمام د محمد

خلاص به شي په حشر د آفتاب د ګرمایی/ ننوځه د شرعې په خیام د محمد

1) عالم/ تم　2) د محمد / د محمد　3) شي / شي　4) تمام/خیام

**52)** په لاندې بیتونو کې ردیف په نښه کړئ:

پس له مرګه به دا مهر او اخلاص نه وي/ که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص　د رحمان

کلام په دا سبب شیرین دی/ چې یې هر کلام، کلام دی د اخلاص

1) کلام، کلام　2) نن، شیرین

3) هنګام، کلام　**4)** دی د اخلاص، دی د اخلاص

**53)** په لاندې بیتونو کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

که دې یو ویښته د ځان د پاسه کوږ شي/ ځان هغه ساعت له خدایه (ج) مرور کړې

د ځوانۍعمر دې تیر کړ په غفلت کې/ په پیرۍ کې به څه زیرمه د محشر کړې

1) کړې – کړې　2) مرور – محشر　3) ویښته – زیرمه　4) کوږ – پیرۍ

**54)** په لاندې بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ:

چې مدام د بل و عیب و ته نظر کړې/ خدای له خپله عیبه ولې بې خبر کړې

1) ولې، بې　2) نظر، خبر　3) کړې، کړې　4) وته، عیبه

55) په لاندې بيت کې د قافيې کلمې په نښه کړئ:

چې ګټل خوړل، بخښل کا ځوان هغه / چې توره لري د توري ځان هغه

1) چې، چې　　2) هغه، هغه　　3) خوړل، بخښل　　4) ځوان، ځان

56) په لاندې بيت کې رديف په نښه کړئ:

يا له ياره سره تللی په سفر وای / په هرځای مې غوړولی پرې وزر وای

1) وای، وای　　2) ياره، سره　　3) سفر، وزر　　4) تللی، غوړولی

57) په پورتني بيت کې دقافيې کلمې په نښه کړئ:

يا يې مړ د بيلتانه له غمه ژر وای/ يا په دواړو سترګو تپ ړوند په نظر وای

1) ژر، نظر　　2) وای، وای　　3) بيلتانه، غمه　　4) دواړو، سترګو

58) په لاندې بيتونو کې د قافيې کلمې په نښه کړئ:

ترډي ښه متاع په دې دکان کې نشته/سود به و کا که کوي دغه سودا څوک　　درست جهان

قربان د علم ترګوهرشه/دغه وايم که مې و پوښتي رښتيا څوک

1) سودا، رښتيا　　2) علم، وايم　　3) څوک، څوک　　4) جهان قربان

59) د لاندې بيت، د قافيې په کلمو کې د (دخيل) توری په نښه کړئ:

هيڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل // هسې پاتې شوم مردود و ناقابل

1) ح، ب　　2) ح، ق　　3) الف، الف　　4) ص، ب

60) په لاندې بيت کې د کومو توري حرکت ته اشباع وايي؟

هيڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل/ هسې پاتې شوم مردود و نا قابل

1) ح، ق　　2) ش، ک　　3 ص، ب　　4) الف، الف



د ځوابونه کلی

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 4 | 13 | 1 | 25 | 2 | 37 | 4 | 49 | 4 |
| 2 | 4 | 14 | 2 | 26 | 4 | 38 | 4 | 50 | 1 |
| 3 | 4 | 15 | 1 | 27 | 4 | 39 | 2 | 51 | 4 |
| 4 | 1 | 16 | 4 | 28 | 2 | 40 | 1 | 52 | 4 |
| 5 | 1 | 17 | 1 | 29 | 3 | 41 | 3 | 53 | 2 |
| 6 | 2 | 18 | 3 | 30 | 3 | 42 | 1 | 54 | 2 |
| 7 | 4 | 19 | 3 | 31 | 1 | 43 | 4 | 55 | 4 |
| 8 | 3 | 20 | 2 | 32 | 4 | 44 | 4 | 56 | 1 |
| 9 | 4 | 21 | 3 | 33 | 3 | 45 | 3 | 57 | 1 |
| 10 | 2 | 22 | 1 | 34 | 4 | 46 | 4 | 58 | 1 |
| 11 | 3 | 23 | 4 | 35 | 2 | 47 | 1 | 59 | 4 |
| 12 | 4 | 24 | 3 | 36 | 4 | 48 | 3 | 60 | 3 |

## د پښتو ادبي مکتبونه

پـه عام ډول د مکتب لغوي مانا د ليک، زده کړې او د ښوونې روزنې ځای دی. خو د ادبي مکتب اصطلاح د هغه پراخ ادبي جريان او لارې لپاره کارول کېږي، چې زيات شمير اديبانو (ليکوالو او شاعرانو) د ليکنې يا وينا د سبکونو له ګډون څخه منځته راغلی وي. پښتو ادبي مکتبونه په لاندې ډول دي:

**❶ روښاني ادبي مکتب:**

- ✓ دغه ادبي مکتب په لسمې(۱۰) هجري پېړۍ په دويمه نيمايي کې رامنځته شوی دی.
- ✓ بنسټ ايښودونکی يې بايزيد انصاري (روښان) (۹۲۵تر ۹۸۵هـ.ق دی).

ددې مکتب د سبک ځينې ځانګړنې په لاندې ډول دي.

- ✓ تصوف او عرفان د هغو پېچلي مسايل او اصطلاحات پکې ډېر زيات کارول شوي دي.
- ✓ د عربي او فارسي شعري فورمونه پښتو ژبې ته راغلي او ديوانونه يې جوړ شوي.
- ✓ په نثري ليکنو کې مسجع نثر دود شوی.
- ✓ اخلاقي او ديني مسايل په پښتو شعر او ادب کې و پنځېدل، چې دري او عربي ادب هم په پښتو ادب دغه مهال ډېره اغېزه وکړه.
- ✓ نوميالي استازي: ارزاني خويشکی، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، ابابکر کندهاری، ورکزی کندهاری، واصل روښاني، قادر داد او ميرزا خان انصاري....

اي په ځان ـه خپله ځانه بې خبره
ته معنا لـــــــه معنا و غواړه بشره
د ايمان لـه روښانۍ خبره زده کړه
دا د کـــــــفر تياره يوسه تر سحره

(ميرزا خان انصاري ـ روښاني ادبي مکتب)

**❷ خوشحال خان ادبي مکتب:**

- ✓ کله کله د ختکو ادبي مکتب په نوم هم ياد شوی دی.
- ✓ په يوولسمې (۱۱) هجري قمري پېړۍ کې د خوشحال خان ختک (۱۰۲۲ـ ۱۱۰۰هـ.ق) له خوا منځته راغلي دي.

د خوشحال خان د ادبي مکتب ځانګړنې په لاندې ډول دي:

- ✓ پښتو شعر او ادب يو نوي پرمختيايي پړاو ته داخل او د ودې او پرمختيا لپاره يې په شعوري توګه هلې ځلې پيل شوې.
- ✓ د مسجع او متکلف نثر پر ځای ساده او روان (دخلکو مکالمې ته نږدې) نثر ليکنه پيل شوه.

- ✓ د خټکو ځانګړی لیکدود (رسم الخط) رامنځته شو.
- ✓ په شعر او ادب کې حماسي، رزمي او ملي روحیه پیاوړې شوه.
- ✓ شعر او ادب د مضمون له لحاظ ډېر بډای شو او ډول ډول موضوعات پښتو ته داخل شو.
- ✓ د پښتو ملي کیسه (آدم خان درخانۍ) او (دلی شهۍ) لیکل شوی، له نورو ژبو څخه هم په پراخه پیمانه ادبي آثار وژباړل شو.
- ✓ ددې مکتب نومیالي استازي: اشرف خان هجري، عبدالقادر، سکندر، صدر خان خټک...

مردان هغه دي چې همتـــــــناک دي
د ننګ په کار کې چست و چـــــالاک
کار چې آغاز کړي انجام يې هم کـــړي
په خوله هم پاک وي په زړه هم پاک وي

(خوشحال خان خټک ـ خوشحال ادبي مکتب)

### ۳ د رحمان بابا تصوفي ـ عرفاني مکتب:

- ✓ دغه ادبي مکتب د پیاوړي شاعر رحمان بابا (۱۰۴۲ ـ ۱۱۲۸هـ.ق) له خوا منځ ته راغلی او دی د یو عرفاني ادبي سبک خاوند و، چې په خپل وخت کې له زیات تولنیز مقبولیت نه برخمن شو. خو وروسته یې ډېر پلویان وموندل.

د رحمان بابا د سبک ځانګړنې په لاندې ډول دي:

- ✓ ویناوال یې اخلاقو، پند، نصیحت، واقعیت، او حقیقت ته ډېره پاملرنه کوي.
- ✓ د عربي او فارسي ډېر اصطلاحات، تشبیه او استعارې پښتو ادب ته ننوتې دي.
- ✓ د خیال او مبالغې پلوېتوب پکې ډېر کم دی.
- ✓ دپښتنې چاپېریال خپل رنګونه پکې په ځلېدو او دهندي سبک تاثیر پکې ډېر کم دی.
- ✓ نومیالي استازي يې: یونس خیبري، معزالله مومند، اخون ګدا، میانعیم متي زی، حافظ الپوري، عبدالرحیم هوتک، مطیع الله پیرخیل او...

زه له دې جهانه تلونی په شتاب یـــم
لکه پاڼه د خزان پښه په رکـــاب یـــم
که هزار آباداني کړم په جهان کـــې
غرض دا چې نهایت خانه خراب یم

(عبدالرحمن بابا ـ د رحمن بابا تصوفي مکتب)

### ۴ نازکخیالۍ ادبي مکتب (د حمید او شیدا د نازکخیالۍ ادبي مکتب):

- ✓ دغه ادبي مکتب په دوولسمې (۱۲)هجري پېړۍ کې د فارسي د هندي ادبي مکتب تر اغېزې لاندې منځته راغلی دی.

- ✓ بنسټګر يې نازکخيال شاعر عبدالحميد مومند (۱۱۴۸ هـ.ق پورې ژوندی و).
- ✓ او بشپړونکی يې کاظم خان شيدا (۱۱۳۵ ـ ۱۱۹۵ هـ.ق) علي خان اونور شوي دي.

**دډغه مکتب ستري ځانګړني په لاندې ډول دي:**

- ✓ نازکخيالي، لوړتخيل، نوښت، نادرې استعارې او تشبيه دډې مکتب ځانګړنې دي.
- ✓ د غزل فورم يې کمال ته ورساوه.
- ✓ د اشعارو موضوع يې زياتره د مينې او محبت مسايلو ته وقف شوي دي.
- ✓ په شعرونو کې متلونه، اصطلاحات او محاورې ډېرې کارول شوي دي او وينا والو د فارسي ادب پوره اغيزې منلي دي.
- ✓ دډې ادبي پياوړي استازي: له حميد او شيدا سربېره، قلندر اپرېدی، محمدي صاحب زاده، علي خان، کامګار خټک، بېدل هشنغري، حنان بارکزی او نور دي.

معلومېږي ستا د سترګو له غمـــــزو
چې يې مرګ د تېره تېغ دی راپيرزو
ستا د سترګو د باڼو ترمنځ حيران يم
يو مې وژني په سره اور بل نيــــــزو

(حميد مومند ـ د نازکخيالۍ ادبي مکتب)

**د کندهار پښتو ادبي انجمن:**

- ✓ ادبي انجمن يا ادبي ټولنه هغه فرهنګي او ادبي ټولنې ته وايي، چې پکې يوه ډله شاعران او ليکوالان د ادبي او فرهنګي چارو په سرته رسولو بوخت وي.
- ✓ زموږ په هېواد کې دډې هجري لمريزې پېړۍ راهيستې ډېر ادبي انجمنونه منځ ته راغلي دي، چې يو يې د (کندهار ادبي انجمن) دی.
- ✓ د ۱۳۰۷ل.ل کال کورنې اړودوړ له پای ته رسېدو وروسته چې زموږ په هېواد کې د سياسي، اقتصادي او علمي چارو زمينه برابره شوه، په کابل، کندهار او هرات کې علمي او فرهنګي فعاليتونه زيات شول.
- ✓ د کندهار ادبي انجمن په کال ۱۳۱۱ل.ل کې د وزيرګل محمد خان مومند په وسيله تاسيس شو.

دډغه ادبي انجمن په لومړيو غړو کې مولوي عبدالخالق واسعي، محمد اعظم ايازي، محمد عثمان بارکزي، حاجي عطا محمد خان، ملا بهالدين اسحاق زي، حاجي عبدالغفور خان خروټي، مولوی قيام الدين خادم، محمد ګل خان لګيا، عبدالغفور خان شرر، محمدنسيم نوري او نور د بېلګې په توګه يادولای شو.

- ✓ د خپلې اساسنامې په اساس يې په ۱۳۱۱ل.ل کال د مرغومي مياشتې په ۱۵ نېټه د پښتو په نامه لومړی مجله خپره کړه، چې دغو خپرونو پينځه کاله دوام وکړ.

- دغه ادبي انجمن د خپلو فرهنګي فعالیتونو په لړکې (معلم پښتو) دوه ټوکه چې لومړی ټوک یط په ۱۳۱۳ل.ل کال او دوهم یې په ۱۳۱۴ل.ل کال چاپ او خپور شو.
- (پښتو خبرې) په کال ۱۳۱۵ل.ل کال او (پښتو ښوونکی) په ۱۳۱٦ل.ل کال خپاره شول، چې ددې کتابونو لیکوال محمد عثمان و.
- یو شمیر لیکوال په ۱۳۱۴ل.ل کال کابل ته راغلل او د پوهنې په وزارت کې یې غړیتوب تر لاسه کړ. وروسته یې دلته په کابل کې مجلې او کتابونه خپرول او ورسره یې فرهنګي فعالیتونه هم لرل.
- په ۱۳۱٦ل.ل کال د کابل ادبي انجمن چې په ۱۳۰۹ل.ل کال تاسیس شوی و، د کندهار له ادبي انجمن سره یوځای شو او نوم یې په (پښتو ټولنه) واوښت. چې تر ۱۳۵۷ل.ل کال پورې یې د هېواد د لوړ علمي او فرهنګي مرکز په توګه نه هېرېدونکي خدمتونه وکړل.

## د پښتو ادبي تذکره

تذکره عربي کلمه ده، چې څو ماناوې لري. یو پېژند پاڼه او دوهم هغه وسیله چې ناروغان له یوځای څخه بل ځای ته لېږدوي.

- په ادبي اصطلح کې هغه اثر ته ویل کېږي، چې پکې دد شاعرانو او لیکوالانو پېژندګلوي، آثار او د هغوی شعري او نثري بیلګې خوندي وي.

**د پښتو لومړۍ ادبي تذکره:** د سلیمان ماکو کتاب (تذکرة الاولیا) دی، چې څو پاڼې یې په لاس کې دي او پښتانه شاعران پکې معرفي شوي دي. لکه: (بیټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ اسمعیل، شیخ بختیار).

- نوموړې هغه له ٦۱۲هـ.ق کال وروسته د کندهار په ارغستان نومي ځای کې لیکلی دی.
- ددغه تذکرې څو تر لاسه شېوې، پاڼې په ۱۳۲۰ل.ل کال په پښتانه شعرا لومړي ټک کې او بیا وروسته څو ځلې ځانګړی هم چاپ شوی دی.
- تر تذکرة الاولیا وروسته بله ادبي تذکره چې بشپړه قلمي نسخه یې تر لاسه شوې هغه د محمد هوتک کتاب (پټه خزانه) ده، چې په ۱۱۴۱ـ ۱۱۴۲هـ.ق کال تالیف کړې ده او اوس په ملي ارشیف کې خوندي ده.
- په دغه ادبي تذکره کې ډېر لذغوني شاعران، ادبي تذکرو او د هغو لیکوالو لکه: شیخ ګټه (لرغوني پښتانه)، د شیخ بستان بریځ (بستان الاولی)، د شیخ قاسم (اولیا افغان) او نورو نومونه راغلي دی، چې تر څنګ یې ٦ ښځینه شاعراني هم راپېژندل شوي دي.
- په ۱۳۲۰ل.ل کال د (پښتانه شعراء) لومړی ټوک د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شو.
- په ۱۳۲۱ل.ل کال د ( پښتانه شعراء) دوهم ټوک د صدیق الله ریښتین لیکلی کتاب چاپ او خپور شو.
- په ۱۳۴۲ل.ل کال د (پښتانه شعراء) دېیم ټوک د پښتو ټولنې د غړو له خوا او بیا په همدې لړ څلورم او پینځم ټوکونه څېړنپوه (عبدالله بختاني لیکلي او پښتو ټولنې خپاره او چاپ کړي دي.

بله ارزښتناکهادبي تذکره د عبدالروف بېنوا (درې ټوکه اوسنی لیکوال) ذکره ده، چې پکې ۲۵۰ تنه اوسني لیکوالان او شاعران معرفي او د هغوی نثر او نظم بېلګې هم خوندي شوي دي، چې لومړی ټوک یې په ۱۳۴۱ل.ل کال، دوهم ټوک یې په ۱۳۴۲ل.ل کال او درېیم ټوک یې په ۱۳۴۶ل.ل کال چاپ او خپاره شوي دي.

**د پښتو معاصرې ادبي تذکرې او د هغو مؤلفان:**

- ✓ (پیاوړي شاعران او نومیالي شاعران) د پوهاند صدیق الله رښتین اثر.
- ✓ (ادبي ستوري) دوه ټوکه حبیب الله رفیق.
- ✓ (دا لیکوال او دا خبرې) د افضل ټکور اثر.
- ✓ (پښتنې شاعرانې او لیکوالې) د کبرا مظهري اثر.
- ✓ (اوسني شاعران) د مؤمن پتوال اثر.
- ✓ (وینه په قلم) د شهرت ننګیال اثر.
- ✓ (ستوري د ادب په آسمان کې) د محمد داود وفا اثر.
- ✓ (د ورمو بهیر) د ارین یون اثر.

**په پښتونخوا کې هم ډېرې غوره ادبي تذکرې لیکل شوي دي لکه:**

- ✓(ورکه خزانه) لومړی او دوهم ټوک، (پښتانه لیکوال لومړی ټوک) (د قلم خاوندان) د همېش خلیل اثار.
- ✓(تېر هېرشاعران) د عبدالحلیم اثر.
- ✓(د کیسي د لمنې پښتانه لیکوال) لومړی او دوهم ټوک د پروفیسور سیال کاکړ اثر.
- ✓(سل پټ ستوري) د افضل رضا اثر.
- ✓(د هشنغر ادب) د محمد اشرف غمګین اثر.
- ✓(دا خوک دی) لومړی او دوهم ټوک (ادبي ستوري) د شیر شاه ترخوي اثر.
- ✓(خیبر انګازې) د خیبر اپرېدي اثر.
- ✓(د پښتو ادب ځلانده ستوري) د آخوند زاده مساپر اثر.
- ✓(د خوشحال د بڼ ګلونه) د مثل خان راهي اثر.
- ✓(مروتو ستوري) د دتاج ملي تارج لاثاني اثر.
- ✓(هزارې نظم زار) د قمر صحرایي اثر.
- ✓(د خیبر ادب) د مراد شیواري اثر.

د ادبي تذکره لیکنې بهیر اوس په افغانستان او پښتونخوا کې په ډېره کړنې توګه روان دی او ډېر غوره اِار د چاپ ډګر ته راوتي دي.

## د پښتو ادبي لیکونه

**لیک:** لیک یا خط د وضع شوو رسمو یوه مجموعه ده، چې د خلکو تر منځ په اتفاقي ډول د یوې ژبې د غږونو ۱اظو، وینا او افکارو د ثبتولو لپاره کارول کېږي.

لیکونه په دوه ډوله دي:

**۱ـ عادي** **۲ـ ادبي**

چې عادي لیکونه بیا په شخصي او رسمي وېشل کېږي، چې د وګړو تر منځ تبادله کېږي.

**ادبي لیکونه:** هغه دي، چې لیکوال ټولنیز، سیاسي، فرهنګي، انتقادي او نورموضوعات په ډېر هنریز بیان بیانه وي او لاندې یې ډولونه دي:

1. **شخصي:** هغه لیکونه دي، چې په عامه توګه د مشخصو مخاطبانو (شاعرانو او لیکوالو) تر منځ تبادله کېږي. لکه: د ارواښاد صدیق الله ریښتین (ادبي لیکونه).
2. **رسمي:** هغه ادبي آثار دي، چې ټاکلي مخاطبین نه لري او د یو فرضي مخاطب په نوم لیکل کېږي. ددې ډول ابي لیکونو موخه د لیکوال افکار، اندونه او نظریات خلکو ته رسول دي. لکه: د عبدالروف بېنوا (د زړه خواله، د بي بي نورې (روغ لېونی) او د اجمل ختک (کچکول) او...

## متلونه

متلونه هغه پخې، خوږې او په ټول پوره خبرې دي او متل یو بشپړ عبارت یا بشپړه جمله ده، چې د یوې ژبې د ویونکو د ټولنیز ولسي ژوند له تجربو څخه زېږېدلي دي. متلونه د ولسي ادب ستره او بډایه برخه ده.

متلونه د شکل له مخې په (۲) ډولونه دي:

1. **منظوم متلونه:**

هغه دي، چې معمولاً وزن او قافیه لري، دوې مسرې یا نیم بیتي دي. کله کله لومړی مسره یا نیم بیتي او کله بیا دویمه مسره تر لومړی مسرې اوږده وي. په دې ډول متلونو کې د وزن او قافیې سربېره، تشبیه، کنایه، مجاز او استعارې هم کارول کېږي، چې ژر زده کېږي.

د منظومو متلونو څو بېلګې:

- ✓ خپله لاسه ـ ګله لاسه
- ✓ په ژوندون مې قدر غواړه ـ چې مړ شم مه راپسې ژاړه.
- ✓ ښه خوی به دې سلطان کړي ـ بد خوی به دې په ځان پورې حیران کړي.
- ✓ پوره ـ ورک دې کړل دوه کوره.
- ✓ د ځوانۍ یوه نشه وي ـ داسې نه چې همېشه وي.
- ✓ آس لره ـ په لاس لره.

- ✓ څه ورپنا ـ څه غرپنا.
- ✓ چې تګ دې په غره دی ـ ناستی دې په څه دی.
- ✓ چې په تمه سپرو شي ـ هغه پاتې په میرو شي.
- ✓ خپله ژبه هم کلا ده ـ هم بلا.
- ✓ بد به دې په زړه لرم ـ سلام به دې په خوله لرم.
- ✓ اوړه دې په اوړه، منت دې پر څه.
- ✓ سل روپۍ پور که، د اختر په شپه کور که.
- ✓ چې نه یې وې سړي ـ نه دې قرت خوري نه غوړي.
- ✓ کاڼی به پوست نه شي ـ دښمن به دوست نه شي.

❷ **منثور متلونه:**

منثور متلونه په نثر دي، دا ډول متلونه هم یو ډول ځانګړی آهنګ لري. دغه ډول متلونه په هره ژبه کې ډېر زیات دي. په یو څو کلمو کې ډېر لوی مفاهیم پروت وي، هر منثور متل د جوړښت له مخې یوه لنډه، خو بشپړه جمله ده، مبتدا او خبر دواړه لري. منثور متلونه بېلابېل ډولونه لري، چې ځینې یې کیسه ییز متلونه او نور عادي متلونه دي.

کیسه ییز متلونه هغه دي، چې تر شایې یوه کیسه یا پېښه پرته وي او دغه ویل شوی متل د هغه نتیجه وي. لکه: ((چې خوب کوې، مېښه یې نرکټی زېږوي.))

➲ عادي متلونه هغه دي، چې د ټولنیز ژوند یوه تجربه پکې بیان شوې وي، بېلګې یې په لاندې ډول دي:

- ✓ د ښو غوښو ښه ښوروا وي.
- ✓ لاس چې مات شي، غاړې ته لوېږي.
- ✓ ځمکه هغه سوزي، چې اور پرې بلېږي.
- ✓ دینا نولس ده، چا هم نه ده شل کړې.
- ✓ که غر لوړ دی، په سر یې لاره لري.
- ✓ له خپل څادر سره پښې غځوئ.
- ✓ مال خپل ساته، ګاونډی غل مه نیسه.
- ✓ یاد به دې زه کړم، ښاد به دې خدای کړي.
- ✓ له بارانه تښتېدم، د ناوې لاندې مې شپه شوه.
- ✓ تېره پر خپل ځای درنه وي.
- ✓ کوړ بار تر منزله نه رسېږي.
- ✓ نېکي وکړه، په اوبو کې یې واچوه.
- ✓ چې سر دې نه خوږېږي، داغ پرې مه ږده.

- د ډېرو امسا، د يوه سرې ګېډۍ.
- انګورو ته يې لاس نه رسېږي، وايي تروه دي.
- از مويلی، بيا مه آزمويه.
- ړوند يو ځل خپله امسا ورکوي.
- پر يوه ښپېږه دوه مخونه خوړېږي.
- وګټه، پيل وخوره.
- چي غوټه په لاس خلاصيږي، خولې ته حاجت نه شته.
- لمر په ګوته نه پټيږي.

## محاورې

محاورې په لغت کې خبرو اترو ته وايي او محاورې ته اصطلاحات او ګړنې هم وايي، د نثري ولسي ادب يو ډول دی، چې د جوړښت له مخې يوې نا بشپړې جملې ته ورته دی او په هغه کې د حقيقي مانا پر ځای بله مستعاره مانا استعمالېږي، لکه: متل په خبرو اترو کې کارول کېږي.

د ګړنو او محاورو ځوبيلګې:

- په جامو کې نه ځايدل، (د ډېرې خوښۍ حالت ښودل).
- د آسمان ستوري شمېرل، (ناشونی کار کول).
- زړه اچول، (ناهيلي کېدل، مايوسه کېدل).
- سپين سترګي کول، (بې حيايي کول).
- باد پيمانه کول،(بې ګټې کار کول).
- پښه نيول، (ځند او سوچ کول، انتظار او پلمه کول).
- تندۍ ترشول، (غوسه کول، نا خوښه کېدل).
- پوزه پرې کول،(شرمېدل، بې پته کول).
- ګوته په غاښ کېدل،(حيرانېدل، تعجب کول).
- تندی وهل، (ارمان کول، پښېماني کول)
- لور ته په لوټه تيره کول،(وخت ضايع کول)
- له عقل سره ډزې کول،( له عقل څخه کار نه اخيستل)
- د زړه وينې ښبل،(خبرو ته غوږ نه نيول)
- مرچو په ختېه کېناستل،( ډېر په غوسه وي)
- د بوسو لاندې اوبه تېرول،(اصلي خبرې نه کول يعني چال او فريب ورکول)
- اوږه ورکول،( مرسته کول)
- له خوړې ګوتې نيول،( مجبور کول)

✓ تر لمن لاندې کول،(د يو چا ساتنه او پالنه په غاړه اخيستل)

✓ د سترګو تور،(ډېر خوږ او ګران)

## پښتو قاموسونه (دويمه ژبه)

قاموس د يوې ژبې د لغاتو زېرمه ده، د يوې ژبې د لغوي پانګې د خوندي کېدو او له نورو ژبو څخه د راغلو کلمو د تنظيم په موخه قاموس ليکل کېږي.دلته هغو قاموسونو درپېژنو چې زموږ په هېواد کې ليکل شوي دي:

❶ **رياض المحبت:** د پښتو لومړی قاموس ګڼل کېږي، چې په ( ۱۲۲۰ل.ل) کال د (نواب محبت خان) د حافظ رحمت الله خان د زوی له خوا ليکل شوی دی، چې د احمد شاه بابا په وخت کې يې ژوند کاوه.

❷ **پښتو سيند:** (پښتو ـ دري) قاموس دی، په (۱۳۱٦ل.ل) کال د کابل مطبعې له خوا چاپ شوی دی. ددې قاموس مؤلف محمدګل مومند دی او اووه زره (۷۰۰۰) لغتونه لري چې، په کوزه پښتونخوا کې ليکل شوی دی.

❸ **پښتو مرکې:** د پښتو مرکې له خوا دوه قاموسونه ليکل شوي، (پښتو ـ دري قاموس) چې ۱۱۰۰۰ لغات لري او مؤلف يې عبدالرحمان لودين دی او بل يې (دري ـ پښتو) قاموس دی.

❹ **سپېڅلي پښتو:** د (فارسي ـ پښتو) کوچنی قاموس دی، دهر فارسي لغات په څو پښتو لغتونو مانا شوي دي. په (۱۹۴۰م) کال په کندهار کې چاپ شوی، چې لس زره (۱۰۰۰۰) لغات لري او مؤلفان يې ښاغلی حبيب الله او لعل محمد کارګر دي.

❺ **لس زره لغات:** (پښتو ـ فارسي) قاموس دی، لس زره (۱۰۰۰۰) لغات لري، مؤلف يې اعظم ايازي دی، چې په (۱۳۲۰ل.ل) کال چاپ او خپور شوی دی.

❻ **پښتو ـ اردو قاموس:** ددغه قاموس مؤلف سيدراحت زاخېلی دی، لس زره (۱۰۰۰۰) لغات لري، د لغاتو اوډون يې د الفباء په ترتيب په اردو ژبه شوی دی او په پېښور کې چاپ شوی دی.

❼ **افغان قاموس:**

✓ دغه قاموس، پښتو ـ فارسي قاموس دی.

✓ په (۱۳۳۱ل.ل) کال په دوو ټوکو کې چاپ شوی دی.

✓ مؤلف يې محمد ګل نوري دی، خو د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې له خوا راټول شوی دی.

✓ څلوېښت زره (۴۰،۰۰۰) لغات لري.

د افغان قاموس تر سرليک لاندې يو بل (**دري – پښتو**) قاموس دی، چې په درې ټوکونو کې د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

- ✓ لومړی ټوک یې په (۱۳۳۵ل.ل) کال چاپ شوی، چې لغتونه یې په (الف) توري پیل او په (ج) توري پای ته رسېږي او لیکوال یې عبدالله افغاني نویس دی.
- ✓ په دې قاموس کې لومړی فارسي کلمه او د هغې فارسي مانا او بیا یې د پښتو مانا لیکل شوې ده.
- ✓ دوهم ټوک یې د لومړي ټوک په تعقیب لیکل شوی، له (ح) توري پیل او په (غ) توري پای ته رسېدلی، دریم ټوک یې هم د نورو ټوکونو په څېر دی چې (۹۴۰) مخه دی.
- ✓ ددې قاموسونو (درې ټوکونو) د لغاتو شمېر نولس زره (۱۹،۰۰۰) پورې اټکل کېږي.

❽ **پښتو قاموس:**

- ✓ دا قاموس په دوو ټوکونو کې د پښتو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.
- ✓ لومړی ټوک یې د (الف) په توري پیل او په (س) توري پای ته رسېدلی دی. په دغه قاموس کې هر لغت په دري ژبه معنا شوی او بیا په پښتو جملو کې استعمال او جمله په دري ترجمه شوی ده
- ✓ دوهم ټوک یې د لومړي ټوک په تعقیب یعنې د (ش) په توري پیل او په (ی) پای ته رسیږي  او په (۱۳۳۲ ل.ل) چاپ شوی دی.
- ✓ د دواړو ټوکونو د لغاتو شمېر یې څلوېښت زره (۴۰،۰۰۰) شاوخوا اټکل شوی دی.
- ✓ مؤلف یې یو تن نه دی، بلکې د پښتو ټولنې د لغاتو څانګې له خوا لیکل شوی دی.

❾ **پښتو ـ دري لنډ قاموس او فرهنگ مختصر دري ـ پښتو:**

- ✓ دا دواړه قاموسونه په (۱۳۸۴ل.ل) کال په ژمي کې هم مهاله چاپ شوي دي.
- ✓ ددغو قاموسونو په لیکلو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوټ پوهانو او لیکوالو برخه اخیستې ده.
- ✓ د هر لغت تلفظ په فونوټیکه الفباء او د خج ځایونه یې هم په ګوته شوي دي.
- ✓ دغه قاموس د ښوونځیو زده کوونکو او بهرنیو کسانو لپاره ډېر ګټور دی.
- ✓ په دغه قاموس کې (۴۵٦٦) پښتو لغتونه په دري مانا او د هغوی ګرامري خصوصیات هم ښودل شوي دي.
- ✓ فرهنگ مختصر (دري – پښتو) په لیکلو کې د دري ژبې او ادب انستیتیوټ غړو هم برخه اخیستې ده او په دې قاموس کې هم د تېرو قاموسونو لاره تعقیب شوې ده.

❿ **پښتو – پښتو تشریحي قاموس:**

- ✓ د دغه قاموس لومړنی کارونه د هغه وخت د پښتو ټولنې له خوا پیل شوي وه، خو په اوسنۍ بڼه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له تاسیس وروسته د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا په (۱۳٦۵ل.ل) کال کې په څلور(۴) ټوکونو کې یو په بل پسې چاپ او خپاره شول.
- ✓ په دغه قاموس کې هر لغت لومړی په پښتو الفباء او ورسته یې تلفظ په فونوټیکه الفباء لیکل شوی دی.
- ✓ همداسې د کلمو د فشار ځایونه ښودل او د ځینو لغاتو لپاره مختلف لهجوي تلفظونه او مترادف هم راغلي دي.

- دا قاموس په پنځه(۵) ټوکونو کې ترتیب شوی او د ټولو لغتو شمېر یې پنځه پنځوس زره (۵۵۰۰۰) ته رسېږي.
- ددې قاموس قاموس څلور ټوکونه چاپ او پنځم ټوک یې د ځينو ستونزو له مخې ناچاپه پاتې دی.
- د (پښتو- پښتو) تشریحي قاموس په لیکلو کې له بېلابېلو قاموسونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## ملي آرشيف

د نړۍ په هر هېواد کې یو داسې ځای شته چې هلته ټول زاړه خطي کتابونه، چاپي زاړه آثار، د تېرو پادشاهانو فرمانونه، رسمي سندونه، انځورونه او نور با ارزښته شیان ساتل کېږي، دغه ډول ځايونو ته ملي آرشيف وايي.

- زموږ په هېواد کې دغه ودانۍ پّ سالنګ واټ کې واقع ده، چې ۲ پوړه لري. لومړی پوړ یې تر ځمکې لاندې دی، چې ۲ سالونونه او ۱۰ خونې لري.
- دغه ودانۍ د عبدالرحمن خان په مهال جوړه شوې وه، چې نوموړي امیر دا ودانۍ د خپل زوی شهزاده حبیب الله خان د کار لپاره جوړه کړې وه.
- دا ودانۍ د محمد دواود خان د جمهوریت په لومړیو ۱۳۵۲ل.ل کال کې د ملي آرشیف لپاره ځانګړې شوه او د عامه کتابتون تر اداري لاندې یې فعالیت پیل کړ.
- ملي آرشیف په رسمي توګه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت د یوې ځانګړې فرهنګي اداري په توګه په ۱۳۵۹ل.ل کال پرانیستل شو.
- لومړی هلته لیکلي چاپي، تاریخي او هنري آثار چې په کابل کې د عامه کتابتون او نورو دولتي ادارو کې موجود وو، په ملي آرشیف کې ځای پر ځای شول او بیا د هېواد له ګوټ ګوټ څخه اړوند آثار ورته راوړل شو.
- هغه ټول آثار چې اوس زموږ په ملي آرشیف کې موجود دي، د اسلامي پېړیو راوروسته آثار دي.
- تر ټولو پخوانۍ لاس کښلی (خطي) اثر چې به ملي آرشیف کې موجود دی هغه د قرانکریم ۵سپارې دي، چې د هوسۍ په پوستکي(څرمنې) باندې کښل شوې او د حضرت عثمان (رض) په وخت پورې منسوببېږي.
- بل لرغونی سند د تیموري دورې د نومیالي واکمن سلطان حسین بایقرا فرمان دی، چې په ۹۰۱ ل.س کال په نستعلیق لیک لیکل شوی دی.
- بل ارزښتناک ادبي اثر چې هلته په ملي آرشیف کې موجود دی، (پټه خزانه) خطي اثر دی، چې د ۲ هجري پېړۍ نیمایي ته یې مخینه رسېږي.
- زموږ ملي آرشیف د (سواربیکا) یا د آرشیفونو د نړیوالي مؤسیسې غړیتوب هم لري.

## د لويو جرګو تاريخچه(مخينه)

جرګه هغه غونډې ته وايي، چې د قبيلوي، ولسي او قومي مسايلو د حل او شخړلو د پرېکړې صلاحيت لري.

جرګه ځانګړي قواعد او مقررات لري، په هره سيمه کې د جرګو خلک معلوم وي، منل شوي او پېژندل شوي وګړي وي. چې دوی ته په ولسي اصطلاح مرکچيان، جرګه ماران يا مشران وايي.

جرګه په کليوالي او لويې جرګې وېشل کېږي.

- ✓ آريايانو دوه ډوله جرګې دلودلې، چې يوه يې سيمتي او بله يې سبها(کليوالي) جرګې وې.
  د ميرويس خان نيکه په وخت کې درې لويې جرګې جوړې شوې وې.

1. ۱۱۰۵ل.س کال په کوکران کې.
2. ۱۱۱۹ل.س کال په مانجه کې.
3. ۱۱۱۹ل.س کال په کندهار کې.

په دغو جرګو کې ملت د بهرنيو په وړاندې پاڅون ته چمتو او ميرويس نيکه د ملي مشر په توګه وټاکل شو.

- ✓ له ميرويس خاني جرګو وروسته په احمدشاهي دوره کې په کال ۱۷۵۷ز د شېرسرخ په مزار کې لويه جرګه جوړه شوه، چې احمدشاه بابا يې د ملي مشر په توګه وټاکه.
- ✓ د انګرېزانو له يرغل څخه وروسته په ۱۸۴۱ز کال د ملي مجاهدينو لويه جرګه.
- ✓ د امير شېرعلي خان په دوره کې د لويې جرګې له خوا په کابينه کې د صدراعظم ټاکنه هم لويې جرګې وکړه.
- ✓ د اميرحبيب الله خان په دوره کې لويه جرګه جوړه شوه، چې په لومړي نړيوال جنګ کې يې د افغانيستان بې طرفي تصويب کړه.
- ✓ د امير امان الله خان په دوره کې څلور لويې جرګې جوړې شوې دي:

1. په ۱۹۲۰ز کال په هېواد کې خلک د خپلواکۍ ساتنې لپاره چمتو کړای شول.
2. په ۱۹۲۳ز کال لويې جرګې لومړنی اساسي قانون تصويب کړ.
3. په ۱۹۲۴ز کال لويې جرګې د کورني اړودوړ د مخنيوي لپاره تدبير ونيو.
4. په ۱۳۰۷ل.ل کال لويې جرګې اروپا ته د امان الله خان د سفر پايلې وڅېړلې.

- ✓ د نادرخان په وخت کې په کال ۱۳۰۹ل.ل لويې جرګې د هېواد اساسي قانون تصويب کړ.
- ✓ د ظاهر شاه د وخت لويې جرګې په ۱۹۴۱ز کال په دوهم نړيوال جنګ کې د افغانيستان بې طرفي اعلان کړه. او په ۱۳۴۳ل.س کال يې د هېواد نوی اساسي قانون تصويب کړ.

## د لویانو غوره ویناوې

- د ځان پېژندل د خدای پېژندل دي. (الحدیث شریف)

حضرت محمد(ص) وایي:

- څوک چې پر کشرانو زړه سوی او د لویانو درناوی نه کوي زموږ له ډلې څخه نه دی.
- د هر کار له پیل څخه مخکې د هغه پایلې وسنجوئ، که پایله یې درته ښه ښکارېده ویې کړئ او کنه نو مه یې کوئ.
- هغه چاته وګورئ، چې له تاسو څخه په ژوند کې کم او ټیټ وي او هغه چاته مه ګورئ، چې له تاسو نه په ژوند کې پورته وي، دا کار ددې لپاره ډېر غوره دی، چې د هغو نعمتونو سپکاوی ونه کړئ، چې تاسې ته الله(ج) در په برخه کړي دي.
- د ژبې ساتل په خلکو کې ددنیا د مال او دولت له ساتلو څخه سخت دي.
- هر څوک چې پخپله ځان ته ارزښت ورکوي، د تواضع لاره یې پرېښې.
- هر شی زکات لري، خو د عقل زکات صبر او زغم دی.
- په ټولو کارونو کې درې کارونه سخت دي.
  1. سخاوت په فقر کې.
  2. زهد او تقوا په پټې سره.
  3. حق ویل د هغه چا په مخ کې چې له څخه وېرېږئ.
- هغه څوک چې په درې کارونو د زړه حضور ونه لري، د الله (ج) د رحمت دروازې یې پرمخ تړلې دي.
  1. د قرانکریم د تلاوت په وخت.
  2. د الله(ج) د ذکر په وخت.
  3. د لمانځه د ادا کولو په وخت.
- ښایي د غلا او درغلۍ ځاله یوه ورځ ویجاړه شي، خو د رېښتیا او امانت ماڼۍ ټینګه او پخپل ځای ولاړه ده.
- زده کړه له کوره ترګوره وکړئ.
- نېکمرغه هغه څوک دی، چې له خپلې هرې خطا څخه نوې تجربه تر لاسه کړ. (سقراط)
- نېکمرغه هغه کسان دي، چې له دوو شیانو څخه یې ولري.
  1. ښه او غوره کتابونه.
  2. یا داسې دوستان یا ملګري، چې کتابونه ولري. (ویکتور هوګو)
- د علم او پوهې هرښوونځی چې پرانیستل کېږي، د زندان دروازې تړل کېږي.(ویکتورهوګو)
- کله چې هوس پر عقل بریالی شي، انسان کندې ته لوېږي.( حضرت علي حیدر«رض»)

- هغه لاس چې رانګو زنګوي، جهان هم زنګوي.
- جګړه د هر ولس تدریجي ځان وژنه ده.
- ورزش له یوې خوا ستاسې روغتیا ته ګټه لري او له بل پلوه ستاسې ترمنځ د ملګرتیا او صمیمیت اړیکې ټینګه وي.
- نیکي هر شی مغلوبوي، خو په خپله نه مغلوبېږي.
- د نورو په عیبونو سترګې پټې کړئ، پر ځای یې خپلو عیبونو ته پام وکړئ، هغه فرصت چې د نورو د عیبونو په سپړلو کې ببروئ، په هغې کې خپل عیبونه اصلاح کړئ.
- د خدای(۳) په وړاندې تر ټولو ګران بنده ګان متقیان او پرهېزګاران دي.

## اووم تمرین

1) روښاني ادبي مکتب کله رامنځته شو؟

۱) ۱۰ هـ.ق پېړۍ دوهمه نیمایي ۲) ۹هـ پېړۍ

۳) ۱۲هـ پېړۍ ۴) ۱۱هـ پېړۍ

2) علي محمد مخلص د کوم ادبي مکتب پیرو شاعر دی؟

۱) خوشحال مکتب ۲) روښاني مکتب

۳) نازکخیالي مکتب ۴) ټول سم دي

3) د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب پیرو په نښه کړئ!

۱) سکندرخان ختک ۲) اشرف خان هجري ۳) صدرخان ختک ۴) ټول سم دي.

4) معزالله مومند د کوم ادبي مکتب پیرو دی؟

۱) روښاني ۲) نازکخیالي ۳) رحمان بابا ۴) خوشحال خان

5) نازکخیالي ادبي مکتب د کوم ادبي مکتب تر اغېزې لاندې منځته راغلی دی؟

۱) فارسي هندي ۲) روحاني ۳) عراقي ۴) هېڅ یو

6) د کوم ادبي مکتب په دوره کې عربي او فارسي شعري قالبونه پښتو ژبې ته داخل شو؟

۱) روښاني ۲) رحمان بابا ۳) نازکخیالي ادبي مکتب ۴) هېڅ یو

7) د پښتو ملي کیسې (ادم خان درخانۍ او دلی شهۍ) د کوم ادبي مکتب په دوره کې لیکل شوي؟

۱) رحمان بابا ۲) روښاني ۳) خوشحال خان ۴) نازکخیالي

8) د غزل فورم د کوم ادبي مکتب په دوره کې کمال ته ورسېد؟

۱) روښاني ۲) نازکخیالي ۳) خوشحال خان ۴) رحمان بابا

9) د نازکخیالي ادبي مکتب دوه شاعران په نښه کړئ؟

۱) سکندر خان ۲) حمید او شیدا ۳) معزالله ۴) ۱ او ۳ سم دي

10) د کندهار ادبي مکتب د چا په واسطه تاسیس شوی و؟

۱) وزیرگل محمدخان ۲) عبدالخالق واسعي ۳) محمداعظم ایازي ۴) محمدعثمان

11) د پښتو لومړۍ مجله په کوم کال کې خپره شوه؟

۱) ۱۳۱۰ل.س ۲) ۱۳۱۴ل.س ۳) ۱۳۱۱ ل.س ۴) ۱۳۱۵ ل.س

12) پښتو ټولنه په کوم هجري لمریز کال کې تاسیس شوه؟

۱) ۱۳۱۱ل.ل ۲) ۱۳۱۰ل.ل ۳) ۱۳۰۹ل.ل ۴) ۱۳۱۶ل.ل

13) د پښتو لومړۍ ادبي تذکره په نښه کړئ!

۱) پښتانه شاعران ۲) پټه خزانه

۳) تذکرة الاولیا ۴) درې ټوکه اوسنی لیکوال

**14)** درې ټوکه اوسنی لیکوالان د چا اثر دی؟

۱) عبدالحی حبیبي ۲) عبدالروف بېنوا ۳) افضل ټکور ۴) هېڅ یو

**15)** دا لیکوال او دا خبرې د چا اثر دی؟

۱) حبیب الله رفیق ۲) مؤمن پتوال ۳) عبدالحلیم ۴) افضل ټکور

**16)** د همېش خلیل ادبي تذکره په نښه کړئ؟

۱) ورکه خزانه ۲) پښتانه لیکوال ۳) د قلم خاوندان ۴) ټول سم دي

**17)** لیک د عمومي توګه په کومو برخو وېشل کېږي؟

۱) ادبي او عام ۲) شخصي او رسمي

۳) ادبي او سیاسي ۴) ټول سم دي

**18)** په کومو لیکونو کې ټولنیز، سیاسي، فرهنګي او انتقادي موضوعات راځي؟

۱) شخصي ۲) دولتي ۳) ادبي ۴) رسمي

**19)** د زړه خواله د چا ادبي اثر دی؟

۱) صدیق الله رښتین ۲) بېنوا ۳) دواړه ۴) هېڅ یو

**20)** آس لره په لاس لره؛ څه ډول متل دی؟

۱) منثور ۲) منظوم ۳) ۱ او ۲ سم دي ۴) هېڅ یو

**21)** پاد بیمانه کوم د څه شي مانا لري؟

۱) شرمېدل ۲) ګناکول ۳) بې ګټې کار کول ۴) تمسخرکول

**22)** کوم قاموس د پښتو لومړی قاموس ګڼل کېږي؟

۱) لس زره لغات ۲) پښتو سیند

۳) پښتو دري قاموس ۴) ریاض المحبت

**23)** د پښتو سیند قاموس مؤلف څوک دی؟

۱) محمدګل مومند ۲) عبدالله افغان نویس

۳) نواب خان ۴) هېڅ یو

**24)** د افغان قاموس لومړی ټوک په کوم کال کې چاپ شو؟

۱) ۱۳۱۳ل.ل ۲) ۱۳۱۵ل.ل

۳) ۱۳۳۲ل.ل ۴) ۱۳۱۷ل.ل

**25)** ملي آرشیف د کوم پادشاه په مهال کې تاسیس شو؟

۱) حبیب الله ۲) عبدالرحمن خان

۳) ظاهرشاه ۴) امان الله

26) آرین څه مانا؟

۱) زړور ۲) قدیمي ۳) بې ننګه ۴) نجیب او شریف

27) د ریګویدا په کتاب کې، پښتون قوم د څه په نوم یاد شوی دی؟

۱) بهالانه ۲) شیوا ۳) پکته ۴) پکهت

28) هېرودوت د پښتنو هېواد کوم ځای یادوي؟

۱) هروات ۲) بوختي ۳) پکتیا ۴) قندهار

29) بطلیموس د پښتنو هېواد کوم ځای نومولی دی؟

۱) پکتین ۲) سیند ۳) لغمان ۴) هېڅ یو

30) جرګه په څو ډوله ده؟

۱) ۴ ۲) ۲ ۳) ۳ ۴) ۱

31) د میرویس نیکه په دوره کې څو لویې جرګې جوړې شوې دي؟

۱) ۴ ۲) ۵ ۳) ۳ ۴) ۲

32) په کوم کال احمدشاه بابا د شېر سرخ په جرګه کې د ملي مشر په توګه وټاکل شو؟

۱) ۱۷۴۵ز ۲) ۱۷۵۷ز ۳) ۱۷۳۸ز ۴) ۱۳۴۳ل.س

33) لومړی نړیوال جنګ د کوم پادشاه په وخت کې رامنځته شوه؟

۱) حبیب الله خان ۲) شېرعلي خان ۳) امان الله ۴) ظاهر شاه

34) متلونه د (بڼې) او شکل له مخې په څو ډوله دي؟

1) دوه 2) درې 3) ځلور 4) یو

35) په جامو کې نه ځائیدل مطلب څه دی؟

1) د ډېرې خوښۍ حالت ښودل 2) حالت ښودل

3) د جامو حالت ښودل 4) د ډېرې ستونزې حالت ښودل

36) د آسمان ستورې شمېرل مطلب څه دی؟

1) کارکول 2) ناشوني 3) ناشوني کارکول 4) هيڅ يو

37) سپین سترګې کول مطلب څه دی؟

1) حیا کول 2) بې ګټې کار کول 3) بی حیایي کول 4) 1 او 2 سم دي

38) منظوم ولسي ادب په څو ډوله دي؟

1) ځلور 2) درې 3) دوه 4) یو

39) د ولسي شعرونو شاعر څوک دی؟

1) شاعریې معلوم نه دی 2) شاعر یې معلوم دی

3) دواړه 4) هیڅ یو

40) خاص ولسي شعرونه څه ډول شعرونه دي؟

1) ویناوال یا شاعر معلوم دی 2) شاعر معلوم نه دی

3) ۱ او ۲ سم دي 4) هيڅ يو

41) هغه ادبي بهير يا د نظم او نثر د وينا او ليکنې لارې طريقې ته کارول کيږي:

1) ادبي مکتب 2) ادبيات 3) ادبپوهنه 4) ادبي کره کتنه

42) روښاني ادبي مکتب په کومو پيړی کې را منځته شوی دی؟

1) څلورمه پيړی کې 2) اتمه پيړی کې 3) لسمه پيړی کې 4) دولسمه پيړي کې

43) پیچلي مسایل، مسجع نثر د کوم مکتب ځانګړتياوې دي:

1) نازکخيالي مکتب 2) تصوفي مکتب 3) ادبي مکتب 4) روښاني مکتب

44) د هندي سبک بنسټ ايښودونکی په پښتو کې په نښه کړئ:

1) خوشحال‌خان بابا 2) عبدالرحمان بابا 3) عبدالحميد بابا 4) احمد شاه بابا

45) په يو ټاکلی تاريخي دوره کې د يوې ادبي ډلې ليکواله له خوا د يوې ځانګړی لارې او د يو ځانګړی سبک خپلول او پر مخ وړلو ته څه وايی؟

1) ادبي مکتب 2) ادبي جريان او ادبي مکتب

3) ادبي تيوري 4) ادبي جريان

46) په يوې ټاکلی تاريخي دوره کې ديوې ادبي ډلې ليکوالو له خوا د يوې ځانګړی لارې او د يو ځانګړي سبک خپلول او پرمخ وړلو ته:

1) کره کتنه وايي 2) ادب تيوري وايي 3) ادب تاريخ وايي 4) ادبي سبک وايي

47) په نثر ليکنو کې د مسجع نثر روا جبدل د کوم ادبي مکتب ځانګړنه ده؟

1) خوشحال خان ادبي مکتب 2) د رحمان بابا ادبي مکتب

3) د روښانیان ادبي مکتب 4) د ناز کخيالي ادبي مکتب

48) تندي تروشول مطلب څه دی؟

1) غوسه کول 2) خنډ او سوچ کول 3) نا خوښه کېدل 4) 1 او 3 سمه ده

49) چې غوږه په لاس خلاصيږي خولې ته يې حاجت نشته، پورتنی جملې ته څه ويل کيږي؟

1) منثور متل 2) منظوم متل 3) اصطلاح 4) محاوره

50) سل روپی پور که – د اختر شپه په کور که – پورتنيو جملو ته څه ويل کيږی؟

1) اصطلاح 2) محاوره 3) منظوم متل 4) منثور متل

51) قاموس څه معنی لري؟

1) نقشه 2) تعهد 3) د لغاتونو زيرمه 4) حقيقت

52) د پښتو لومړنی قاموس کوم قاموس دی؟

1) رياض المحبت 2) پښتو تشريحي 3) پښتو مرکي 4) پښتو سيند

53) د «رياض المحبت» ليکوال څوک دی؟

1) نواب محمدخان　2) عبدالغني خان　3) عجبخان　4) حافظ حفيظ الله

54) رياض المحبت په کوم کال کې ليکل شوی دی؟

1) 1230　2) 1220　3) 1240　4) 1222

55) د پښتو دري قاموس کوم قاموس دی؟

1) پښتو سيند　2) پښتو مرکي　3) سپيڅلی پښتو　4) رياضی المحبت

56) د «پښتو سيندقاموس» ليکوال څوک دی؟

1) ارواښاد محمد گل مومند　2) لعل محمد کاکړ

3) سيد راحت زاخيلي　4) عبدالرحمن لودين

57) د پښتو سيند په کوم کال کې په کابل مطبعه کې چاپ شوی دی؟

1) 1314 هـ ش　2) 1315هـ ش　3) 1316 هـ ش　4) 1312هـ ش

58) پښتو سيند څو زره لغتونه لري؟

1) 6000　2) 7000　3) 5000　4) 4000

59) د پښتو مرکي له خوا څو قاموسونه ليکل شوی دي؟

1) دوه　2) دري　3) څلور　4) يو

60) پښتو مرکي قاموس ليکوال څوک دی؟

1) عبدالرحمن لودين　2) محمد گل مومند

3) لعل محمد کاکړ　4) اعظم ايازی

61) د سپيڅلي پښتو قاموس په کوم کال کې چاپ شوی دی؟

1) 1941م　2) 1949م　3) 1940م　4) 1950م

62) سپيڅلی پښتو قاموس چې فارسي پښتو کوچنی قاموس دی څو زره لغات لري؟

1) لس زره　2) يو لس زره　3) نه لس زره　4) اته زره

63) لس زره لغات په کوم کال کې چاپ شوی دی؟

1) 1940 هـ ش　2) 1320هـ ش　3) 1330 هـ ش　4) 1322هـ ش

64) د پښتو اردو قاموس مؤلف څوک دی؟

1) سيد راحت زاخيلي　2) اعظم ايازي

3) لعل محمد کاکړ　4) محمد گل مومند

65) د پښتو اردو قاموس چيرته چاپ شوی دی؟

1) پېښور　2) کابل　3) کراچي　4) ايران

66) افغان قاموس چی پښتو فارسي قاموس دی په کوم کال په دوو ټوکو کې خپور شوی دی؟

1) 1332ه.ش 2) 1331ه.ش 3) 1333ه.ش 4) 1334ه.ش

67) د افغان قاموس ليکوال څوک دی؟

1) ملا دین محمد 2) محمد گل نوری 3) عبدالرحمان لودين 4) لعل محمد کاکړ

68) افغان قاموس څو زره لغتونه لری؟

1) څلويښت زره 2) پنځه لس زره 3) دريش زره 4) يو لس زره

69) پښتو دري قاموس په څو ټوکونو د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی؟

1) دري ټوکونو 2) څلور ټوکونو 3) دوه ټوکونو 4) پنځه ټوکونو

70) پښتو دري قاموس لومړی ټوکې په کوم کال کې له چاپه راوتلی دی؟

1) 1334 هـ ق 2) 1335 هـ ش 3) 1332 هـ ش 4) 1333 هـ ش

| د ځوابونه کلی | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
| 1 | 1 | 15 | 4 | 29 | 1 | 43 | 4 | 57 | 3 |
| 2 | 2 | 16 | 4 | 30 | 2 | 44 | 3 | 58 | 2 |
| 3 | 3 | 17 | 1 | 31 | 3 | 45 | 2 | 59 | 1 |
| 4 | 3 | 18 | 3 | 32 | 2 | 46 | 4 | 60 | 1 |
| 5 | 1 | 19 | 3 | 33 | 1 | 47 | 3 | 61 | 3 |
| 6 | 1 | 20 | 2 | 34 | 1 | 48 | 4 | 62 | 1 |
| 7 | 3 | 21 | 3 | 35 | 1 | 49 | 1 | 63 | 2 |
| 8 | 2 | 22 | 4 | 36 | 3 | 50 | 3 | 64 | 1 |
| 9 | 2 | 23 | 3 | 37 | 3 | 51 | 3 | 65 | 1 |
| 10 | 1 | 24 | 2 | 38 | 3 | 52 | 1 | 66 | 2 |
| 11 | 3 | 25 | 2 | 39 | 1 | 53 | 1 | 67 | 2 |
| 12 | 4 | 26 | 4 | 40 | 1 | 54 | 2 | 68 | 1 |
| 13 | 3 | 27 | 3 | 41 | 1 | 55 | 1 | 69 | 1 |
| 14 | 2 | 28 | 3 | 42 | 3 | 56 | 1 | 70 | 2 |

## بهرني پښتو پوهان (مستشرقين)

هغه شمېر پوهان او څېړونکي چې د آسيايي هېوادونو او ولسونو په باب يې د تاريخ په اوږدو کې څېړنې او ليکنې کړې دي، يا يې کوي، هغو ته ختيځپوهان يا مستشرقين وايي.

له دې ډلې هغه پوهان چې د پښتو، پښتنو او د هغوی د ټاټوبي (افغانستان او پښتونخوا) په اړه تحقيق او ليکنې کوي، بهرني پښتو پوهان نومول کېږي.

دغه پښتو پ،هان زياتره په هغه زمانه کې چې انګرېزي ښکېلاک او استعمار د آسيا په هېوادونو لومړی په هند او بيا په افغانستان شروع شو، د يو شمېر سياسي او استخباراتي ماموريتونو او موخو لپاره يې زموږ د هېواد د استوګنو ولسونو او قومونو د ټاټوبي، ژبې، کلتور او عنعنات، ټولنيز ژوند، تاريخ او د ژوند د بېلابېل برخو په باب مطالعات او ليکنې پيل کړې.

پښتون ولس د يو لوی قوم او توکم په حيث زياتره ددوی پام ځان ته راواړاو او ددوی په اړه يې ډېر تحقيقات او څېړنې وکړې.

په پخوانې شوروي اتحاد کې هم د سيمې د نورو هېوادونو په ډله کې د افغانستان او هغه شاملو قومونو په هکله مطالعات، ليکنې او څېړنې پيل شوې، د ختيځ پېژندنې او مطالعاتو انستيتيوت د شوروي په پلازمينه (مسکو) کې رامنځ ته شو. بيا هلته د پښتو ژبې او ادبياتو په هکله ډېرې ليکنې او څېړنې وشوې.

بهرني پښتو پوهان ډېر زيات دي، په دې اړه د عبدالرحيم ځدراڼ اثر په (خارج کې پښتو څېړونکي) او د پوهاند دوکتور ترې (دمغرب په آسمان کې د مشرق ستوري) آثار او زموږ نور منابع دغه بهرني پښتو پوهان راپېژني.



## د پښتو په اړه د بهرنيو مطالعاتو او ليکنو ارزښت

- ✓ دغو پوهانو پښتو د نړۍ په هېوادونو کې خپره او پښتون توکم يې د نړۍ د يو ستر قوم او ټبر په توګه ترېوالو ته ور وپېژانده، چې په پايله کې يې د نړۍ او پښتون ولس ترمنځ اړيکې رامنځته کړې.
- ✓ د پښتنو آثار د هغوی په واسطه چاپ، خپراه او د نړۍ په موزيمونو او کتابتونو کې خوندي شو.
- ✓ دوی په هغه وخت کې، چې پښتانه د چاو صحافت له فن سره آشنا نه و، خپل پښتو نثري او نظمی آثار چاپ او بيا ځان سره وبوړل. وروسته چې زموږ ليکوالو او څېړونکو د خپلې ژبې او ادبياتو په هکله ليکنې او څېړنې پيل کړې، له همدې آثارو څخه يې د لومړنيو معتبرو منابعو په توګه کار واخيست، چې د هغو په منځ کې يې (ګلشن روه، پښتو منتخبات، کيليدافغاني، د پښتونخوا د شعر هار و بهار) د يادونې وړ دي.

- دغه بهرني پښتوپوهان ډېر زيات دي، چې د هېواد ځينې ادبي تاريخونو، د عبدالحليم څدراڼ اثر(په خارج کې پښتو څېړونکي) او د (مغرب په آسمان کې د مشرق ستوري) د پوهاند دوکتور ترېي اثر، په لړ و ډېر تفصيل سره مور ته راپېژندلي دي.

### ❶ بوريس اندر وييچ ډورن:

بوريس اندرييويچ ډورن، په ۱۸۰۵ز کال په جرمني کې زېږېدلی او لومړی زده کړې يې هلته د ختيځپوهنې په څانګه کې ترسره کړې دي. دی په خپله ځوانۍ کې روسيې ته تللی او د ژوند تر پايه يې هلته په (خارکوف او پترزبورګ) پوهنتونونو کې د ختيځو ژبو تدريس چارې ترسره کړې دي.

نومړي په روسيه کې د پښتو تدريس او څېړنې پيل کړې او هلته يې د پښتو د قلمي نسخو په راټولولو او پلټنه کې هم ستره ونډه اخيستې ده.

د ډورن د (پښتو منتخبات) په نوم د کلاسيک نظم او نثر يوه ټولګه ترتيب کړې، چې لومړی ځل په (۱۸۴۸ز) کال کې په روسيه او بيا په ۱۳۵٦ل.ل کال په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړ. نومړی په ۱۸۸۱ز کال مړ دی.

### ❷ هنري جورج راورټي:

هنري جورج راورټي په ۱۸۲۵ز کال په انګلستان کې زېږېدلی او بيا په ځوانۍ کې په هندوستان کې د انګرېزانو په پوځ کې شامل شو. راورټي د ژبو په زده کړه کې ډېر استعداد درلود، په هندوستان کې يې لومړی يو شمېر ژبې زده او بيا يې پښتو ژبه هم په لږه موده کې زده کړه، په بهرنيو پښتو پوهانو کې، هنري راورټي ډېر ارزښتمن کارونه ترسره کړي دي. په ۱۹۰٦ز کال مړ شو.

پښتو ليکلي اثار يې په لاندې ډول دي:

- د پښتو ګرامر
- پښتو انګرېزي فرهنګ
- انګرېزي پښتو فرهنګ
- ګلشن روه
- قصې د ايسپ حکيم
- د انجيل ژباړه
- د پښتو اشعارو منتخبات

### ❸ جيمز ډار مستېټر:

دغه نوميالی پښتو پوه ۱۸۴۹ز په فرانسه کې زېږېدلی او په پاريس کې يې د ادبياتو په فاکولته کې تر دوکتورا درجې زده کړې کړي دي. وروسته بيا په هندوستان کې د ژبو څېړنې وروسپارل شوې. دی د پښتو ژبې په اړه په پېښور کې يو شمير څېړنې کړې دي او جوته يې کړه، چې پښتو يوه لرغونې آريايي ژبه ده، چې د هندوآريايي ژبو په لوېديځې څانګې پورې اړه لري. نومړی په کال ۱۸۹۴ز کال کې مړ دی.

پښتو مشهور آثار يې په لاندې ډول دي:

- ✓ پښتو ښېرنې (د پوهاند حبيبي او استاد بېنوا په واسطه په پښتو ژباړل شوي او په کابل کې چاپ شوي دي).
- ✓ د پښتونخوا شعر هار و بهار (د ولسي حماسي چاربيتې، چې د انګرېزانو د ښکېلاک پر ضد ويل شوي و).

**❹ هنري والټر بيليو:**

دغه بهرنی پښتوپوه انګرېز و، کله يې چې پلار په هندوستان کې د انګرېزانو په پوځ کې ماموريت درلود، په ۱۸۳۴ ز کال د هند په نصيرآباد کې زېږېدلی دی. دی په انګرېزي پوځ کې يو ډاکټر و، خو پښتو يې هم ډېره ښه زده وه.

د امير دوست محمدخان د واکمنۍ په مهال کې کندهار ته د يو سياسي پلاوي په توګه راغلی و او د امير له زوی غلام حيدر خان سره يې کتلي و.

بيليو داسي پښتو زده کړې وه، چې د امبالې په کنفرانس کې يې د امير شېرعلي خان پښتو وينا په روانه انګرېزي وژباړله. دغه ختيځ پوه په ۱۸۸٦ ز کال د انګرېزانو په پوځ کې له دندې تقاعد او په ۱۸۹۲ ز کال مړ شوی دی.

د پښتو ژبې او پښتون قوم په هکله يې ډېرې ښېرنې او ليکنې کړې دي، چې مشهورې يې دادي:

- ✓ د پښتو ګرامر (لومړی ځل په ۱۸۸٦ ز کال په لندن کې چاپ شو).
- ✓ پښتو انګرېزي قاموس ( ۱۸٦۷ ز کال چاپ)
- ✓ افغانستان او افغانان ( ۱۸۷٦ ز کال چاپ)
- ✓ د افغانستان قومونه ( ۱۸۸۷ ز کال چاپ)
- ✓ د افغانستان د قوم پېژندنې ښېړنه ( ۱۸۹۱ ز کال چاپ).
- ✓ پښتو ډکشنرۍ

سر بېره پر دې آثارو، د پنجاب سرحد او يوسفزو په باره کې عمومي رپورټ او له اباسين څخه تر دجلې پورې په نومونو آثار ليکلي او چاپ کړي دي.

**❺ تور برن** ( د پښتو ژبو کتاب)

تور برن په بنو کې د برتانوي هند د حکومت د يو مامور په توګه کار کاوه. وروسته يې د پښتنو له ژوند، فولکلور، متلونو، کېسو او سندرو سره ځانګړې مينه پيدا شوه، هغه يې را ټول او په ۱۸۷٦ ز کال کې يې د ( بنو ـ زموږ افغاني سرحد) په نوم چاپ او خپور کړ.

❻ **پروفیسر مارګن ستېرن** ( د پښتو ژبو کتاب)

په ۱۸۹۲ ز کال کې په ناروې کې زېږېدلی دی چې د پښتو ژبې د څېړنې لپاره يې پښتونخواه او افغانستان ته سفرونه وکړل. د پښتو ژبې او ګرامر په اړه خورا مهم آثار لري.

بهرنيو پښتو پوهانو ډېر زيات دي، چې په دې ليکنه کې د ټولو راوړل ځای نه لري، دوی د پښتو تاريخ، ژبې او کلتور په باب په انګرېزي، فرانسوي، روسي او نورو ژبو ځانګړي اثار ليکلي يا ژباړلي دي.

جان ګورډن لاريمر، ډيوډ لاريمر، روس کيپل، هاول ( څلور واړه د انګلستان)، پروفيسر اسلانوف ( د پخوانی شوروي اتحاد)، ډاکټر پنزل (اتريشي)، ډاکټر برژي بيچکا ( د چک جمهوريت)، ډاکټر ميکنزی (د انګلستان)، ژاک لوتس(د جرمني) او نور.

➲ **زرغونه کاکړه:** زرغونه کاکړه د ملا دين محمد لور، د کندهار په پنجوايي کې اوسېدله، د زوکړې کال يې ۸۸۴هـ.ق اټکل شوی دی. زرغونه کاکړې ديني علوم، نثر او نظم کتابونه له خپل پلار څخه زده کړي وه. د دين په احکامو، فصاحت، بلاغت، عرفان، خطاطي هنر هم ښه پوهېده. دغه عالمه مېرمن له سعدالله خان نورزي سره واده کړی وه. په ۹۰۳هـ.ق کال د شيخ مصلح الدين سعدي شيرازي (بوستان) کتاب يې پښتو ژبې ته وژباړه.

محمدهوتک، د پټې خزانې ليکوال وايي، چې زما پلار د پښتو بوستان يوه نسخه، چې نوموړې خطاطي کړې وه، په ۱۱۰۲ هـ.ق کال ليدلې وه.

محمد هوتک په پټه خزانه کې د زرغونې کاکړې علم، فضيلت او اخلاق ډېر ستايلي و او د هغې يو شعر يې په پټه خزانه کې تر موږ رارسولی دی.

د پښتو ادبياتو تاريخ دوهم ټوک ليکوال د زرغونې کاکړې د ژوند د حالاتو او شعرونو په هکله ليکلي، چې زرغونه کاکړه د خپل پښتو بوستان سره، د شاعرانو مخصوصه ډله په سر کې ولاړه منل شوې ده.

دشعر لومړی او وروستی بيت يې دادی:

اورېدلــــې مې قصه ده
چې له شاتو نه خوږه ده
تواضع به دې سر لــوړکا
تکبر به دې تل ځـــوړ کا

### بايزيد روښان:

بايزيد روښان د قاضي عبدالله زوی او د اورمړو له قوم څخه و، کورنی يې له وزيرستان څخه هندوستان ته تللې وه او روښان هلته په ۹۲٦هـ.ق وزېږېد، نوموړي د علومو له زده کړې وروسته د طريقت او عرفان يوه لاره رامنځ ته کړه او ډېر پيروان او مريدان يې وموندل، چې بيا دغه روحاني او تصوفي غورځنګ ملي او سياسي بڼه خپله کړه.

بايزيد روښان د عرفان او تصوف ترڅنګ د وخت د مغولي واکمن په وړاندې ملي مبارزه پيل کړه او ددغې مبارزې په بهير کې په ۹۸۵هـ.ق کال ومړ. نوموړي په هندي، پښتو، فارسي او عربي ژبو ډېر آثار ليکلي، چې په هغو کې يو ډېر مشهور اثر (خيرالبيان) دی.

### خوشحال خان خټک:

د پښتو ژبې پياوړی شاعر، ليکوال، ملي مشر او لارښود، خوشحال خان خټک د شهباز خان زوی په ۱۰۲۲هـ.ق کال د پښتونخوا په سرای اکوړې کې سترګې نړۍ ته پرانيستې، په ۱۱۰۰هـ.ق کال په ۷۸ کالو په عمر يې له دې پاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

نثري او نظمي آثار يې دا دي:

- ✓ دستارنامه
- ✓ باز نامه
- ✓ سواتنامه
- ✓ طب نامه
- ✓ فراقنامه
- ✓ فضل نامه
- ✓ فالنامه
- ✓ اخلاقنامه
- ✓ بياض ( د پښتو تاريخ )
- ✓ د اشعارو ديوان

د هغه د شعر لومړی او ورستی بيت په لاندې ډول دي:

تر لک زيات پيغمـــــــبران دي
څوک نبيان څوک مرســلان دي
د دين کار په ده تمـــــــام شو
خاتمت د ده په نام شـــــــــو

/

هر ملخي د سربازۍ له هنر څه زده

چې په دا هنر کې سربښندي پتنګ دی

عاقبت به خپل ورغوي په غاښ کـــا

هر چې کار کا د دښمنو په ورمونـــــو

/

په واک چې نه لري په کام کې ژبه

که ګونګ شي ښه ده په لويه تبـــه

**عبدالرحمن بابا:** عبدالرحمن بابا د عبدالستار مومند زوی د پښتو خوږ ژبی شاعر او نوميالی عارف په ۱۰۴۲هـ.ق کال دپښتونخوا پېښور ښار د بهادر په کلي کې زېږېدلی و، لومړني ديني علوم يې په خپل کلي کې او په څواني کې د لوړو زده کړو لپاره کوهاټ ته ولاړ. هلته د مروجو ديني او ادبي علوم له زده کړې څخه برخمن شو. تر څنګ يې له مشهور عارف او روحاني شخصيت حاجي بهادر کوهاټي طريقت سره آشنا او لاس نيوی کړی و. کله چې بېرته پېښور ته راغی د خپل پلرني ټاټوبي په هزار خاني کې د ژوند تر پايه هلته استوګن شو، د ۱۴، ۱۵ کلنوېه عمر په شعر ويلو پيل کړی و. بيا د استادۍ درجې ته ورسېد او د ادبي مکتب خاوند شو.

د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې بېلابېل عرفاني، ديني، اخلاقي او ټولنيزو موضوعاتو ترڅنګ د دري او پښتو شاعرانو نوم او د دوی مقام ښودل شوی دی. هغه دومره شهرت او عزت پيدا کړی و، چې تر اوسه بل پښتون شاعر نه دی موندلی او خلک د بابا په نوم ورته قايل دی، د هغه شعر دومره پوخ، روان او خوږ دی، چې خلک د خپل ورزنيز په اوږدو کې د خبرو او متلونو کار ورڅخه اخلي. عبدالرحمن بابا د شعرونو لوی ديوان لري، چې څو ځله په افغانستان، پېښور او هندوستان کې چاپ شوی دی. نوموړی په ۱۱۲۸هـ.ق کال وفات شوی او د پېښور د هزارخاني په لويه هديره کې دفن دی، هر کال د پسرلي په لومړيو ورځو کې د هغه پر مزار ادبي غونډې جوړېږي او مشاعرې پرې جوړېږي. د رحمن بابا د شعر بېلګه په لاندې ډول ده:

دنيا دار که مستغني په سيم و زر دی

هنرمندو له ګنج و خپل هنـــــــر دی

هر ساعت زما د غوږو په تاوولـــــو

د رقيب لاسونه سره شي تر څنګلـــو

**عبدالقادرخان خټک:** د پښتو ژبې نومیالی او خوږ ژبې شاعر، د خوشحال خان خټک زوی په ۱۰٦۳هـ.ق کال د پېښور په اکوړه خټک کې زېږېدلی او تر ۱۱۲۵هـ.ق کال پورې يې ژوند يقيني ښکاري. د سعدي شېرازي(۵۸۱- ٦۹۱هـ.ق) مشهورو اثر (گلستان) يې پښتو ژبې ته ژباړلی او گلدسته يې نوموله دی، ددغه کتاب له سریزې څخه معلومېږي، چې ددغه کتاب ژباړه يې په نوښار کې د خپلې استوگنې پر مهال ۱۱۲۴هـ.ق کال د رجب په مياشت کې شروع او د همدغه کال د روژې په ۲۴نېټه يې پای ته رسولې ده.

عبدالقادر خان خټک د گلستان ټول څوارلس حکايتونه او اته ويشت حکمتونه نه دي ترجمه کړي او د گلستان د سریزې (ديباچه) کې يې هم لږو ډېر تصريف کړی دی. د عبدالقادر خان خټک ددغه ارزښتناکې ژباړې قلمي نسې ډېرې زياتې پيداشوي دي، چې د هغو له مخې لومړی ځل جارج راورټي په خپل اثر (گلشن روه) او بيا مير احمدشاه رضواني په (شکرستان افغاني) کې خپرې کړې دي. وروسته په ۱۹٦۱ز کال د گلدستې بشپړ متن د ډاکټر عظيم شاه خيال بخاري سريزې، تحشيې او تعليقاتو سره د پېښور پښتو اکاډمۍ چاپ او خپور کړی دی.

په ۱۳۸۳ل.ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز هم د گلدستې متن چاپ او خپور کړی دی. د عبدالقادر خان خټک د گلدستې د متن په يوه سريزه سربېره ۷بابه بېلابېل حکايتونه او ۸بابه په حکمتونو وېشل شوي دي.

اول باب په بيان د خوی خصلت د پادشاهانو

دوهم باب په بيان د خوی خصلت د درويشانو

درېيم باب په بيان د قناعت

څلورم باب په بيان د خاموشۍ

پينځم باب په بيان د عشق او ځوانۍ

شپږم باب په بيان د ضعف او پيری

اووم باب په بيان د تاثير او تربيت

اتم باب په بيان د ادابو د صحبت

د نظم او نثر ليکلي او ژباړلي آثار يې دادي:

- ✓ حديقه خټک
- ✓ گلدسته
- ✓ يوسف زليخا
- ✓ څلويښت حديثونه
- ✓ قصيده برده
- ✓ د شعرونو ديوان او...

د هغه د شعر نمونه په لاندې ډول ده:

په قیامت به وي دعـــرش تر سیوري لاندې
پادشاهان چې عادلان شي عدل کـــانـدې
نښانه د خدای د قهر بد حاکـــــــــم دی
چې هېڅ عدل انصاف نه لري ظالـــم دی

/

که پر تن د هر وېښـــته ژبې هـــزار کا
بیا دا ژبې یې هزار هزار گفــــــــتار

/

دا خبرې هم آغاز هم یې انـــــجام وي
په خبره کې خبره کا چې خـــــام وي

**حلیمه خټک:** حلیمه خټک د خوشحال خان خټک لور د ځینو ادبي څېړونکو د نظر په اساس پر ۱۰۶۵هـ.ق کال په سرای اکوړې کې زېږېدلې ده. خپلې لومړنۍ زده کړې یې له خپل کور او مشرانو وکړې بیا د تصوف او عرفان د مینې د زیاتوالي له امله یې د خپل سکني ورور عبدالقادر خټک په لاس له روحاني شخصیت (شیخ سعدي ۱۱۰۶هـ.ق مړ) سره بیعت وکړ او د هغه مریده شوه.

لومړنۍ مؤخذ چې ددې په اړه موږ ته معلومات راکوي، هغه پټه خزانه ده، چې پکې وایي حلیمه خټکه یوه عالمه او فاضله ښځه وه، مېړه یې نه دی کړی او د خپل ورور په کور تل د خدای په عبادت کې مشغوله وه، د قران کریم حافظه وه او نورو ښځو ته یې هم تدریس کړی دی. شعري دېوان یې په لاس کې نشته خو په پټه خزانه کې لیکل شوې بېلگه یې ترموږ رارسېدلې، چې ددې په اشعارو کې مجازي عشق نه و، بلکې ټول شعرونه یې د حقیقت پر لار دي، شعرونه یې خواږه، ساده او په ادبي ښېگڼو سمبال و.

د حلیمې خټکې د مړینې کال نه دی معلوم، خو د داود هوتک (۱۱۳۶هـ.ق کال مړ) د خټکو د قوم یادونه کو او وایي؛ چې پلار یې ښو ته تللی و، دا شاعره ژوندۍ وه او په خلکو کې ښه مشهوره وه.

د شعر بېلگه یې دا ده:

د آشنا په فکر خوښه هسې شان شـــــوم
نه پوهېږم چې ممتاز که نورجهان شـــوم
چې یې کړه ستا په مینه سر فـــــــراز
ثنا خوانه په څو رنگه د رحمان شــــوم

**سکندر خان خټک:** سکندر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی په ۱۰۶۸هـ.ق کال کې زېږېدلی دی او تر ۱۱۱٦هـ.ق کال یې ژوند یقیني دی، ځکه په همدې کال کې د ۲ زامنو (منګل او انور) په مړینه یې غمجن شعرونه ویلي دی. په پښتو سربېره په فارسي، عربي او نورو ژبو هم پوهېده او یو ډېر پوه او لیکوال سړی و.

آثار یې دا دي:

- ✓ د اشعارو دیوان
- ✓ د لیلي او مجنون مثنوي
- ✓ شمایلنامه
- ✓ پندنامه
- ✓ یوسف او زلیخا
- ✓ مهرو مشتري کیسه هم ده نظم کړې ده

د شعر نمونې یې په لاندې ډول دي:

چې چېرته مـــــې عزت دی　　هم هغه زما دلـــــــــــت دی
بې عزته روتـــــــی نخور　　دا مې خــوی دا مې عادت دی

/

ورکړه توره مو خــایي ده　　قدیمي لـــــــــــور دا کار
دا یو څو هنـــــــــر راوړل　　و اولاد ته د مونـــــــږ پلار

**شاه حسین هوتک:** میر حسین چې وروسته د شاه حسین هوتک په نوم مشهور شو د میرویس نیکه زوی په ۱۱۱۴هـ.ق کال د زابل په سیوري سیمه کې زېږېدلی دی، شاه حسین هوتک تر ۱۲کلنی پورې د وخت دودیز علوم لکه: منطق، فقه، تفسیر او ادبي فنونو له مشهورو عالمانو زده کړل.
۱۴ کلن و، چې پلار یې مړ او کله چې ورور یې په ۱۱۳۵هـ.ق د اصفهان په نیولو پسې ایران ته لاړ، نو شاه حسین په قندهار کې پاچاه شو. شاه حسین یو علم پاله او شاعر طبعه پاچاه و په خپل دربار کې یې هره اونی ادبي او علمي مجلس او کله مشاعره جوړېده. کاتبان یې پېښور ته ولېږل ترڅو د رحمن بابا له دیوان څخه څو نسخې رانقل کړي او کندهار ته یې راوړي. په فارسي او پښتو یې شعرونه ویلي او یو بشپړ دیوان یې درلود. له پوځي وړتیا څخه هم برخمن و. دده سلطنت په موده کې نادر شاه کندهار باندې حمله وکړه او بریالی نه شو، چې د یو نیم کال په موده کې یوه کلا فتح کړي. شاه حسین هوتک په کندهار کې تر ۱۵کلنی واکمنی وروسته د ۱۱۵۱هـ.ق کال په مازندران کې وفات شو. دشاه حسین هوتک د شعر نمونه دا ده:

بـــــــیلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم

په تیارو کې د هجران يې له تا دور کړم

**پير محمد کاکړ:** پير محمد کاکړ د پښتو ژبې نوميالی شاعر، ليکوال او عالم دی، د زېږېدنې کال يې نه دی معلوم، خو د ۱۱۲۰هـ.ق او ۱۱۳۰۰هـ.ق کلونو ترمنځ يې اټکل کېږي. د سهيلي پښتونخوا د کاکړستان د ژوب د هندو باغ د سيمې د (يعقوبي) کلي کې استوګن و.

**زده کړې:**

- په ځوانی کې يې د ديني علومو په زده کړې پسې کندهار ته لاړ، کندهار کې د هوتکيانو په دوره کې (۱۱۱۹- ۱۱۵۰ هـ.ق) زموږ د هېواد پلازمينه او علمي کلتوري مرکز و.
- په کندهار کې له نوميالیو عالمانو څخه زده کړه او د پوره نوم او شهرت خاوند شوی و، چې بېرته خپلې سيمې کاکړستان ته راستون شو.

لوی احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ پر مهال د پيرمحمدکاکړ ادبي او علمي شهرت څخه خبر شو، نو څو ځله يې کندهار ته راوبله، خو هغه ونه منه، بلاخره په هره وسيله چې و مجبور يې کړ، چې کندهار ته ورشي.

- د احمدشاه بابا په دربار کې د ديني او ادبي علومو د تدريس مسووليت وروسپارل شو. چې د احمدشاه بابا زوی (شهزاده سليمان) دده ځانګړی زده کوونکی و.
- د احمدشاه بابا د مړينې په وخت (۱۱۸٦هـ.ق کال) چې دغه مشر زوی شهزاده تېمور په هرات کې و، لومړی وزير شاه ولي خان له موقف څخه په استفادې خپل زوم، د احمدشاه بابا کشر زوی شهزاده سلېمان پاچا کړ. پيرمحمد د خپل خاص شاګرد په واکمنۍ ډېر خوشحاله شو او خپل تاليف کړی کتاب (معرفت الافغاني) چې درباريانو ته يې د پښتو ژبې د ليک او لوست لپاره ليکلی و، نومورې واکمن ته وړاندې کړ.
- د تيمورشاه په دوره کې هم پير محمد کاکړ له سلېمان سره نږدې اړيکې درلودې.
- له تېمورشاه څخه وروسته د شاه زمان او شاه محمود سدوزي په دورو کې هم د دربار په نوميالیو عالمانو کې مشهور و.
- دشاه زمان سدوزي له فرمان څخه چې پر ۱۲۱٦هـ.ق کال نشر شو معلومېږي چې پيرمحمدکاکړ هم لکه د نورو عالمانو او اديبانو له دربار څخه امتياز او مواجب تر لاسه کول.
- پيرمحمد د ادبي سبک خاوند و او په دري او پښتو ژبو تکړه شاعر و.

آثار:

- د اشعارو ديوان: يې په ۱۱۹٦هـ.ق کال بشپړ کړ. لومړی ځل په ۱۳۰۳ل.ل کال په هند او دوهم ځل په ۱۳۲۵ل.ل کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا او دې وروستيو کې په پېښور کې چاپ او خپور شوی دی.

- معرفت الافغاني: دا کتاب د درباریانو لپاره لیکلی شوی و، تر څو له دغه کتاب څخه پښتو ژبه زده کړي. چې لومړی ځل په ۱۳۴۱هـ.ق کال په لاهور کې او دوهم ځل په ۱۳۵٦هـ.ق کال په کابل کې چاپ شوی دی.
- د پښتنو تاریخ: د احمدشاه بابا په امر په پښتو ژبه لیکل شوی او ددې کتاب یوه قلمي نسخه د عبدالرحمان خان په دربار کې موجوده وه، د دربار منشي ملا محمدخان افغان نویس ته سپارل شوې وه، خو له ۱۳۰۰هـ.ق کال راوروسته ورکه ده.
- هدایت المبتدی: د اسلامي فقهي ابتدايي مسایل په کې راغلي، چې په دري نظم شوي ده.
- (قیامت نامه)(جنت نامه) هم اټکل کېږي، چې دده آثار اوسي.

دومره څرګنده ده، چې تر ۱۲۱٦هـ.ق کال پورې ژوندی و، مزار یې په کندهار کې د شاه ولي پرغاړه په لویه هدیره کې د حضرت جي صاحب زیارت ته نږدې دی او قبر یې معلوم دی. د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده:

بند پر بند دې غوځ د سترګو په خنجر کړم
بیا سـبراب دې هم په وینو د ځیګر کـرم

**کاظم خان شیدا:** د پښتو پیاوړی نازکخیاله شاعر، کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی د اشرف خان هجري لمسی او د خوشحال خان خټک کړوسی دی. د زوکړې کال یې ۱۱۳۵هـ.ق اټکل او تر ۱۱۹۴هـ.ق کال پورې یې ژوند یقیني دی. د شعرونو دیوان یې په افغانستان او پښتونخوا کې څو ځله چاپ شوی دی. شعري نمونه یې په لاندې ډول ده:

اې د کل جهان صنیعــه
اې د هر آسمان بدیعــه
ستا کرم پاکه سبحانـــه
مګس نه شړي له خوانه

**ملا لتاړ:** ملا لتاړ په هندوستان کې د پښتو دیوان لرونکی شاعر او د رحمان بابا د سبک له پیروانو څخه دی. ښایي د ملا لتاړ اصلي ځای سلمان یا شلمان وي او عمر یې په هندوستان کې تېر کړی وي، د یو شعر له مخې یې د زوکړې کال ۱۱٦۱هـ.ق اټکل کېږي او د دیارلسمې پېړۍ تر لومړیو پورې ژوندی و. په ۱۱۰۹هـ.ق کال یې دیوان بشپړ کړی او په ۱۳٦۷هـ.ق کال په کابل کې چاپ شوی. د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده:

کل ثنا ده خدایه ستـــــا
چې ته رب یې د هر چا

**شمس الدين کاکړ:** د شمس الدين کاکړ د زوکړې کال په سمه توګه معلوم نه دی، خو يو شمېر څېړونکي يې تر ۱۱۸۰هـ.ق وروسته ګڼي. شمس الدين کاکړ يو ښه عالم او اديب و. په ځوانۍ کې هند ته تللی و او د خپل عمر ډېره برخه يې په هند کې تېره کړې، خو په آخر کې کندهار ته راستون شوی او هلته د هغه دېوان چاپ شوی دی.

**سراج الموتي:** دهغه بل اثر دی، په ادبي فنونو، فقه او احاديثو کې يې هم لوړ مقام درلود. په شعرونو کې يې تصوفی، اخلاقي، فلسفي او تربيوي افکار پراته دي. د شعر نمونه يې په لاندې ډول ده:

که مطلب دي دی وصال د محمد

تل په زړه کې لره خيال د محمد

**يونس خيبری:** يونس خيبري د رحمن بابا د ادبي مکتب پيرو و، په ۱۲هجري پېړۍ کې يې ژوند کاوه او د پښتو ژبې يو پياوړی او خوږ ژبی شاعر و. د شعرونو دېوان يې پاتې دی او په ۱۳۵۵ل.ل کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د څېړندوی عبدالله بختاني په سريزه چاپ او نشر شوی دی.

د شعر بېلګه يې دا ده:

هر چې سرفراز وي په اسلام د محـــــمد

ورد به يې ثنا وي صبح و شام د محمد

**ګل پاچا الفت:**

ګل پاچا الفت د سيد پاچاه زوی، په ۱۲۸۷ل.ل کال د لغمان د عزيز خان کڅ به سيمه کې زېږېدلی دی.

- ✓ د پښتو ژبې پياوړی ليکوال، شاعر، علمي او فرهنګي شخصيت و، چې د هېواد په علمي او فرهنګي ادارو کې علمي غړی، ليکوال، مدير، لوی رييس هم تير شوی دی.
- ✓ د کابل پوهنتون د ادبياتو، حقوقو او سياسي علومو د پوهنځيو د استاد په توګه يې هم دنده تر سره کړې ده.
- ✓ څو دورې په ملي شورا کې د ننګرهار او لغمان د خلکو استازی هم و.

**نکته:** په ۱۳۵۶ل.ل کال د لبندۍ په مياشت کې په کابل کې مړ او د عزيز خان کڅ په هديره کې دفن شو.

آثار يې دادي:

- ✓ غوره نثرونه
- ✓ غوره شعرونه
- ✓ ليکوالي
- ✓ پښتو سندرې
- ✓ لوړ خيالونه
- ✓ ژور فکرونه
- ✓ ادبي بحثونه

### عبدالحی حبيبي:

عبدالحی حبيبي د ملاعبدالحق زوی د پښتو معاصرې دورې کې ډېر مشهور شاعر، ليکوال، اديب او تاريخ ليکونکی و. په ۱۲۸۹ل.ل کال د کندهار د باميزايي په سيمه کې په يوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زېږېدلی و.

### زده کړې:

- ✓ په ۱۲۹۹ل.ل کال کې د کندهار په شالمار ښوونځي کې شامل او دوديز علوم يې د خپلې سيمې له عالمانو څخه زده کړل.
- ✓ په ۱۳۰۴ل.ل کالې له مکتب څخه فارغ او په همدغه ښوونځي کې استاد مقرر شو. استاد دلته د تدريس تر څنګ د ديني او عصري علومو خصوصي زده کړې او مطالعې ته دوام ورکړ.

### دندې:

- ✓ دوه کاله د ښوونځي استاد و.
- ✓ په کندهار کې د خپرېدونکي اخبار (طلوع افغان) مرستيال (۴کاله يې په دې برخه کې کار وکړ).
- ✓ په ۱۳۱۰-ل.ل کال د طلوع افغان اوونيزې مسؤول مدير شو.
- ✓ په ۱۳۱۹ل.ل کال کابل ته را وغوښتل شو او د پښتو ټولنې لوی مدير شو او ددې تر څنګ د مطبوعاتو د مستقل رياست د مرستيال چارې هم ور وسپارل شوې.
- ✓ د پوهنې وزارت مشاورت کې يې هم درې کاله دنده تر سره کړې ده.
- ✓ کله چې په ۱۳۲۳ل.ل کال په کابل پوهنتون کې د ادبياتو پوهنځي تاسيس شو نو ده ددغې پوهنځي رياست او د ادبياتو د تاريخ د تدريس چارې پر غاړه واخيستې او مسؤول يې شو.
- ✓ په ۱۳۲۷ل.ل کال په ملي شورا کې د کندهار د خلکو وکيل شو او درې کاله يې دغه دنده تر سره کړه.

په ۱۳۳۰ل.ل کال د هېواد او ټولنيزې ازادۍ غوښتنې د سياسي مبارزې په سبب د حکومت له خوا له وطن جبراً تبعيد شو. لومړی پښتونخوا ته لاړ او په پېښور کې د (آزاد افغان) په نوم يې يوه جريده خبره کړه. بيا د ځينې سياسي ملحوظاتو له امله له پېښور کراچۍ ته لاړ او لږ و ډېر ۱۰ کاله هلته په خپل علمي او ادبي فعاليتونو بوخت وو.

په ۱۳۴۰ل.ل کال لارې چارې برابرې شوې، چې خپل هېواد ته راشي، هېواد ته له راستنېدو يو کال وروسته د کابل په پوهنتون کې د ادبياتو استاد شو او په ۱۳۴۴ل.ل کال کې د خپلو زيات شمېر علمي، ادبي او تاريخي آثارو په ليکلو د (پوهاندی) علمي رتبې ته ورسېد او تر لاسه يې کړه.

وروسته بيا په ۱۳۴۵ل.ل کال د تاريخ ټولنې د رياست چارې وروسپارل شوې او بيا په ۱۳۵۱ل.ل کال د صدراعظم فرهنګي مشاور شو.

له تقاعد وروسته يې لاندې دندې ترسره کړې دي:

- ✓ د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد
- ✓ د افغانستان د علومو اکاډمی غړی
- ✓ د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشاور

بلاخره دغه ستره هستي د ۱۳۶۳ل.ل کال د ثور د میاشتي په ۲۰نېټه مړ او د کابل په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو.

- ✓ استاد حبیبي نږدې شپږ لسیزې د هېواد په علمي او فرهنگي برخو کې خدمتونه کړي دي.
- ✓ استاد په خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره دري، اردو،انگلیسي او عربي هم ښې زده کړې وې.
- ✓ په ډېرو ملي او نړیوالو علمي، ادبي او تاریخي غونډو او سمینارو کې یې گډون کړی وو.
- ✓ استاد حبیبي شاعر هم و، په دري او پښتو د شعرونو چاپ شوې ټولگې لري. او د ټولو چاپ شو کتابونو شمېر یې ۱۲۰ته رسېږي.

## د استاد حبیبي اثار:

- ✓ د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوه ټوکه).
- ✓ تاریخ افغانستان بعد از اسلام.لومړی ټوک
- ✓ پښتانه شعرا(لومړی ټوک)
- ✓ تاریخ مختصر افغانستان
- ✓ تاریخ افغانستان در عصر تیموریان
- ✓ نوموړکي مؤرخین
- ✓ پښتو نثر ته کره کتنه
- ✓ د پښتو د نوي ادب لاري
- ✓ د افغانستان پېښلیک(لومړی ټوک)
- ✓ تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان
- ✓ د پښتو ادبیاتو لنډ تاریخ
- ✓ نسب و زادگاه سید جمالدین افغان
- ✓ د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده
- ✓ روابط ادبي سند با افغانستان
- ✓ رهنمایي تاریخ افغانستان

**ملنگ جان:** د عبدالشکور زوی په ۱۲۹۳ل.ل کال د ننگرهار ولایت په بهسودو کې زېږېدلی او په ۳کلنۍ کې له خپل پلار څخه یتیم پاتې شوی دی. د هغه لومړی نوم محمد امین وروسته امین جان او بلاخره ملنگ جان شو.

په ۱۵کلنۍ کې یې په شعر ویلو پیل کړی. او په ۱۳۳۶ل.ل کال د عقرب په ۱۰ نېټه د کابل ننگرهار په لاره له خپل ۳کلن زوی سره د موټر اوښتلو له امله مړ شو. د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده:

ځواني ښځې ته چې ونه وایې تـــــرور
هغه دم به دې برباد کړي پلار او مـــــور
بې ګناه وهل به خوري ازار به يې ستا وي
که دې ورکړه په بدل کې لور او خــــــور
دا زموږ زيبا وطن
دا زموږ ليلا وطـن

## عبدالرحمن پژواک:

عبدالرحمن پژواک د قاضي عبدالله زوی، د ننګرهار د سره رود ولسوالۍ اوسېدونکی و. کله چې پلار يې په غزني ولايت کې د قضا دنده درلوده، په ۱۲۹۷ل.ل کال په دغه ولايت کې زېږېدلی و. په ۱۳۷۰ل.ل کال د زړښت او ناروغۍ په حالت کې پېښور ته ولاړ او په ۱۳۷۴ل.ل کال د جوزا په ۱۸ نېټه هلته مړ شو. جنازه يې هېواد ته راوړل شوه او پخپل ټاټوبي د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې خاورو ته وسپارل شو.

### زده کړې:

- ✓ لومړنۍ مروجې زده کړې يې په خپل علم پاله کورنۍ کې زده کړې دي.
- ✓ په ننګرهار کې يې د سره رود په ښوونځي بيا يې د خوږيانو او وروسته يې د کابل ښار د اندرابيو په ښوونځي کې زده کړې کړې دي.
- ✓ ثانوي زده کړې يې به ۱۳۱۴ل.ل کال د کابل په حبيبيې لېسه کې پای ته ورسولې.
- ✓ د لوړو زده کړو لپاره د کابل طبي پوهنتون ته کامياب شو دوې کاله يې روغتيايي علوم ولوستل.
- ✓ کله چې پلار يې مړ شو، د تحصيلات نيمګړي پاتې شو او مجبور شو چې ماموريتونو ته مخه کړي.

### ماموريتونه:

- ✓ لومړی ماموريت يې په ۱۳۱٦ل.ل کال د کابل ادبي انجمن کې د تاريخ په څانګه کې د انګليسي ژبې د ژباړونکي په حيث پيل کړ.
- ✓ په ۱۳۲۰ ل.ل کال د پښتو ټولنې لوی مشر شو.
- ✓ د مطبوعاتو رياست د خپرونو د دويمې څانګې مدير، د باختر آژانس او مطبوعاتو لوی مدير شو.
- ✓ په ۱۳۲۵ل.ل کال د بهرنيو چارو په وزارت کې د اطلاعاتو لوی مدير شو.
- ✓ په لندن کې د افغانستان د سفارت دوهم سکرتر او مطبوعاتي اتاشه شو.
- ✓ په واشنګټن کې د افغانستان د لوی سفارت مطبوعاتي استازی او سفير شو.
- ✓ ۲لسيزې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازی او بيا څه وخت دهغه عمومي غونډې مشر په توګه هم دنده ترسره کړې ده.
- ✓ په هندوستان کې يې د افغانستان د لوی سفارت دنده هم ترسره کړې ده.

- کلونه کلونه یې په خپل هېواد کې سیاسي، فرهنګي، ادبي خدمتونه کړي او په ۱۳۵۷ لمریز کال له پېښور وروسته رسمي دولتي دنده پرېښوده او له هېواد څخه بهر شو.

**آثاريې:**

عبدالرحمن پژواک سربېره په سیاسي شخصیت، د پښتو او دري ژبو پیاوړی شاعر او لیکوال هم و. له ۲۰ څخه ډېر منظوم او منثور اثار یې په پښتو او دري ژبو چاپ کړي، چې ځینې یې ناچاپ پاتې دي. هغه آثار یې چې چاپ شوي په لاندې ډول دي:

- کلمه داره روپی(پښتو منظومه ډرامه ده، چې په ۱۳۳۷ ل.ل پښتو ټولنې چاپ کړې ده).
- افسانه هاي مردم کابل(لنډې کیسې).
- افغانستان کهن
- عروج بارکزیها
- پېشوا
- باغبان(دټاګور د اثر ژباړه)
- زن از نگاه محمد(ص)
- میهن من
- حدیث خون
- بانوی بلخ

د شعر بیلګه یې په لاندې ډول ده:

هم هغسې په خندا کې هنر نشته
په ژړا کې هم له سره اثر نشتـــــه

**مېرمن حمیده:** د ارواښاد حضرت شاه، چې د تېرګړیو پادشاه په نوم مشهور و، ادیبه او عالمه لور وه. په ۱۲۹۷ ل.ل کال د کونړ ولایت د شینکوړک سیمې په یوه عالمه کورنۍ کې زېږېدلې وه. په ځوانۍ کې یې د خپل ماما له زوی، عبدالغفار خان سره چې یو نظامي منصبدار و، واده کړی و. دغې نومیالۍ مېرمنې سره له دې، چې په ځوانۍ کې د زړه په ناروغۍ مبتلا وه، خو بیا هم د علم او ادب سره مینې ته لېواله وه. د ورپېښې ناروغۍ له امله په ۱۳۳۹ ل.ل کال د ورې د میاشتې په (۱۵نېټه) مړه او د کونړ په شینکوړک کلي کې خاورو ته وسپارل شوه.

**زده کړې او ادبي فعالیتونه یې:**

- دودیز او مروج علوم یې په خپله کورنۍ کې لوستي و.
- له علم او ادب سره د زیاتې مینې له امله د ادبي او دیني علومو مطالعې او لوړو پوړیو ته ورسوله.
- له کوچنیوالي یې په شعر ویلو پیل کړی او د خپل علمي او فرهنګي ورور (سیدشمس الدین مجروح) په تشویقاتو او روزنې سره یې شعرونه خپاره شول.

- د هغه وخت د مشهورو پښتنو شاعرانو او ليکوالو لکه: ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم، پوهاند رښتين او نورو ادبي آثار مطالعه کول او خپل منظومو او منثورو ليکنو ته به يې دوام وکاوه.
- د ميرمن حميدې نظم و نثر کوم مشخص اثر نه دی چاپ شوی، خو ډېر شعرونه يې دننګرهار او کابل ورځپاڼو کې خوندي دي. د شعر نمونه يې په لاندې ډول ده:

ما ويل زړه به مې خالي شي لـړ له غمه
دواړه سترګې به مې وچې شــــي له نمه
په نسيم د اوسيلو به دې راويـــــښ کړم
اې زما په خوب بېده نصـــــــــيبه کمه

**پوهاند صديق الله رښتين:** د پښتو ژبې پياوړی شاعر، ليکوال او ادبپوه صديق الله رښتين په ۱۲۹۸ ل.ل کال زېږېدلی او وروسته له خپل روزنيزو او علمي خدمتونو په ۱۳۷۷ل.ل کال مړ شوی دی او تر (۷۰) زيات علمي، ادبي او معلوماتي کتابونه يې چاپ شوي دي.

**دندې يې:**

- د پښتو ټولنې مشر او رييس
- د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد

**آثار يې:**

- د پښتو ادب تاريخ
- پښتو ګرامر
- ژبدود
- د ژوند پلوشې
- د ښکلا پلوشې
- پشتو نثر هنداره
- پښتنې لارښود

**علامه پوهاند عبدالشکور رشاد:**

پوهاند عبدالشکور رشاد د عبدالغفور خان زوی د پښتو نومیالی ليکوال په۱۳۰۰ل.ل کال په کندهار کې زېږېدلی او د ۷۰ کلنو علمي او څېړنيزو خدمتونو له ترسره کولو وروسته په ۱۳۸۳ل.ل کال د لېندۍ د مياشتې په يولسمه نېټه د (۸۳) کالوپه عمر ومړ.

### زده کړې او دندې يې:

- ✓ ډېر وړوکی و چې قرآن او د وخت دوديز علوم يې لوستي و، رسمي زده کړې يې په ۱۳۰۶ل.ل کال د ګنج په نامه د کندهار په يوه مکتب کې پيل کړې وې.
- ✓ له فراغت وروسته په ۱۳۱۲ل.ل کال د کندهار په مطبعه کې د پښتو مجلې د مصحح په توګه وټاکل شو، چې دا يې لومړنۍ رسمي دنده وه.
- ✓ په ۱۳۱۴ل.ل کال په کندهار کې د دوهم نمبر ښوونځي کې ښوونکی شو او د (کوچني معلم) په نوم مشهور شو.
- ✓ تر ۱۳۲۱ل.ل کال د احمدشاهي په ښوونځي او د احمدشاه په ليسه کې معلم او کله سرمعلم هم و.
- ✓ په ۱۳۲۷ل.ل کال د پوهې او لوړو زده کړو لپاره په خپل شخصي لګښت هند ته لاړ او تر ۱۳۳۴ل.ل کال هلته ژبو، ادبي فنون، تاريخي مسايل، او د افغاني واکمنو په باب ۷ کاله مطالعه وکړه. (لودي پښتانه او سوري پښتانه) تاريخي کتابونه يې ددې سفر پايله ده.
- ✓ کله چې بېرته کابل ته راستون شو، د (پښتو ټولنې) مرستيال او وروسته د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي کې استاد شو.
- ✓ په ۱۳۴۳ل.ل کال د تلې په مياشت کې د کابل په پوهنتون کې د ادبياتو او بشري علومو د استاد په توګه ومنل شو.
- ✓ په ۱۳۴۱ل.ل کال د (لېننګراد) په پوهنتون کې د پښتو څوکۍ د استاد په توګه ګمارل شوی دی.
- ✓ په پښتو سربېره په دري، اردو، عربي، انګلسي، روسي او جاپاني ( ۷ ) ژبو باندې هم پوهېده او په بېلابېلو موضوعاتو يې مقالې او کتابونه ليکلي دي.

### آثاريې:

لودي پښتانه، سوري پښتانه، د څمکنو ميا عمر، د پاني پت قهرمان، د خيرالبيان لغتونه، د پټې خزانې فرهنګ، د احمد شاه بابا ديوان، غوره چاپ...

### ناچاپ آثار يې:

لودي پښتانه دوهم ټوک، سوري پښتانه دوهم ټوک، ملي قهرمان، غازي اکبرخان، سردار محمد داود خان، اعلی حضرت امان الله خان، د کانامو ميرمني.

د شعر بېلګه يې په لاندې ډول ده:

د مجنون ژوندون به څه وي چې ليلا مـري
څه په کار دی تش کالبد چې زړه د چا مري
(حريت) د هر ملت د بـــــــدن زړه دی
که دا نه وي، هم ملت مري هم بـــقا مري

### مولوي صالح محمد هوتک:

صالح محمد هوتک د محمد اکبرهوتک زوی په ۱۳۰۷ل.س کال په کندهار کې زېږېدلی. نوموړی پیاوړی ښوونکی، لیکوال، شاعر او ژونالیست و.

### دندې يې:

- ✓ د حبيبيې ښوونځي د پښتو مضمون لومړنی ښوونکی
- ✓ د کندهار د پوهنې مدير
- ✓ د کندهار ادبي انجمن غړی
- ✓ د پښتو ټولنې غړی

زيات شمېر درسي، علمي او ادبي ليکلي او ژباړلي چاپ شوي آثار لري لکه:

- ✓ د پشتو ژبې مضمون کتاب د ښوونځيو د لومړي، دوهم او درېيمو ټولګيو لپاره.
- ✓ پښتو صرف او نحوه
- ✓ پشتو ژبه لومړی او دوهم ټوک
- ✓ پشتو مثنوي
- ✓ تذکرة الشعراء
- ✓ د شعرونو ټولګه(پاشلي وينا)

په ۱۳۳۹ل.ل کال مړ او د کندهار په حضرت جي هديره کې ښخ دی.

**سيدشمس الدين مجروح:** سيد شمس الدين مجروح د سيد حضرت شاه (د تيرو ګړو په پاچا صاحب مشهور و) زوی په ۱۳۲۳ل.س کال د کونړ د شينکوړک په کلي کې زېږېدلی دی. درې کلن يا درې نيم کلن و، چې پلار يې مړ شو، خو د خپلې هوښيارې مور سره لوی شو. په کور کې له خپل مور او نورو غړو استادانو او پوهانو څخه مروج علوم، نظم او نثر ولوستل او بيا د ژورې مطالعې له امله په يو خوږ ژبی شاعر، سياست پوه، حقوق پوه او د لوړو ټولنيزو او فلسفي افکارو خاوند شو.

### دندې يې:

- ✓ رسمي او دولتي ماموريتونه يې په ۱۳۱۳ل.ل کال په کابل کې د اعيانو د عالي مجلس په غړيتوب سره پيل کړل.
- ✓ په ۱۳۱۷ل.ل کال د افغان ملي بانک د تفتيش عمومي رييس شو او د همدغه کال په پای کې د قند جوړولو د فابريکې او د پټرولو د شرکت رييس شو.
- ✓ په ۱۳۴۲ل.ل کال د دولت په کابينه کې د عدلي چارو وزير شو.
- ✓ په ۱۳۴۳ ل.ل کال د هېواد د اساسي قانون د تدوين د کمېټې مشر وټاکل شو.

- ✓ په ۱۳۴۴ل.ل کال د صدارت مرستیال او بیا په متحده عربي جمهوریت کې د افغانستان سفیر شو، چې دا د هغه روستۍ دنده وه او بیا تقاعد شو.
- ✓ په ۱۳۵۷ل.ل کال په هېواد کې د ثور له پېښو وروسته اول پېښور او بیا امریکا متحده ایالتونو ته لاړ. هلته د ۱۳۸۱ل.ل کال د غبرګولي د میاشتې په آخره اوونۍ کې د ۱۰۰ کلنو په عمر وفات شو. جنازه یې هېواد ته راوړل شوه او د کونړ ولایت په شینکوړک هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

**آثار یې:**

- ✓ **د شعرونو دوه ټولګې:** یوه (منتخب شعرونه) چې په ۱۳۳۷ل.ل کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا او دوهم یې د پښتو او دري شعرونو غورچاڼ د (یاد فریاد) په نوم په ۱۳۶۳ل.ل کال په پېښور کې چاپ شوي دي.
- ✓ اوسنې لیکوال د دوه ناچاپ آثارو یادونه هم کوي: (پرېشانه خوب) او (د خیام رباعیات پښتو ژباړه). د ښاغلي قیام شمس د شعر نمونه په لاندې ډول ده:

په مذهب نه د بلبل نه د پتنګ یـــــم
نه غوټۍ غوندې د زړه په وینو رنګ یم
نه مې روح د شرقیت دومره ژونـدی دی
نه خبر له مادیت لکه فرنګ یــــــــم

**قیام الدین خادم:** قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی په ۱۳۲۵ل.س کال (۱۹۰۷ز) د ننګرهار ولایت په کامه کې زېږېدلی دی. پیاوړی شاعر، مؤرخ، کره کتونکی او لیکوال و،چې په اردو او عربي ژبو هم بلد و او تر ۵۰ ډېر چاپ او ناچاپ آثار لري. د ۱۳۸۵ل.ل کال د سنبلې په ( شپږمه/ پنځومه) نېټه د ۷۴ کلونو په عمر، په کابل کې مړ او د کامې په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

**منظوم آثار یې:**

- ✓ د مرغلرو امېل
- ✓ خاروان
- ✓ نصوص الحکم
- ✓ روهي ګلونه

**منثور آثار یې:**

- ✓ خیالي دنیا
- ✓ د کوچنیانو اخلاقي پالنه
- ✓ مکارم اخلاق
- ✓ پښتونولي
- ✓ بایزید روښان
- ✓ د شریف سرګذشت

- ✓ نبوغ او عبقريت ( فلسفي اثر)
- ✓ په تذكرت الاوليا تبصره
- ✓ د پښتو نثر
- ✓ تاريخي تصورات
- ✓ نشنليزم او انټر نشنليزم
- ✓ معياري پښتو
- ✓ د مور مينه
- ✓ لرغوني پښتانه قومونه
- ✓ نوې رڼا
- ✓ نوی ژوندون
- ✓ معلم پښتو
- ✓ پښتانه شعرا

**د شعر بېلگه يې په لاندې ډول ده:**

ډک له ارمانـــو نو دی نه پوهېږم څه غـــواړي؟!
راز د آسمانـــو نو دی نه پوهېږم څه غـــواړي
دا جهان خو نه غواړي بل له دې نه ښه غواړي
زړه دی د شاعر دغـــه وگورئ چې څه غـــواړي ( دويمه ژبه)

/

صحيح لاره به ښايم که وم وم که نه وم نـــه وم ربتيا ربتيا به وايم که وم وم که نه وم نه وم
د ناز په خوب ويدي غونچې به ورو ورو ويښومه خادم باد سبا يم که وم وم کـــه نه وم نه وم
( لومړۍ ژبه)

**سيدوني گابرېل کوليت:** سيدوني گابرېل کوليت نوميالی فرانسوی داستان ليکونکی په ۱۸۷۳ز کال د فرانسې په ختيځ کې د (سن سور آن پوازي) په سيمه کې زېږېدلی ده. پلار يې له هغو سردارانو څخه و، چې ناپليون له دندې څخه گوښه کړی او په بزگرۍ (دهقانۍ)کې بوخت و. او همدا لامل و، چې کوليت له هر څه ډېر له طبيعت سره آشنا وه.

نوموړې خپله لومړنۍ زده کړې د خپلې سيمې په ښوونځيو کې ترسره کړې او بيا د کار موندلو لپاره پاريس ته لاړ. هلته د (کوبټه ويلار) په نامه له يو ژورناليست سره، چې په ورځپاڼه ليکنه کې په (ويلی) مشهور وه، واده وکړ او دهغه په زيات تاکيد يې د (کلودين) تر سرليک لاندې د يو لړ کيسو به ليکلو پيل وکړ. بيا په ۱۹۰۰ز او ۱۹۰۳ز په څلورو ټوکونو کې د (ويلي) په نوم خپاره شو.

(کلودین په ښوونځي کې)،(کلودین په پاریس کې)،(کلودین په کورکې)، (کلودین ځي) دده ځینې لیکلې کیسې دي.

ګابریل په ۱۹۰٦ز کال د ویلي د خیانتونو له امله له هغې څخه جدا شو او په دې ترتیب یې هنري کارونه پیل کړل.

د (لوماتن) ورځپاڼې له مدیرې سره یې واده وکړ او د ورځپاڼې کلیشې یې لیکلې او ترتیبولې.

په ۱۹۱۰ز کال یې د (ګرځندویه ښځې) په نوم یو اثر خپور کړ.

په ۱۹۱۳ز کال یې د (نندارتون د صحنې ترشا) ناول خپور کړ.

په ۱۹۲۰ز کال یې خپل ډېر ارزښتناک اثر (عزیز) خپور کړ او بیا یې به ۱۹۲٦ز کال د هغې پاتې برخ د (دعزیز دکار پای) په نامه خپرې کړې.

په ۱۹۳۳ز کال یې د (سیدو) اثر خپور کړ، چې په دغه روماني اثر کې یې له خپلې مور سره د ډېرې مینې ځرګندونه کړې ده.

د (ژی ژی) ناول یې په ۱۹۴۴ز کال خپور کړ، چې په دې سره د کنګور د اکاډمۍ غړی شو او بیا یې رییس هم شو.

په ۱۹۳٦ز کال یې د بیلژیک د سلطنتي اکادمۍ غړیتوب تر لاسه کړ.

په ۱۹۴۴ز کال یې د خپلو لیکلو آثارو بشپړه ټولګه چاپ او خپره کړه. د فلج په ناروغۍ اخته او له ادبي فعالیتونو څخه پاتې شو.

په ۱۹۵۳ز کال یې د (لېژیو دو نور) نښان تر لاسه کړ او په ۱۹۵۴ز کال په پاریس کې مړه شوه.

نور آثار یې:

- ✓ د حیواناتو خبرې اترې، ۱۹۰۴ز
- ✓ د تاک څنې ۱۹۰۸ز
- ✓ نارسېدلې غنم ۱۹۲۳ز
- ✓ د ورځې را دبره کېدل ۱۹۲۸ز
- ✓ پیشو ۱۹۲۳ز
- ✓ ژولې دو کارنیلان ۱۹۴۱ز
- ✓ دمیرابو خوانې ۱۹۴۱ز
- ✓ مابنامنی ستورې ۱۹۴۷ز
- ✓ یو وابنه پلورونکی ۱۹۴۹ز
- ✓ آبې فانوس ۱۹۴۹
- ✓ د ښځو زړه ۱۹۵۲ز
- ✓ دمیرمنې لپاره شعر ۱۹۵۳ز

### امیر حمزه شینواری:

امیر حمزه شینواري د ملک باز خان زوی، په(۱۹۰۷ز) کال د پښتونخوا د خيبر په لواړګي سیمه کې سترګې نړۍ ته غړولي دي.

### زده کړې یې:

- ✓ د ۵ کلونو په عمر یې د لواړګي په مدرسه کې دوديز علوم پیل کړل او بیا وروسته په پېښور کې د اسلامیه کالج کې یې د عصري او دیني علومو زده کړه تر لسم ټولګي پورې ترسره کړه.
- ✓ په لسم ټولګې کې یې خپل درسونه نیمګړي پرېښودل او رسمي ماموريتونه يې پیل کړل.
- ✓ څه مود د پېښور د پاسپورټ په دفتر کې یې دنده ترسره کوله او بیا له دې ځایه دري لویو ادارو ته لاړ او څو کاله هلته و.
- ✓ د ماموريت په ټوله موده کې يې خپل ادبي او علمي مطالعات کول، چې له همدې امله په یو علمي او فرهنګي شخصیت واوښت.
- ✓ له کوچنیوالي يې له شعر او شاعرۍ سره ډېره مینه لرله، له پنځم ټولګی څخه يې په شعرویلو پیل کړل او لومړی اردو او پښتو شعرونه يې وویل.
- ✓ کله چې په ( ۱۹۳۰ز) کال یې پلار مړ شو د لواړګي له سیمې څخه پېښور ته لاړ، په همدغه وخت کې يې د تصوف او عرفان سره ډېره مینه پیدا شوه او د پېښور نومیالي روحاني سید ستار شاه پاچا سره ارادتمند شو. د خپل پیر په سپارښتنه يې په پښتو ژبه شاعري پیل کړه، چې له دې مخکې یې په اردو ژبه شاعري کوله او خپل ټول اردو شعرونه يې په اور وسوځول.
- ✓ خپل فرهنګي خدمتونه یې د پښتونخوا د نوښار د پښتو ادبي ټولنې له جرګې څخه پیل کړل.
- ✓ کله چې په پېښور (پښتو بزم ادب) ادبي ټولنه جوړه شوه، حمزه شینواری یې مرستیال او بیا د همدې ټولنې مشر شو.
- ✓ د (رڼا) په نامه يې یوه ادبي مجله خپروله او د رحمان بابا ادبي جرګې غړیتوب يې هم درلود.
- ✓ کله چې په ۱۹۵۰ ز کال په پېښور کې (اولسي ادبي جرګه) جوړه او (بزم ادب) ورسره یو ځای شوه، حمزه د ددې ادبي جرګې مشر شو.
- ✓ حمزه شینواری په شعر کې د لوړ استعداد او وړتیا له مخې په ادبي ټولنو کې د (پښتو غزل دبابا) په لقب وياړل شوی دی.
- ✓ دپښتو لومړنی فلم دده د ليکلې کيسې (ليلى او مجنون) له مخې په ۱۹۴۱ز کال د هندوستان په بمبيي کې جوړ او ننداري ته وړاندې شو.
- ✓ دغه پیاوړی شاعر د ۱۳۷۲ل.ل کال د سلواغې د میاشتې په ۲۹ د ( ۸۷) کالو په عمر وفات او د پښتونخوا د لواړګي په سيمه کې خاورته سپارل شوی دی.

**منظوم آثار یې:**

- غزونې، یون، پریونې، پسرلی په آیینه کې، بهیر، ژوند او یون، د خیبر وږمې.

دا ټول اوس په کابل کې د ملي آرشیف د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په درېو ټوکو کې د(امیر حمزه شینواري کلیات) په نوم چاپ او خپاره شوي دي.

**نثري آثار یې:**

- تجلیات محمدیه، انساني انا او پوهه، نوې چپې(ناول)، دخوشحال خان خټک یو شعر، ژور فکرونه(تکلونه).

شینواري د خپلو سفرونو په لړ کې درې (۳) سفرنامې لیکلې:

1. **د کابل منظومه سفرنامه:** شعري بڼه یې ترکیب بند دی او په (۱۹۴۸ز) چاپ شوی دی.
2. **نوې پښتون:** په دغه اثر کې د کابل لیکوالان یادونه او د افغانستان په بدلون او پرمختګ بحثونه لري.
3. **د حجاز په لور:** حمزه په (۱۹٦۹ز) حج ته لاړ او د حج د سفر حالات پکې راغلي دي.

د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده:

یاره چې اسمان ته دې بانه ګـــوري
سترګې دې زما په مخ کې څه ګوري

**پاچا خان(عبدالغفارخان فخري افغان):**

عبدالغفار خان (پاچا خان) د پښتونخوا د پېښور د هشنغر د اتمانزو د سیمې د بهرام خان په کور کې په(۱۸۹۰ز) کال هغه مهال وزېږېد، چې هند او پښتونخوا د انګرېزي ښکېلاک تر چتر لاندې و. عبدالغفار د زور زیاتي او د ولس ځېلی حالت په سترګو لیده او پرې پوهېده چې خلک بېسواده دي او له خپلو حقوقو څخه بې برخې دي، تر څو چې دوی باسواده نه شي؛ نه شي کولای له دغه ظلم څخه ځانونه خلاص کړي، نو هغه د همدې لپاره د ښوونځیو جوړول پیل کړل.

- لومړی مدرسه یې په ( ۱۹۱۰ز )کال د مولوي عبدالعزیز په مرسته جوړه کړه.
- د خپلو هم فکرو په مولدلو کې په ۱۹۲۱ز کال یې د (انجمن اصلاح الافاغنه) په نوم یو ټولنیز سیاسي او اصلاحي غورځنګ رامنځ ته کړ.
- وروسته یې په اتمانزو کې د (آزاد سکول) په نامه یو ښوونځي جوړ کړ، چې په دې مکتب کې دیني او عصري علوم دواړه تدریس کېدل.
- د انګرېزانو د تبلیغاتو له امله په دغه مهال کې د زده کوونکو موندل ډېر سخت کارو. نو له همدې امله یې د (انجمن اصلاح الافاغنه) مشرانو خپل زامن پکې شامل کړل. عبدالغني خان او ولي خان د عبدالغفار خان زامن د دغه ښوونځي(مکتب) شاګردان وو.

- ✓ عبدالغفار خان په خپلو خاطراتو (زما ژوند او مبارزه) کې لیکلي، چې انګرېزانو زموږ له مکتب څخه ډېره کرکه لرل اوتل یې زموږ ښوونکي تهدیده ول. انګرېزانو د پښتنو دغه علمي اوتعلیمي حرکت ډېر خطرناک باله، نو ځکه یې لومړی پاچاه خان او بیا ددغه مکتب ځینې ښوونکي بندیان کړل.
- ✓ د ښوونیزو روزنیزو چارو په لړ کې د (پښتون) په نامه یوه مجله هم خپربده، چې تر اوسه خپرېږي او د خلکو په پوهاوي او بیدارۍ کې ستره ونډه لري.د غفار خان په تعلمي کارونو سربېره یې خلک د کار او کسب زده کړې ته هم هڅولي دي.
- ✓ خلکو ته یې له ناورو دودنو د ځان ساتني سپارښتنه کوله او سمه لار یې ورته ښودله.
- ✓ عبدالغفار خان په خپلو خاطراتو کې لیکلي، چې مخکې د نجونو زده کړه لویه ستونزه وه، خو ما خپله لور په ښوونځي کې شامله کړه، چې زما خپلوان او خسرګنۍ له ما څخه پرې خفه شول.
- ✓ کله چې په ۱۹۲۹ ز کال د انجمن الافاغنه نوم په (خدایي خدمتګار تحریک) واوښت بیا هم عبدالغفار خان ددغې ټولنې مشرۍ ته دوام ورکړ.

## ځینې ترلې موضوعګانې:

- ✓ زموږ په هېواد کې لومړی رسمي مکتب د امیر شیرعلي خان د دوهمې دورې په پادشاهي کې جوړ شو(۱۸٦۸-۱۸۷۹ ز). لکه: حربي ښوونځی په شېرپور او د ملکي ښوونځي په بالاحصار کې.
- ✓ د حبیب الله خان د واکمنۍ په دوهم کال کې (۱۹۰۳ز) په کابل کې یو عصري ښوونځي د (حبیبیې) په نوم جوړ شو، چې ډېر ژر ددغه ښوونځي د زده کوونکو شمېر ۴۰۰تنه زده کوونکو ته ورسېد، چې په داخلي ښوونکو سربېره هندي او ترکي مسلمانو ښوونکو هم تدریس کاوه.

په حبیبیې ښوونځۍ کې زده کړې په درې دورو کې ترسره کېدې:

1. ابتداییه دوره ۴ کاله
2. رشدیه دوره ۳ کاله.
3. اعدادیه دوره ۳ کاله.

- ✓ دارالمعلمین هم د حبیب الله خان په دوره کې جوړ شو.
- ✓ په کابل کې استقلال، غازي او اماني ښوونځي د امان الله خان په دوره کې جوړ شول. سربېره په دې په کابل کې ۲۲ښوونځي پرانیستل شو او په ټول هېواد کې (۳۰۰) ښوونځي جوړ شول.
- ✓ په دې دوره کې د دولت په چوکاټ کې د معارف یا پوهنې وزارت رامنځ ته شو.
- ✓ د نجونو لپاره عصري مکتب د (مستورات) په نوم د امان الله خان په دوره (۱۲۹۹ل.ل) کال کې جوړ شو.
- ✓ د نادرشاه په دوره کې پوهنتون جوړ شو، لومړی د (دارالفنون) په نوم د لوړو زده کړو دیوې مؤسیسې بنسټ کېښودل شو او هلته په ۱۳۱۱ل.ل کال لومړی د طب پوهنځی تاسیس شو.

- ✓ د ظاهر شاه په دوره کې پوهنې ډېر عمومیت پیدا کړ او په کابل پوهنتون کې بېلابېل پوهنځي لکه: د(ساینس، ادبیاتو، انجینری، حقوقو، زراعت او...) رامنځ ته شول. بیا پولتخنیک او د قندهار پوهنتونونه هم په دې دوره کې تاسیس شول.

## اتم تمرین

1) د مغرب په اسمان کې د مشرق ستوري د چا اثر دی؟

۱) دوکتور ترړی　　۲) عبدالرحیم ځدران

۳) ډورن　　۴) عبدالحی حبیبي

2) ډورن له کوم هېواد څخه و؟

۱) هالند　　۲) روسیه　　۳) انګلستان　　۴) المان

3) د ډورن پښتو اثر په نښه کړئ!

۱) پښتو ګرامر　　۲) پښتو کلیات　　۳) پښتو منتخبات　　۴) ګلشن روه

4) پښتو انګرېزي قاموس د چا اثر دی؟

۱) ډورن　　۲) هنري والټر بېليو

۳) راورټي　　۴) ۲ او ۳ سم دي

5) زرغونه کاکړه په کوم کال کې زېږېدلې ده؟

۱) ۷۷۴ل.س　　۲) ۸۸۴ل.س　　۳) ۹۰۳ل.س　　۴) ۱۱۰۲ل.س

6) خیرالبیان د چا اثر دی؟

۱) خوشحال　　۲) رحمان بابا　　۳) شاه محمد　　۴) بایزید روښان

7) خوشحال خان خټک څو کاله عمر درلود؟

۱) ۷۸　　۲) ۹۰　　۳) ۸۰　　۴) ۵۲

8) دنیا دار که مستغني په سم و زر دی　　هنر مندو لره ګنج د خپل هنر دی

پورته بیت د کوم شاعر دی؟

۱) سکندرخټک　　۲) رحمان بابا　　۳) حمید مومند　　۴) بي بي حلیمه

9) قصیده برده د چا اثر دی؟

۱) سکندرخان　　۲) خوشحال خان　　۳) حمید مومند　　۴) عبدالقادر خان

10) د حلیمه خټک ورور په نښه کړئ!

۱) سکندر خان　　۲) عبدالقادر خان　　۳) ۱ او ۲ سم دي　　۴) هېڅ یو

11) جنت نامه د چا اثر دی؟

۱) سکندر خان　　۲) پیر محمد کاکړ　　۳) کاظم شیدا　　۴) هېڅ یو

12) عبدالحی حبیبي په کوم کال کې زېږېدلی دی؟

۱) ۱۲۹۸ل.ل　　۲) ۱۲۹۹ل.ل　　۳) ۱۳۶۳ل.ل　　۴) ۱۲۸۹ل.ل

13) پادشاه خان په کوم کال کې لومړی مدرسه د عبدالعزیزخان په مرسته جوړه کړه؟

۱) ۱۸۹۰ز ۲)۱۹۱۰ز ۳) ۱۹۲۱ز ۴) ۱۹۲۹ز

14) د امیر حمزه شینواري نثري اثر په نښه کړئ؟

۱) د خیبر ورمې ۲) پرېوني ۳) نوې پښتو ۴) ټول سم دي

15) سیني کولیت د کوم هېواد دی؟

۱) جرمنی ۲) فرانسې ۳) روسیې ۴) انګلستان

16) یاد و فریاد د چا اثر دی؟

۱) شمس الدین مجروح ۲) امیر حمزه

۳) کاظم شیدا ۴) مولوي محمد صالح

17) د پوهاند عبدالشکور رشاد اثر په نښه کړئ!

۱) لودي پښتانه ۲) د خمکنو میا عمر ۳) پاني پت قهرمان ۴) ټول سم دي

18) د مېړمن پلار څه نومېده؟

۱) عبدالله ۲) عبدالغفار ۳) حضرت شاه ۴) هېڅ یو

19) دا زموږ زیبا وطن دا زموږ لیلا وطن

پورته بیت د کوم شاعر دی؟

۱) محمد امین ۲) شمس الدین ۳) ملنګ جان ۴) ټول سم دي

20) لوړ خیالونه د چا اثر دی؟

۱) یونس خیبري ۲) ګل پاچاه الفت ۳) رښتین ۴) شمس الدین کاکړ

21) دپښتو منتخبات کتاب لیکوال څوک دی؟

1) داروین 2) افضل رضا 3) کاظم خان شیدا 4) ډورن

22) پښتو منتخبات لومړی ځل لپاره په کوم ځای کې ځاپ شوی دی؟

1) روسیه 2) هند 3) فرانسه 4) کابل

23) ډورن په کوم کال کې مړ شوی دی؟

1) 1882 2) 1886 2) 1881 4) 1885

24) د ډورن پوره نوم څه دی؟

1) بوریس اندر ییویچ ډورن 2) هنري والتر بیلیو

3) 1 او 2 سم دي 4) هیڅ یو

25) ډورن په کوم کال په جرمني کې زیږیدلی دی؟

1) 1805 م 2) 1806م 3) 1807 م 4) 1810 م

26) راورټي په کوم کال په انګلستان کې زیږیدلی دی؟

1) 1835 م 2) 1827 م 3) 1825 م 4) 1826 م

27) پښتو ګرامر – پښتو انګریزي فرهنګ – انګریزي پښتو فرهنګ د چا اثار دي؟
1) ډورن 2) هنري والټر 3) راورټي 4) هيڅ يو

28) ګلشن روه – قصې د اېسپ حکيم دچا اثار دي؟
1) جورج راورټي 2) هنري والټر 3) ډورن 4) ګل پاچا الفت

29) راورټي په کوم کې مړ شوی دی؟
1) 1907 م 2) 1910 م 3) 1905 م 4) 1906 م

30) جيمز ډارمسټېټر په کوم کال په فرانسه کې زيږيدلی دی؟
1) 1849 م 2) 1859 م 3) 1869 م 4) 1879 م

31) پښتو خيږني د چا اثر دی؟
1) هنري والټر بيليو 2) ډورن 3) جورج راورټي 4) جيمز ډارمسټېټر

32) (دپښتو نخوا شعر هارو بهار) دچا اثر دی؟
1) هنري والټر بيليو 2) ډورن 3) جيمز ډارمسټېټر 4) جورج راورټي

33) جيمز ډارمسټېټر په کوم کال کې مړ شوی دی؟
1) 1894 م 2) 1895 م 3) 1878م 4) 1897 م

34) هنري والټر بيليو په کوم کال د هند په نصير آباد کې زيږيدلی دی؟
1) 1835 م 2) 1825 م 3) 1834 م 4) 1836 م

35) د پښتو ګرامر لومړی ځل په 1886 م کال په کوم ځای کې چاپ شوی دی؟
1) پاريس 2) لندن 3) ډهلي 4) کابل

36) افغانستان او افغانان (1876 م کال چاپ) د چا اثر دی؟
1) جورج راورټي 2) ډورن 3) هنري والټر بيليو 4) هيڅ يو

37) د افغانستان قومونه (1887 م کال چاپ) دچا اثر دی؟
1) هنري والټر بيليو 2) ډورن 3) داروين 4) جورج راورټي

38) دافغانستان د قوم پيژندني څېړنه (1891 م کال چاپ) دچا اثر دی؟
1) ډورن 2) هنري والټر بيليو 3) جيمز ډارمسټېټر 4) راورټي

39) د (ګلشن روه) کتاب ليکوال څوک دی؟
1) سکندر خان ختک 2) هانري جارج راورټي
دوست محمد خان کامل مومند 4) پوهاند عبدالحی حبيبي

40) د امبالې په کنفرانس کې چا د اميرشيرعلي خان د پښتو وينا انګريزي ژباړه وکړه؟
1) ډورن 2) جيمزډار مسټېټر 3) راورټي 4) هنري والټربيليو

د ځوابونه کلی

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 9 | 4 | 17 | 4 | 25 | 1 | 33 | 1 |
| 2 | 4 | 10 | 3 | 18 | 3 | 26 | 3 | 34 | 3 |
| 3 | 3 | 11 | 2 | 19 | 4 | 27 | 3 | 35 | 2 |
| 4 | 4 | 12 | 4 | 20 | 2 | 28 | 1 | 36 | 3 |
| 5 | 2 | 13 | 2 | 21 | 4 | 29 | 4 | 37 | 1 |
| 6 | 4 | 14 | 3 | 22 | 1 | 30 | 1 | 38 | 2 |
| 7 | 1 | 15 | 2 | 23 | 2 | 31 | 4 | 39 | 2 |
| 8 | 2 | 16 | 1 | 24 | 1 | 32 | 3 | 40 | 4 |

| لغت | مانا | متضاد |
|---|---|---|
| ابتذال | بې ارزښته، تکراري، سولېدلی | نوی |
| اپریشن | عملیات | |
| اتل | قهرمان،بریالی،زړور،تکړه،غیرتمن، | ډارن |
| اتلولي | قهرماني | ډارنتوب |
| آثار | نښې، لیکنې، تالیفات | بې نښې |
| احسان | نیکي، ښېګڼه | بدي |
| اخته | معتاد، روږدی | |
| ادب | د اخلاقو منلي اصول. | بې ادبي |
| ارادت | له درناوي سره یوځای مینه، قصد | بې ارادته |
| ارزښت | ارزش، ورتیا | وړیا |
| ارکسترا | ډلییزه موسیقي | |
| ارواښاد | شادروان، مرحوم | ژوندی |
| آزموینه | امتحان | |
| استازی | نماینده | مؤکل |
| استعاره | د مجاز یو ډول | |
| انګړ | حویلی | کور |
| انځور | تصویر | |
| اوډون | ترتیب | بې ترتیبه |
| اوبدل | بافت | شکول |
| اوونۍ | هفته | |
| روږدی | معتاد | |
| اټکل | تخمین | دقیقه وینا |
| اړ | محتاج، شرط | نا اړ |
| اړباسل | محتاجول | نه اړ کول |
| اړتیا | ضرورت، احتیاج | بسیا |
| اړخ | خنګ، پلو، پهلو | مخ، سر |
| اړین | ضروري | غیرې ضروري |
| ایکۍ | پیسه،د کابلۍ روپۍ شپیتمه برخه | |
| ایلچي | قاصد، خبر رسان | رقیب |

| | | |
|---|---|---|
| ایله کېدل | خلاصېدل، خوشې کېدل | بندېدل |
| آیین | قانون،لار، مسلک، دین، عقیده | خپل سري |
| ارزول | ازمویل، ارزیابي کول. | نه ارزول |
| اړباسي | محتاجوي، مجبوروي | نه اړباسي |
| اړودوړ | ګډوډي، کړکېچ، امنیتي نا سمی | سمون |
| اړونده | مربوطه | نااړوند |
| اړه | ارتباط،احتیاج | نا اړه |
| اخوت | وروري | |
| اشر | ګډ کار | ځانګړی کار |
| آشیا | شیان، څیزونه | هېڅ شی |
| اعتیاد | عادتېدل، روږدیکېدل | نه عادتېدل |
| ابدات | تاریخي ودانۍ | |
| اعتراض | نیوکه، ګوتنیونه | منل، منښت |
| اعجاز | هغه کار چې بل څوک ورڅخه عاجز وي | اوړدوال |
| اغېزناکه | مؤثره، ګټوره | بې اغېزې |
| افضل | غوره، بهتر | ناسم، بد |
| افراط | ډېروالی، له اندازې زیات | تفریط، کم والی |
| امینان | امانت ګران، امانت ساتونکی | خیانتګر |
| امتیاز | توپیر، غوره والی | مساوي، یوشان |
| انتبا | پند، ورم، خبرېدل | کنځل |
| الهام | زړه ته لوېدل | جادو |
| اترنګ | یو ډول نکریزې | |
| اتلان | قهرمانان | داړن |
| اړیستل | مجبورول | نه اړیستل |
| اړیکي | ارتباطات | پرېکون |
| استوګن | اوسېدونکی، اوسېدونکي | مهاجر |
| اشجار | ونې | |
| اعزاز | عزت، لوړوالی | مبتذل |
| اوډنه | تدوین او تنظیم | ناسم |
| اوسمهال | اوس وخت | تېرمهال |
| اوونیزه | هفته نامه | |
| آز | **حرص** | |

| | | |
|---|---|---|
| آغلی | **ښکلی** | |
| استخراج | **راویستل**، راوتل، خارجېدل | پټ کول |
| اشلوک | شعر، نظم | نثر |
| اوربلکی | اورلګید | |
| اوره | وریځ | |
| ایواد | هیواد | |
| ایلایي | اطاعت | |
| انتصابي | نومول شوی، انتخابي نه وي | |
| ابهام | پېچلتیا، ناڅرګندتیا | څرګندتیا |
| اجل | د ژوند پای، د مړینې مهال، مرګ | د ژوند پیل |
| احاطه | د یو شي شاوخوا، پر یو شي لاسبری | |
| اسرار | پټ شیان | څرګند شیان |
| افق | د آسمان غاړه | |
| اند | فکر | بې فکره |
| انګیرل | په پام کې نیول | پام نه کول |
| اوره | اوربښت | |
| اوکوب | برم، جلال | |
| اوځار | روښانه، څرګند | |
| ایاز | خوځنده، سړه هوا، نسیم | |
| ایډیالوژي | ټولنیز درېځ | |
| اختناق | خپه کول، د تنفس بندول | |
| اطلس | یو ډول ورېښمینه ټوټه | |
| الم | درد | |
| اوتر | وارخطا، پرېشان | |
| اوجاړ | خراب، ویجاړ | جوړ، سم |
| ابدا | تل، دایم، ښکاره کول | |
| اروایي | روحي | جسمي، فزیکي |
| اودمو | چاره، علاج | |
| انحطاط | ځوړ والی، تباهي، پستي | |
| **ب** | | |
| بچ | خلاص، ساتل شوی | ښکېل |

| | | |
|---|---|---|
| بخڅه | کځوره | |
| بدلون | تغییر، تحول | نه بدلېدل |
| برید | حمله، سرحد، پولې، اندازه | بې بریده |
| بریښېده | ځلاند، معلوم، څرګندېدل | تیاره |
| بشپړ | مکمل، ټول | نیمګړی |
| بقا | پایښت | لنډون، بې بقا |
| بل | نور | بس |
| بل | لړېدلی اور، اپروخته | مړ |
| بلاغت | انتها او رسېدل | پاتې |
| بلیغ | سوچه، رڼه وینا | نابلیغه |
| بنسټ | تهداب، بیخ | سر |
| بهیر | جریان، روند | تم، درېدلی |
| بوخت | مصروف | بې کاره |
| بوختیاوې | مصروفیتونه | بې کاری |
| بولله | قصیده | |
| بوډا | زوړ، پیر | ځوان |
| بډای | شمتن، غني | غریب، فقیر |
| بډآیې | شتمني، دارایې | غریبي، فقر |
| بڼه | شکل، څېره، ډول | |
| بیاځلې | تکراري، دوهم وار | یو ځلې |
| بېلګه | مثال، نمونه | |
| بیړه | عجله، تلوار | حوصله، په کراره |
| بډاینه | غنامندي، شتمني | نېستي |
| برخلیک | سرنوشت | |
| برخمنه | څښتنه | بې برخې |
| بلنه | دعوت | نابلنه |
| بنسټونه | اساسات | |
| بڼ | باغ | دوزخ |
| بوقلمونه | رنګارنګ | یو رنګه |
| بهرنی | خارجي، بېروني | دېننی |
| بدیع | **نوی پیداکوونکی، خلق کوونکی** | پخوانی |
| باب | **فصل، څپرکی** | |

| | | |
|---|---|---|
| بصیرت | بینایي، پوهه | تیاره |
| بامم | پالم، روزنه | نه پالم |
| بدرقه | ملګرتیا، مشایعت | دښمني |
| بزم | د خوښۍ او میلمستیا جشن | رزم |
| بوره | زوی مړي، هغه ښځه چې زوی یې مړ وي | |
| باري | د خدای نوم، خالق، پیدا کوونکی | مخلوق |
| بدعت | په دین کې یو نوی شی راوړل | |
| باتلی | بوتللی، وړی | |
| باندېه | کلی، قریه | ښار |
| بخره | برخه | ټول |
| بربنډ | لوڅ | پټ |
| برهم | ویجاړ، خراب | جوړ، سم |
| بلوسي | تیری، تجاوز | |
| باجره | یو ډول داني دي چې ډوډۍ تري پخوي | |
| بال | وزر | |
| بجلی ګر | د بریښنا مسوول | |
| بدوی | لومړنی، ابتدایي، وحشي | |
| بربڼ | لوړ باغ | وروستی |
| بردمه | بالکل، مالامال | |
| برمل | ماسپښین | |
| بریځر | غرمه | ځاښت مهال |
| بمبڼ | د هندوانو روحاني مشر | |
| بودتون | بتخانه، بتکده | |
| بورجل | اقامت ګاه، سنګر، مسکن | |
| بټ بېدیا | توده صحرا، تود بیابان | |
| **پ** | | |
| پالنه | ساتنه، روزل | درد |
| پام | توجه | |
| پاړوګر | دمګر، هوډګر | نه پالل |

| | | |
|---|---|---|
| پایله | نتیجه | بې پامه |
| پایښت | بقا | عُمې |
| پت | عزت | ناپایلې |
| پرانستل | خلاصول، افتتاح | بې بقا |
| پرتله | مقایسه | بې پته |
| پرته | غیر، بدون | تړل |
| پرېکړه | فیصله، تصمیم | بې پرتلې |
| پلاټ | د کیسې یا ډرامې لومړی ترحه | یوځاَی |
| پلن | هوار، عرضدار | بې پرېکړې |
| پنځ | طبیعت | |
| پنځېدل | زېږېدل، تخلیق | اوږد، گرد، اوچت او… |
| پنډ | غټ، بار | مصنوعې |
| په گوته کول | ښودل | نه پنځېدل |
| په خبر | په شان، په خبر | کوچنی، تش، خالي |
| پور | قرض، دین | نه په گوته کول |
| پوړکی | قشر | بې ډوله |
| پوړی | درجه، زینه | |
| پیر | مرشد | |
| پېر | دوره | |
| پړه | ملامتې | |
| پړاو | دوره، مرحله | |
| پړی | رسی | |
| پړې | جسد، جسم | |
| پیاوړتیا | غښتلتیا، قوت، ځواک | |
| پېژندنه | معرفت | |
| پیلامه | شروع، پیل | کمزورې |
| پیيل | گنډل، دوختن | نه پېژندنه |
| پاځون | غورځنگ، انقلاب | آخر، پای |
| پخځه | د ختو د دېوال ردہ | شکول |
| پوړ | مرتبه، مقام | امن |
| پلا | ځل، وار | |
| پلې | پیاده، په لار اچونه | |

| | | |
|---|---|---|
| پل | قدم، نقش پا | |
| پیاوړی | قوي | ناپلی |
| پېرزوینه | لورینه | |
| پیوستون | یوځای کېدل | کمزوری |
| پانګه | مال، شتمني | نا پېرزوینه |
| پرمختګ | ترقي | نا پیسوته |
| پرېښتي | ملایکي | |
| پسولل | سنګارول | روسته تګ |
| پلازمینه | پایتخت | |
| پلوي | طرفدار | |
| پیرو پلور | خریدو پروش، اخیستل خرڅول | |
| پلورل | خرڅول، پروختن | ناپلوي |
| پلویان | طرفداران | |
| پامور | د پام وړ، د پاملرنې وړ | بې پامه |
| پلوخه | مو، بته | |
| پوکړونه | پوکول، پوف کول، دمول | |
| پیودل | پیبل، منظم کول | ناسم کول |
| پیخ | زغم، صبر، نیمګړتیا، عیب | بشپړه |
| پاڼې | د شونډو د سره کولو پاڼه | |
| پرتمین | شکوهمند | |
| پرتو | شعاع، وړانګه | |
| پرګنه | ولس، خلک | |
| پلازونه | پلاز، پایتخت | |
| پاسوال | ساتونکی، پادشاه | |
| پاړکی | د شعر قطعه | |
| **ت** | | |
| تاړاک | چورچپاول | امن |
| تبرک | برکت | بې برکته |
| تحقیق | څېړنه | |
| تخلیق | پنځول، خلقول | |
| تګلاره | پالیسي، ترزالعمل | |

| | | |
|---|---|---|
| تلپاتي | همېشنی | ناپاتي |
| تم | ځنډ | ژر |
| تمه | هيله | |
| تندی | پېشاني، تنده | |
| التهاب | پړسوب | پوچ |
| توکی | ماده، څيز، شی | هېڅ شی |
| ټوکه | مزاح، فکاهي | رېښتيا |
| تړاو | مربوط | |
| ترخ | جريان، زمن | |
| تل | همېش | |
| تهديد | ګواښ، کوتځنډنه | ملاتړ |
| تيکی | د توري پوښ | |
| تصديعه | زحمت، تکليف | راحت |
| تملق | چاپلوسي | |
| توکم | اصل، قوم، نصب | |
| تېرمهال | تېر وخت | اوسمهال |
| تانی | حوصله، دقت | بې حوصله |
| ترېته | وارخطا، هک، حيران | |
| ترمل | ماښام | |
| تل | ژورې، عمق | |
| تمهيد | مقدمه، سريزه | |
| تيرون | تېرېدل، ګذر | نه تېرېدل |
| تتبع | څېړنه | |
| تربګني | دښمني | دوستي |
| تروږمی | تپه تياره | روښنايي |
| توينه | تويېدل، تويول | نه تويول |
| تحت الثری | د ځمکې تل | د ځمکې باندې |
| ترپله | تېښته | |
| تړله | د تره لور | |
| ترنم | زمزمه، د شعر ويل آواز، نغمه | |
| تعبير | معنا | متضاد |
| تلطف | مهرباني، خوش رفتاري | بد رفتاري |

| | | |
|---|---|---|
| تور | تور رنګ، تهمت، تريدل | |
| تورن | تهمتي | |
| ترپلل | تښتېدل، ځغاستل | نه تښتېدل |
| تلفيق | د دوه يا څو څيزونو يو له بل سره ترتيب ورکول او منظم کول | نا مرتبه کول |
| تمرد | مقاومت، د چا پر وړاندې درېدل | منل |
| ټ | | |
| ټينګار | تاکيد، اسرار | |
| ټاټوبی | اصلي ځای، هېواد | |
| ټوکېدل | زرغونېدل | نه ټوکېدل |
| ټولګيوال | همصنفي | |
| ټولګه | مجموعه | |
| ټولګی | صنف | |
| ټاکلی | انتخاب شوی | |
| ټپ | زخم | |
| ټپي | زخمي | جوړ |
| ټيټ | لاندې | اوچت، جګ |
| ټکني | سست، ورسته | تېز |
| ټولنيز | اجتماعي | ځاني |
| ټبر | قوم، ولس | |
| ټکنده غرمه | غرمه: پوره غرمه | |
| ټکنی | ځنډنی، ترسيده | تېز، سرعتي |
| ټال | ځنډ، ځنډېدل | |
| ټولنپوهنه | جامعه شناسي | |
| ټاپی | دوران، وخت، مهال | |
| ټوټکي | شګون، جادو | |
| ټيک | له سرو څخه جوړه شوي ګانه چې په تندي راځړېږي | |
| ث | | |
| ثقافت | فرهنګ، کلتور | |
| ثمين | ګران بيه، قيمتي، ارزښتمن | بې ارزښته |

| | | |
|---|---|---|
| ثنا | دعا، ستاینه، درود، حمد | بد ویل |
| **ج** | | |
| جاګیر | ځمکه، ملکیت | |
| جدل | جنګ، مشاجره | سوله |
| جرس | ګینګرۍ، زنګوله | |
| جزم | محکم، استوار، نه تغیریدونکی | سست، تغیریدونکی |
| جګي جګي | هیله کول، کاشکي | |
| جاج | سوچ، فکر | |
| جبلی | غرنی، طبیعي | مصنوعي |
| جرړي | ریښې، بیخونه | سر، ښاخ |
| جندن | جګه ونه | |
| جنډی | ګل | |
| جیل | زندان | |
| جاندم | دوزخ | بهشت |
| جوپه | کاروان | |
| جوخت | پیوسته، نښتی | جلا |
| جیفه | د غوښې ټوټه (باسي) | |
| جوت | معلوم | ناجوت |
| جوړښت | ساخت | |
| جلا | بېل | یوځای |
| جوسه | قواره، څېره | |
| جمال | ښایست | بدرنګ |
| جوهر | قیمتي ډبره | |
| جلاوطنه | مسافر، له هیواد لرې | په وطن |
| جګړه | جنګ | سوله |
| جلاد | مامور | |
| جونګی | د اوښ بچی | اوښ |
| جرګه مار | مرکچي | عُمي |
| جود | سخا | تنګلاسي |
| جلباب | څادر، پړونی، کمزوري | |
| **چ** | | |
| چشتیه | **یوه تصوفي طریقه ده** | |

174

| | | |
|---|---|---|
| چم | **کلی، کوڅه، چل** | ښار |
| چوپړ | **خدمت** | |
| چنډۍ | **شاعر** | |
| چوڼۍ | **بلبل** | |
| چیتر | **د چیتر میاشت، د پسرلي باراني میاشت** | |
| چټلي | مرداري، ناپاکي | پاکي |
| چلند | سلوک | |
| چپاو | یرغل، حمله | |
| چور | تالا، چپاو | |
| چار | کار | |
| چاپېریال | محیط | |
| چارواکي | د واک او صلاحیت خاوند | |
| چمتو | اماده | |
| چمتوالی | امادګي | |
| چاري | کارونه | |
| **ځ** | | |
| ځان تېرېدنه | سرښندنه، ایثار | |
| ځېبښاک | استثمار | |
| ځغلا | ځغاستل | |
| ځور | آزارول | |
| ځوړ | ښکته | پورته |
| ځېل | ډول، قسم | |
| ځېر | غور، دقت | بې غوره |
| ځواک | قدرت | کمزوري |
| ځانګړنه | خصوصیت | |
| ځیرک | هوښیار | تیاره |
| ځغرده | زړورتیا | |
| ځوړوالی | مخ ښکته | پورته والی |
| ځلاند | روښان | تیاره |
| **خ** | | |

| | | |
|---|---|---|
| څاڅکی | قطره | ټول |
| څنګ | اړخ، پهلو | مخ، شا او... |
| څېرمه | څنګ ته | مخ ته او... |
| څاښت | نیمه غرمه | |
| څارنه | مراقبت، څار | |
| څومره والی | کمیت، اندازه | |
| څرنګوالی | کیفیت | |
| څېړنې | تحقیقات | |
| څښتن | خاوند، صاحب | |
| څېر | غوندې، ورته | |
| څرګندونې | ښې نښانې | |
| څېړنیز | تحقیقي | |
| څېړونکی | محقق | |
| څپان | څپاند، مواج، څپه لرونکی | |
| څکول | کشول، کشیدن | |
| څنډونه | څنډه، افق، کناره | |
| ح | | |
| حبیب | دوست، ملګری | دوښمن |
| حیرت | حیراني | |
| حب | مینه | |
| حایل | پرده | |
| حاذق | هوښیار، تکړه | لیونی |
| حباب | د اوبو په سر فوقانی | |
| حلقه | کړۍ | |
| حریت | آزادي | غلامي |
| حساس | ارزښت لرونکی | بې ارزښته |
| حسرت | افسوس | ویاړل |
| حصار | دیوال\ دیوار | |
| حمد | ثنا او ستاینه | غندنه |
| حیثیت | ټولنیز ارزښت یاني عزت | بې حیثیته |
| حاوي | چاپیر | آزاد |
| حوض | ډنډ | سیند |

| | | |
|---|---|---|
| خ | | |
| خدنګ | تیر، نیزه | |
| خروش | چیغه، کریکه | |
| خول | تاج، افسر، خولۍ | |
| خپسر | ځان، خپل ځان، خپلسر | |
| ختي | لباس، کمیس | |
| خدم | خادم، خدمتګار | |
| خوړ | د سیلاب د راوتلو لار | |
| خلعت | هغه لباس چې ناوې زوم ته ورکوي | |
| خس | لرګي، خاشاک | |
| خاپوړي | چارغوک | |
| خوږ | شیرین، درد | تریخ |
| خړوب | سیراب، اوبه کول | وچ، بې اوبو |
| خاتمت | پای، تماميدل | پیل |
| خاورین | ختین، له خاورو جوړ، کلالي | |
| خام | اومه، نا پوخته | پوخ |
| خامخا | هرومرو | |
| خبریال | د خبرو لوستوال | |
| خبرې اترې | محاوره | |
| خشمیدل | قهرېدل، غوسه کېدل. | خندل |
| خمیرصندل | د قندهار یو ډول شیرني ده | |
| خواجه | خاوند، بادار | |
| خواخوږی | همدردي | بې غمي |
| خوار | عاجز | قدرتمن |
| خوسا | خراب، له منځه تلل، ګنده | جوړ، پاک، سم |
| خوله خوځول | اعتراف کول | |
| خوله اچول | ښکنځل، ناحقه خبر | پند، څه نه ویل |
| خوږ | شیرین | تریخ |
| خلیفه | ځای ناستی | |
| خار | زغی | ګل |
| خیام | خیمه | کوټه |

| | | |
|---|---|---|
| خوندي | په امن، محفوظ | ناامنه |
| خوځښت | نهضت، حرکت، غورځنگ | |
| **د** | | |
| دد | داړونکی حیوان | |
| دربېله | تیاره | |
| دروه | دروغ، فریب | رښتیا |
| دم | ساه | بې ساه |
| دمن | د غرولمن، د دښتې پراخوالی | غر |
| دون | پست، ټیټ، ناڅیزه | جگ |
| دښن | دښمن | ملگری، دوست |
| دغه بازي | فریب کول، مکر کول | |
| دیت | خونبها | |
| درنگ | کان، معدن | |
| دیوات | مشوانۍ | |
| دام | د الوتونکو د نیولو وسیله | |
| درسته | ټوله | نیمه |
| درمل | دارو، دوا | زهر |
| درملتون | دواخانه | |
| درناوی | درنښت، احترام | سپکاوی |
| دریځ | ممبر، مقام، موقف | بې دریځه |
| دنده | وظیفه | |
| دود | رواج | نادوده |
| دودیز | رواجي | نادوده |
| دور | مهال، وخت، زمان | |
| **ذ** | | |
| ذقن | زنه، زناق | |
| ذاتي | اصلي | غیر اصلي |
| ذلت | خواري، شرمندگي | و یاړل |
| **ر** | | |
| رابيا | راگرځول، بېرته تر لاسه کول | |
| رامشت | طرب، ساز او سرود | |
| رامشتگر | مطرب، سازی | |

| | | |
|---|---|---|
| رپي | بیرغ، جنډه | |
| رسن | دار و رسن | |
| رندانه | مستانه | |
| رکیبۍ | غاب | |
| رندي | زیرکي، بې پروایي | |
| روڼلی | روښول | |
| رویدار | مخور | |
| رجا | ویره، امیدواري | |
| رغبت | میل، آرزو | |
| روضه | مقبره، هدیره، قبر | |
| رقت | زړه سوی او مهرباني | |
| | | |
| رغونه | جوړونه، ابادول | ورانول |
| رعیت | د حکومت تابع ولس | یاغي |
| رغنده | روغ، سم | مخریب |
| رکن | جز | |
| روغ | جوړ، صحتمند | ناروغ |
| روغبړ | احوال پرسي | |
| ریبي | لوکول، پرې کول | نه ریبي |
| روڼاند | روښن فکره | عُمي |
| روښان | روښن | تیاره |
| رتلی | شرلی | بللی |
| رینښتینولي | صداقت | تګي |
| روغتون | شفاخانه | |
| روغتیا | صحتمندي | ناروغتیا، ناروغي |
| روټۍ | ډوډۍ | |
| راز | پټه خبره | ښکاره خبر |
| راشه درشه | تګ راتګ، رفت و آمد | پرېکون |
| ربړه | ستونزه | سمون، امن، سوله |
| ز | | |
| زاید | اضافه، سرباري، ډېر زیات | ډېر لږ |

| | | |
|---|---|---|
| زغل | زغستل، منډه وهل | |
| زلما | ځواني، زلميتوب | پيري |
| زنار | رسۍ | |
| زايل | له منځه تلونکی | |
| زرغا | زرغون، شين والی | |
| ژيړ | نارنجي رنګ ته وايي | |
| زل | منحرف کېدل | |
| زهيره | ناتوانه، کمزورې، غمجن | پياوړې |
| زيارنه | کوښښ، زحمت | |
| زړن | زړور، شجاع، دلاور | ترسو |
| زنګي | زنګ وهلی، تور | |
| زړور | دلاور | بزدله |
| زارېدل | قربانېدل | نه زارېدل |
| زانګو | ګهواره | |
| زپل | ازار، ازيت | ملاتړکول |
| زده کړه | تعليم، اموزش | |
| زغمل | تحمل کول | نه زغمل |
| زوال | پای، له برم څخه لوېدل | پرمختګ |
| زوکړه | پيدايښت | مړينه |
| زوږ | شور، غالمغال | ارامي، سکون، هوسايي |
| زړه بدی | خفه | خوشحاله |
| زړه سوی | دلسوزي | زړه سختی |
| زړښت | پرسوده | ځواني |
| زيار | زحمت | |
| زېرمه | زخيره | |
| زېور | ګاڼه | |
| زمول | مړاوي | تازه |
| زرغون | شين رنګ، راټوکېدل | نا زرغون |
| زبون | ځپل شوی، کم زوری | توانا، قوي |
| زرينه | طلايي | |
| ژ | | |
| ژوبلور | جنګيالی | |

| | | |
|---|---|---|
| ژانر | فرانسوي کلمه ياني ډول، قسم | |
| ژباړل | ترجمه کول | |
| ژباړه | ترجمه | |
| ژغورل | ساتل، نجات ورکول | نه ژغورل |
| ژمنه | وعده | بې وعدې |
| ژوبله | تلفات، جګړه | جوړښت |
| ژوندود | دود دستور | |
| ژوي | ساکښ، زروح موجود زنده | |
| ژانرونه | ډولونه | |
| **س** | | |
| سالونه | شنبلی، سرمه ریګ | |
| سپند | سپیلنی | |
| ستهان | ستان، ځمکه، سرزمین | |
| سفله | ناپوه، جاهل | پوه |
| سلاست | رواني | پیچلتوب |
| سلنه | فیصدي | پوره |
| سماج | ټولنه | |
| سینګړ | کاږ، سنګلاخ | |
| سایل | سوالګر | |
| سپاړ | د کرنې و سیله، سپاره | |
| سترتوب | ریاست | |
| ستي | سوی، ډېر سوی | |
| سجین | دوزخ، د اور کنده | جنت |
| سرغړوونکي | متجاوز | |
| سعد | نیک | بد |
| سلاکار | سلا ورکوونکی، مشاور | |
| سما | سم، اصلاح | ناسم |
| ساد | سم، رښتیا ویونکی | درواغجن |
| سرو پاي | شال، دستیال | |
| سیمه | منطقه | شین اسمان |
| سحاب | وریځ | شمال |

| | | |
|---|---|---|
| سهیل | جنوب | دمه |
| ساوتیګا | خسته | بې سارى |
| سارى | همتا، ماند | |
| سالو وږمه | نسیم رګستان | |
| سپاربښتنه | سپارش | تاوول |
| سپړل | په دقت سره جداکول | |
| سپېڅلی | مقدس | غندنه |
| ستاینه | توصیف | غندل |
| ستایل | صفت کول | وړه |
| ستره | لویه، غټه | |
| سجعه | په نثر کې هماهنګي | |
| سرلیک | مقدمه، عنوان | ښوونکی |
| سرښوونکی | سرمعلم | ناارام |
| سکون | ارام | تم |
| سلسله | جریان | ناسمبال |
| سمبال | برابر، مجهز | ناسمه |
| سمه | اصلاح | ناارامي |
| سوکالي | ارامي | سر |
| سېته | بیخ،تهداب | بې سیاله |
| سیال | سارى، رقیب | |
| سیلاني | ګرځندوی | ناکامی |
| سوبې | فتحې | |
| سیما | څېره | |
| **ښ** | | |
| ښندو | نثارول، بخششول | |
| ښځمنو | ښځینه وو، مېرمنو | |
| ښکې | ښکته، کوز، لر | |
| ښکلا | زیبایي، ښایست | بدرنګي |
| ښکلاوي | ښایستونه | بدرنګی |
| ښه راغلاست | خوش امدید | |
| ښېګڼه | احسان | بدي |
| ښکېل | نښتی | خلاص |

| | | |
|---|---|---|
| ښکېلېدل | نښتل | خلاصېدل |
| ښندي | قرباني | نه ښندي |
| ښادمن | خوشحال | خفه |
| ښکېلاک | استعمار | آزادي |
| **ش** | | |
| شاخ | ښاخ | |
| شها(شهی) | معشوقه | عاشق |
| شڼ(شڼا) | مست، مستي | |
| شئونات | اړخونه، جنبې | |
| شنار | شوم، نامبارک، ننګ او عار | مبارک |
| شهزی | د پاچا لور | |
| شواخون | غم، رنځ، تکلیف | |
| شخړه | لانجه، ستونزه | سوله |
| شان | مثل، مانند | بې شانه |
| شاوخوا | اطراف | منځ |
| شهکار | ډېر ښه کار | ډېر بدکار |
| شونتیا | ممکن | ناممکن، ناشونی |
| شونډه | لب | |
| شوني | کېدونکی | ناشوني |
| شېبه | لحظه | |
| شکري | خواږه شیان | زهر |
| شومې | ناسمې، نا دودې موخې | روښانه، ریښتنې |
| **ص** | | |
| صم | کوکک، زهر | |
| صیقل | توږل | |
| صحه | تایید، لاسلیک | |
| صادق | ریښتینی | درواغجن |
| صدری | واسکټ | |
| صراحت | څرګندتیا | ناڅرګندتیا |
| صرف | یوازې | ګډ |
| صرفه | سپما، ګټه | اصراف |

| | | |
|---|---|---|
| صنعت | جوړېدل، سازېدل | |
| صنم | بت، معشوق ته هم وايي | |
| صوفي | پاک نفسه | عمي |
| صانع | جوړونکی | ورانوونکی |
| **ط** | | |
| طناز | ښکلی، دلربا | بدرنگ |
| طوق | د غاړې زنځير | |
| طريقت | لاره | |
| طرز | طريقه، روش | |
| **ظ** | | |
| ظرف | لوښی | |
| ظلام | تياره، تورتم | روښنايي |
| **ع** | | |
| عشور | لسمه | |
| عصيان | نافرماني، سرغړونه، شورش | اطاعت |
| على الدوام | پر له پسي، دوامدار | |
| عبقريت | پياوړتيا | |
| عسس | څوکيدار | |
| عارض | عرض کوونکی | |
| عارضي | غيرې اختصاصي | اختصادي، عارض |
| عارف | د خدای پېژندونکی | عمي |
| عاصي | ګناهکار | تواب |
| عرف | رسم و رواج | |
| عظمت | لويي | عاجزي |
| **غ** | | |
| غزال | هوسی | |
| غله | غله جات، داني | |
| غوړول | خپرول، خپرول | |
| غبرګون | ځواب، عکس العمل | |
| غلبلې | چغې، نارې، سورې | |
| غرور | لويي | |
| غبرګ | ورتاوول | يوستوی |

| | | |
|---|---|---|
| غبرګون | عکس العمل | اتفاق، منل، سمون |
| غچ | انتقام | بښتل |
| غليمان | دوښمنان | دوستان، ملګري |
| غندنه | بد ويل | ستاينه |
| غور | دقت، فکر کول | بې غوره |
| غورځنګ | نهضت، ګوند | |
| غوسه | قهر | خوښ، خوشحاله |
| غړمبېده | په قهر غړېدل | خندل |
| غورچاڼ | منتخب | ټول |
| **ف** | | |
| فطرت | ذاتي | |
| فصاحت | د وينا رواني | بې فصاحته |
| فقير | بې وسعې | شمتن |
| فلک | آسمان | ځمکه |
| فورم | شکل، ډول | |
| **ق** | | |
| قابل | منونکی | ناقابل |
| قاتل | وژونکی | ژغورونکی |
| قاچاق | نا قانونه وړل | قانوني |
| قاصر | لټي، عيب | |
| قالب | چوکاټ | |
| قاموس | د يوې ژبې د لغتونو کتاب، سيند | |
| قد | ونه | |
| قدرت | توان، وس، واک | کمزوري |
| قديم | پخوانی | اوسنی |
| قصاص | هم مثله سزا ورکول | |
| قيامت | محشر، روستۍ ورځ | |
| قيمت | بيعه | |
| قلندر | درويش | عمي |
| قدام | پلونه، قدمونه | |
| قشر | طبقه | |

| ک | | |
|---|---|---|
| کابینه | د وزیرانو شورا | |
| کارنامې | ستر کارونه | |
| کرونده | زراعت | |
| کیف | اغېز، خوند | بې کیفه |
| کبان | ماهیان | |
| کرامت | عزت، بزرګي | بې عزته، بې پته |
| کرکیله | دهقاني | |
| کړاو | تکلیف | راحت، اسانتیا |
| کلاسیک | غوره، پخوانی | اوسنی، معاصر |
| کوهستان | غرنی سیمه | هواره سیمه |
| کارول | استعمالول | نه کارول |
| کاشکې | ارمان افسوس | |
| کاکا | تره | |
| کامل | بشپړ | ناکامل |
| کانون | ټولنه | |
| کبرجن | متکبر، مغرور | عاجز |
| کتابتون | کتابخانه | |
| کچه | اندازه | بې کچې |
| کرېکټر | ډول، د لوبغاړي ډول | |
| کلیوالي | دهاتي | ښاري |
| کره | پوره، بشپړ، مکمل | ناکره |
| کره کتنه | نقد | |
| کرهڼه | زراعت | |
| کروړ | محکم | سست |
| کشف | لاسته راوړنه | |
| کله | څه وخت | |
| کلی | قریه | ښار |
| کلیات | مجموعه | |
| کلیوال | مرد دهاتي | ښاري |
| کمېډي | خندنی ډرامه | |
| کنایه | پټه خبر | ښکاره/صریحه وینا |

| | | |
|---|---|---|
| کنده | تله ترازو | |
| کنډواله | ویرانه | ودانی |
| کوثر | د جنت یوه چینه | |
| کوچنی | طفل | ځوان، ستر، غټ |
| کورنی | خانواده | |
| کوشیر | پیوند، پترۍ | |
| کومیډیکه | خندنی | |
| کټ مټ | عینن | |
| کڅوړه | خریته/خریطه | |
| کړن لاره | دستورالعمل | |
| کړنه | عمل، کردار | |
| کګلیچونه | ګچ ګردیشي، پیچومي | |
| کنبل | لیکل | |
| **ګ** | | |
| ګاالل | منل، تحمل | نه ګاالل |
| ګنه ګونه | بیروبار | ارامي |
| ګمارل | موازیب کول/ګماشتن | |
| ګرویږنه | پوښتنه | |
| ګړنګ | ژور ځای، کنده | |
| ګانده | آینده | اوس |
| ګاونډ | همسایه | کورواالا |
| ګاڼه | زېورات | |
| ګران | مشکل، بها، قیمت | ناګران |
| ګرانښت | قیمتي، ګراني | |
| ګهیځ | سهار | وریا |
| ګواښ | اخطار، تهدید، هڅدار | ماښام |
| ګور | قبر، لحد | منل |
| ګوګل | قفس سینه، پښتی | کور |
| ګوند | حزب، جنبه، نهضت | |
| ګوندي | شاید، به احتمال | |
| ګوهر | ملغلره | |

| | | |
|---|---|---|
| ګټور | مفید، ارزښتمن | بې ګټې |
| ګڼ | ډېر، زیات شمېر | کله ناکله |
| ګڼه | شماره | |
| ګڼل | شمردن، قیاسول | |
| ګېډه | شکم، بطن | سر |
| **ل** | | |
| لوستی | باسواده | نالوستی |
| لارښود | رهنما، استاد | |
| لارې چارې | د کارونو د سرته رسولو اصول | |
| لاس اچول | جګړه کول، دست انداختن | |
| لاس کښلې | خطي نسخه، | |
| لاسوند | سند، ثبوت | |
| لامل | علت | |
| لرغونی | پخوانی | اوسنی |
| لمسون | تحریک | |
| لنډیز | اختصار | تفصیل |
| لونل | پاشل | ټولول |
| لوړ | اوچت، پورته، جګ | ټیټ |
| لوڅ | لوچ، برهنه | پټ |
| لوست | درس | |
| لړ | سلسله، جریان | تم |
| لړلیک | فهرست | |
| لیک دود | رسم الخط | |
| لیکه | کرښه، قطار | |
| لېږد | انتقال، وړل | |
| لمریز | شمسي | قمري، سپوږمیز |
| لېچې | مړوندونه بازو | پښې، ورنونه |
| لاسته راوړنه | دست اورد | |
| لورول | پېرزو کول، احسان کول | نه لورول |
| لویه وچه | قاره، براعظم | |
| لوری | طرف، خوا | |
| **م** | | |

| | | |
|---|---|---|
| مشرتابه | مشرتوب | کشرتابه |
| مجاز | روا، جایز | ناروا، ناجایز |
| مخکښ | پېشرو | |
| مخکې | پېش، پخوا، سابق | وروسته |
| مخ کړه | روی اورد | شاکړه |
| مخ ښه | وداع، خدا حافظي | |
| مخینه | سابقه | |
| مرسته | تعاون، کمک | |
| مرستیال | معاون | |
| مرکه | مجلس، مذاکره، جرگه | |
| مسکا | خندا، تبسم | زړا |
| مشران | کلان سالان، سپین ږیري | کشران |
| معاصر | اوسنی | پخوانی، کلاسیک |
| معتاد | روږدی | |
| معمار | جوړونکی | |
| مل | همراه، ملگری | دوښمن |
| منت | احسان | بدي |
| منگ | مقدار، اندازه، کچه | |
| منگول | پنجه يي دست، پنچې | |
| منځنی | متوسط | روستنی، مخکینی |
| مهاجم | حمله گر | يرغمل |
| مهال | وخت، وقت | |
| موخه | هدف، مقصد | |
| مورنۍ | مادري | پلرنۍ |
| موټان | بازو، قوت، مټه | |
| موړ | سېر | وږی |
| مړاوي | پژمرده | تازه، تاند |
| مصلح | اصلاحگر | ورانونکی |
| معینه | ټاکلي | ناټاکلي |
| مفصل | په تفصیل سره | لنډ |
| موهومي | غیرواقعي، ډاروونکی | واقعي، معلوم |

| | | |
|---|---|---|
| مرشد | پیر، لارښود | |
| مسند | څوکۍ، مقام، پوړ | |
| مشاور | سلاکار | |
| مغلق | پېچلی | اسان |
| مړل | موښل، مروړل | |
| مېړانه | غیرت، شجاعت، اتلولي | بزدلي، ډارنتوب |
| ماڼي | ودانۍ، قصر | ګنډواله |
| مزاج | طبع | |
| مستغني | بې نیازه | نیازمن |
| **ن** | | |
| ناتار | تاراج، چورچپاول | ساتل |
| ناخوالې | ناساز | |
| ناروغ | مریض، بیمار | روغ |
| ناوړه | نامناسب | وړ |
| نهضت | غورځنګ | |
| ندرت | کله ناکله | هرکله |
| نغښتل | پېچل | خلاصول |
| نمانځل | تجلیلول، پرستش کردن او... | نه نمانځل |
| نارینه | مردانه | ښځینه |
| ناسوب | غیرحاضر | سوب |
| ناڅاپه | ناګهان، یو دم | |
| نتلی | خوار ځپلی | ځواکمن |
| ناشوني | نه کېدونکی | شوني |
| ناورین | خفګان، غم، بدحالي | خوشحالي |
| نمو | وده | وروسته پاتې |
| ننګ | غیرت | بې ننګ |
| ننګیالی | باغیرته، مېړنی، توریالی | بې ننګه |
| نغوته | اشاره | |
| نامتو | مشهور | |
| نهیلی | نا امیده | هیلمن |
| نور | بل، دیګر | هېڅ، بس |
| نوم ورکی | ګم نام | نومیالی |

| | | |
|---|---|---|
| نوموړی | نام برده | |
| نومیالی | مشهور | |
| نومېدل | مسما شدن | |
| نړېدل | ورانېدل، ویران شدن | خوړېدل |
| نړیوال | جهاني، بین المللي | کورنی |
| نږدې | قریب، لنډ | لیرې |
| نیالګی | نهال | ونه |
| نېکمرغه | خوشبخته، نیکبخته | بدمرغه |
| نیمګړتیا | نقص، کمی، ناتمام | پوروالی |
| نیمګړی | ناقص | پوره |
| نیول | ګرفتن | پرېښودل |
| نېټه | تاریخ | |
| نادودې | ناروا، زورزیاتی | روا |
| نغښتې | پیچلې، مغلق | خلاص |
| نندارتون | نمایشګاه | |
| نتواتې | عضر کول | |
| نچوړ | خلاصه، لنډیز | تفصیل |
| **و** | | |
| وروستنی | اخرنی، اخري | مخکنی |
| ورځپاڼه | روزنامه | |
| وګړي | خلک | |
| ولوله | جذبه، احساس | |
| وراره | وروزمرې | |
| ورته | مشابه | ناورته |
| ورغوی | کف دست | |
| ورکړه | بخشش | اخیستنه |
| ورمونه | نصحتونه | |
| وار | نمبر، نوبت | |
| وچکالي | خشک سالي | اوسالي |
| ودان | آباد | وران |
| ودانول | آبادول | ورانول |

| | | |
|---|---|---|
| وده | رشد، نمو | ناوده |
| وراره | د ورور زوی، برادرزاده | |
| واک | اختیار | بې واک |
| واړه | کوچنیان، ماشومان، اطفال | مشران |
| واکمن | قدرتمن | |
| واکمني | پاچاهي | |
| واړه | ټول، دواړه | یو |
| وړتیا | لیاقت، مهارت | تمبلي |
| وړیا | مفت، مجاني | قیمتي، بها |
| ویاند | نطاق | |
| ویاړنه | افتحاریه | ویرنه |
| واټ | سرک | |
| وعظ | پند، نصحت دیني | |
| وکښه | ولیکه! | مه لیکه! |
| ونډه | سهم، حصه | |
| ویرژلي | ویرمن | خوشحال |
| ویرنه | مرثیه | ویاړنه |
| ورین | پراخ | |
| ورد | ذکر | |
| وینه | خون | |
| وړ | لایق | ناوړ، نالایق |
| هـ | | |
| هیلۍ | مرغابي | |
| هرومرو | خامخا، حتماً | |
| همدا رنګه | همدا ډول، همدا راز، همین قسم | بل راز، بل ډول |
| همځولي | همسال | مشر، کشر |
| هنداره | آیینه | |
| هوساینه | ارامي | ناارامي |
| هیښ | حیران | |
| هټۍ وال | دوکاندار | |
| هټۍ | دوکان | |
| هڅه | کوښښ | تمبلي |

| | | |
|---|---|---|
| هوري | هلته | دوري، دلته |
| **ی** | | |
| یرغل | حمله | ساتل |
| یون | خوځښت، حرکت | درېدل |
| یوالی | اتفاق، اتحاد، همبسته گي | نفاق |
| یون لیکونه | سفرنامه ها | |

**مؤخذونه:**

١ـ باجوړی، بریالی، پښتو لسم ټولگی، دوهمه ژبه، چاپ کال ١٣٩٠هـ.ل
٢ـ انځور، محمدزرین، پښتو یولسم ټولگی، چاپ کال ١٣٩٠هـ.ل
٣ـ اندړ، نعمت الله او سیدمحی الدین هاشمي، پښتو لسم ټولکی، دوهمه ژبه، چاپ کال ١٣٩٠هـ.ل
۴ـ همکار، محمدابراهیم، د بدیع فن او پښتو شاعري، دوهم چاپ، چاپ کال ١٣٨٨غویي
۵ـ حقپال، محمداجان، قافیه پوهنه، چاپ کال ١٣٨٩هـ.ل